PK
6803
A55

Ahmad, Mawlawi
Ganj-i Pashtu

PLEASE DO NOT REMOVE
CARDS OR SLIPS FROM THIS POCKET

UNIVERSITY OF TORONTO LIBRARY

Ganj-i Pashtu

کتاب

گنجِ پښتو

تصنیف دَ مولوِي احمد
ساکن دَ تنګِي تپه دَ هشتنګر

نول کشور پریس دَ لاهور

2866 4

EDITED BY

MAJOR G. ROOS KEPPEL, C. I. E., F. R. G. S., I. S. C.,

PK
6803
A55

LIBRARY
MAR 29 1971
UNIVERSITY OF TORONTO

کتاب گنج پښتو

حکایت اول

په یو ځاي کښ یو عالم وه چه ډیري زړي چیړي ئې ټولي کړي وي او په پګړۍ خپلي کښ ئې نغښتلي وي ظاهره خلقو ته غټه پګړۍ ښکاریدله او په کښ ئې له زړو چیړو نه بل څه نه وو : یو وار په وقت دَ لوي سحر کښ لا تیاره وَه چه مدرسي ته روان شه دَپاره دَدي چه له خلقو نه څه حاصل کا : ناګهانه په لار کښ یو غل ولاړ وه عالم ته ئې لاس وروا چاوه پګړۍ ئې تِر ونښتوله : چه غل څه قدر لاړ شه نو عالم ورته آواز وکړ ویل ئې چه ځوانَ دغه پګړۍ ولټوه که پس له لټولو ئې وړي نو بي شک ئې وړه ما در بخښلي دَه : غل په وړاندِ زغلیده لیکن هغه پګړۍ ئې وسپړووله که څه ګوري یو ګز کپړه په کښ مبتلي شان

وخَتَه نوري ټولي زري چيرږي وي + له قهره يُ هغه گز ټوکړه هم وغورزوله عالم ته يُ ووِ چه خداي دِ خوار کړه زه دِ په دي زړو چيرړو له کارَ وويستلم دومره نه شرميږي چه په داسي ټکي سره دِ زه وغلولم + عالم وېل چه ته ډيره ښه خبره کوي ليکن دا کار ستا په حق کښي لوي نصيحت شه چه ته پوه شي چه دَ دنيا کارونه ټول دَ لباس او دَ ټکيِ دي او چه څوک په دنيا مينه کوِي هم داسي به غليږي +

حکايت دويم

يوه ورځ محمودِ غزنوِي بادشاه دربار ته راوُوت يوه مرغلره يُ په لاس کښي وه + يو وزير له يُ ورکړه ور ته يُ ووِ چه دا مرغلره ستا په فکر کښي دَ څومره قيمت لايقه ده + هغه ووِ چه صاحبَ ځما خو يقين دي چه که په کروړونو روپيُ وِيِ هم د دي مرغلرِي قيمت به ترِ زيات وِيِ + بادشاه ور ته حکمِ وکړ چه باري ماتا يُ کړه + وزير ووِ چه دَ بادشاه له خزانې نه يوه پيسه کيږي نو ځما زړه ورسره کيږوده کيږي بيا داسي مرغلره به څه رنگ ماتومَ + بادشاه ووِ شاباش ته ډير نيکخواه سړي يي نو ښه خلعت يُ وله ورکړ او مرغلره يُ ترِ واخستله +

بیائې یو ساعت سره نور مجلس کاوه ٭ بیا ئې هغه مرغلره یو بل امیر له ورکړله او وېل ئې چه وایه چه څومره قیمت به دا مرغلره لرِي ٭ هغه ووِ چه بادشاهَ مهربانَ ښما په فکر کښې خو دَ نیمي بادشاهئِ قیمت لرِي ٭ بادشاه ورته ووِ چه باري ساته ئې کړه ٭ هغه ووِ چه توبه قربان دِ شم داسي مرغلره به هم څوک ماتوِي هډو قیمت ئې مه حسابوَه لیکن داسي ښائست او رنګ او صفائِي به بیا چرته پیدا شِي ښما لاس وله کله ورځِي چه دا ساته کړم دا خو دِ خدای تول عمر دَ بادشاه په خزانه کښې لرِي ٭ بادشاه هغه له هم خلعت ورکړ او مرغلره ئې ترِ واخستله ٭ داسي هر چا له چه به ئې ورکوله هغه به هم په دغه ترتیب سره ځواب کاوه ٭ ناګهانه وار دَ ایاز راغي چه ایاز له ئې مرغلره ورکړه نو ورته ئې ووِ چه وایه تا نه ددي مرغلرِي قیمت څومره ښکاریږِي ٭ هغه ووِ چه ښما صاحبَ دا معلوم ښېږدي چه ډېر لوي قیمت لرِي نو زه به څه ووایم ٭ بیا بادشاه ورته ووِ چه ماته ئې کړه ٭ هغه دستِي دوه کاڼِي را واخستل په یو ئې مرغلره کېښوه او بل ئې پرِ راوګرزاوه هغه مرغلره ئې یو تِي یوتِي ذرې ذرې اوره کړه ٭ چه دا کار ئې وکړ هلته امیرانو او وزیرانو

ورباندِ شور جوړ کړ ټولو ووِ چه دومره احمقي او داسي ناداني او دا رنګ
بي وقوفي او دا شان بي باکي لکه تا چه وکړه هیڅوک به و نه کړي * یو به ویل
چه قسم مِ دِ په خداي وي که به دا کار کافر هم چري وکړي * بل به
ویل چه سوګند خورم که دا معامله دَ دښمن له لاسَ چري شوي وي*
بل به ویل چه خداي دِ وکه لیوني هم په دي خبره راضي شي*
هر یو له خپل خپل فهره سره مناسب خبري وکړي * چه دوي
ستړي شول او شور ئي لکوټي کم شه نو اياز ورته وویل چه اي
امیرانو اي سردارانو ستاسو عقل او پوهه او هوښیارتیا منم او په
دي هم قایل یم چه دا مرغلره لایقه دَ ماتولو نه وه لیکن زه بت پرست
نه وم چه په کاڼي به مِ مینه کوله او دَ خاوند خبره به مِ نه
منله او که رښتیا وایم خو مرغلره ناسو ماته کړله ځکه چه دَ بادشاه
حکم له مرغلري نه په زړه ګل بهتر وه هغه ناسو رد کړه بادشاه
له اياز نه ډیر راضي شه او وزیرانو ته په غضب شه لیکن اياز
په ډیرو زارو او عرضونو له بادشاه نه دَ دوي امان وغوښت* نو
بادشاه دوي و بخښل او اياز له ئي ډیر عزّت ورکړ *

حکایت دریم

نقل دی چه یو دولتمند سړی وه ولی په هسي شان شوم وه چه
له ډیري شومتیا نه به ئې غوښه نه خوړله او که چرې به ئې ډیره مینه
ورته وشوه نو له قصاب به ئې سلامت سر دَ چیلي یا دَ گډوري په خدمتګار
باندِ راوغوښت ؛ نو په هغه سر به ئې دَ غوښو مینه ماته کړله ؛
حاصل دا چه ټول عمر ئې دغه گذران وه ؛ یوه ورځ ورته یو آشنا
ووِچه څه سبب دي چه په اوريِ تږمې نه يي له سرَ بل غوښه نه
خوري ؛ ده ووِ چه دا مِ ډیره خوښه ده ځکه ؛ هغه ووِچه دا خبره نه
منم خو که څه فایده په کښ وِي هغه راته وُوايه ولي رښتیا وایه ستا
دِ قسَم وِي چه دروغ ونه وائي ؛ ده وِ چه دا حال خو ما هیچاته نه وایه
لیکن چه تا سوګند راکړ نو اوس به ئې درته ووایم خو ته ئې چاته مه
وایه ؛ هغه ووِچه څه له به ئې وایم ؛ ده وِ چه رښتیا خبره دا ده چه
سر ډیر ښه څیز دي ؛ یو خو دا چه نرخ ئې معلوم وِي نوکر په کښ هیڅ
نه شِي پټولي ؛ بل چه پخلي کوِي نو که نوره غوښه وِي خو دي تر په غلا
خوري شِي او که سر پخوِي نو تر نه شِي خوړلي ځکه چه که سترګه

پته کړي معلومیږي او که بل ځاي کم شي سړي پرِ پوهیږي نو دا وسواس مِ هم نه پیدا کیږي چه څه به تِر کم کړي ÷ او بل داسي کار دي چه سرخورم نو دَ ټبي بیل خوند وِي او دَ سترګو بیله مزه وِي او دَ غوږونو بل شان او دَ مغزو بل رنګ ÷ داسي په هر ځاي کښ بیله بیله فایده دد نو قیمت پرِ لږ لګیږي او کار ترِ ډیر حاصلیږي ÷ نو په دا سبب مِ سر خوښیږي او بله غوښه نه راوړم ÷ هغه وِ چه قسم دَي چه سنا په شان شوم مِ تر اوس نه دَي لیدلي ÷

حکایت څلورم

سړي له مناسب دِي چه بي دلیلَ په تش ګمان سره دَچا په ویل باندِ باور نه کړي او که کړي نو نقصان به ئي دَ ځان شي او خندا به ورپوري دَ جهان وِي ÷ لکه دَ هلکانو یو استاذ وه چه ډیر بدخوي وه او هلکان به ئي مدام وهل ÷ نو هلکانو سره یو بل ته وویل چه ډیر تنګ شو راځئ چه څه علاج وکړو چه له دي بلا نه خلاص شو ÷ او په دوي کښ یو مشر وه هغه وِ چه که تاسو څما خبره منئ نو ئي تسکه علاج به ئي وشي ÷ هلکانو ورته وویل چه هرڅه چه ته وائي هغه

ښوونږ قبول دِي ÷ ده ووِ چه مصلحت دا دَي چه صبا له سبق له ورشو
نو هر يو به استاذ ته وايو چه استاذ خير دِ وِي رنګ دِ زيړ دَي جوړ نه يي
که څه سبب دَي بيا نو رڅه مه وايئِ ÷ چه صبا شه هلکان به مدرسي له
تلل او هر يو به استاذ ته ويل چه استاذ خير دِ وِي رنګ دِ زيړ دي ÷
استاذ به ورته ويل چه هيڅ نشته زه خو جک جوړ يم ÷ ليکن په زړه کښ به
يئ لګوتِي وسواس پيدا کيده ÷ ورستي له ټولو نه هغه مشر هلک راغي
چه استاذ ته يئ کتاب و غوړاوه په تلوار سره يئ بيا پورته کړ ÷ استاذ
ورته ويل چه هلکَ ولي دِ کتاب پورته کړ ÷ هلک ورته ويل چه صاحبَ
هر څوک خپل خپل مطلب کوِي او انصاف په هيچا کښ نشته او نه زړه سوي
څوک لرِي نه داسي ناجوړَ يي چه زه دِ خراب حال او زيړ رنګ ته وګورم نو زړه
مِرخوک شِي خما سبق دِ هيڅري و نه شِي خو چه ته جوړ شي نو دغه خما
سبق سبق دي ÷ استاذ اوچت پاڅيده او په ډير قهر سره کور ته روان شه
ښځي ته يئ آواز وکړ ويل يئ چه راشه دروازه لري کړه ÷ هغه په خوشحالئِ
راغله دروازه يئ لري کړله څه ګوري چه استاذ غمجن ذهير ولاړ دي ÷ ښځي
ورته ويل چه خير دِ وِي ولي داسي بي وقتَ له مدرسي نه راغلي ÷

استاذ ورته ویل چه ولې ته ړنده یې نه وینې چه دا څما څه حال دې دَ پردو خلقو رابانډِ زړه سوې پیدا شه او ستا دومره کینه او بدنیتي دَه چه په کور کښ یې او څما دَ حال پوښتنه دِ چرې کړې نه دَه او نه دِ دا قدر راته ویلې دِې چه دا ولې + هغې ورته ویل چه زه څه ووایم ماته خو جوړ ښکاریږې + هغه ووِ چه اې دښمنې ښځې په دې دِ لا هم خوا بخه نه دَه + هغې وِ چه نه وار وکړه زه به آئینه راوړم ته خپل مخ په کښ وګوره هیڅ نشته وسواس څه له کوې + استاذ ویل چه څَه نه ورکه شه ستا آئینه دِ ورکه شِي لکه چه نه یې داسې به ستا آئینه وِې مه یې راوړه نه یې ګورم خو زر شَه کټ راته جوړ کړه چه پرِ پریوزم + هغې لا په کښ څه فکر کاوه ده بیا قهر ورته وکړ او ویل یې چه ډیرې خبرې راته مه کوه خو کټ راته سنبال کړه + هغې ورته کټ واچاوه بیچاوړه یې پرِ وغوړوله + استاذ پرِ دپاسه پریوت او هلکانو ته یې ویل چه دلته څمونږ کره سبق وایئ + هلکان ناست وُو سبق یې وایه لیکن حیران شول ټولو ویل چه دا څه وُو او څه وشُو زړه دومره وشه چه نور پرِ نه کیږې او له قیدَ مونږ خلاص نه شولُو + اوس بله حیله په کار دَه چه له بندَ خلاص شُو هغه مشر هلک

ورته وُوِ چه باري داسي وکړئِ چه تاسي ټول په زور زور په چغو چغو سره سبق شروع کړئِ ÷ خو چه دوي شور ونځلوه او زوگ ئې جوړ کړ نو هغه مشر هلک ورته وويل چه بي انصافو ولي دومره شور کوئِ تاسو نه پوهيږئِ چه په داسي شور کولو دَ استاذ سر خوږيږي ÷ استاذ ويل چه رښتيا وائِي لاړ شئِ شور مه کوئِ ټول آزاد يئِ ÷ هلکان په خوشحالئِ سره لاړل په لارو او په کوڅو کښې به ئې مستئِ کوله ÷ چه بوڅو ورځي تيري شوي نو دغو هلکانو ته مېندو وويل چه بيعقلو دا مُدّه دَ علم زده کولو ده او تاسو ئې عبث په خوشو تيروئِ ÷ هغو وُوِ چه څمونږ څه تقصير دي چه استاذ ناجوړ دَي نو مونږ چا څخه سبق وُوايُو ÷ مېندو ئې وويل چه خير صباح به مونږ لاړي شُو چه حال ئې زده کړو چه سناسو رښتيا او دروغ معلوم شِي ÷ چه صباح شه دَ هلکانو مېندي دَ استاذ پوښتني له رواني شولي ÷ چه ورکړه ورغللي څه گوري چه استاذ پروت دَي دوه دري برسني پرِ دَپاسَ پرتي دِي سر ترپښو په خولو کښې لوند دَي په واي واي سره ناري او فريادونه کوي ÷ دَ دوي وار خطاشه ټولو وويل چه استاذ خير دِ وي دا څه چل دي مونږ خو هډو خبر شوي نه يُو ÷ استاذ ويل چه زه

هم پوه شوي نه وم څما فکر نه وه لیکن په کښې سخته قصه وه که چري له
اولَ پوه شوي وي نوخواه مخواه څه علاج به یُ په آسانئِ سره شوي وه مګر
اوس دِ هم خداي خیر کړي خو خبره ګرانه دَه + دَ هلکانو میندو دُعا کوله
او ویل یُ چه استاذَ خداي دِ روغ کړه + استاذ ویل چه آمین تاسو سره
دِ خداي ښه شِي + دَ هلکانو میندي لاړلي او استاذ په کټ کښې پاتي
شه + بیا چه څو ورځي تیري شوي نو دَ هلکانو له خولي نه دا خبره مشهوره
شوه چه استاذ دَدوي په تګئِ او په دروغو ویلو تلجوړه شوي دَي + نو
یو بل ورته وُوِچه کم بختو سړي به مړ شِي اوخون به یُ ستاسو په غاړه
شِي فکر وکړئِ اوس یُ څه علاج پکار دي چه جوړ شِي + دَ هلکانو هم په
زړه کښې رحم پیدا شه هغه مشر ته یُ وُوِچه راشئِ چه څه علاج یُ
وکړو + هغه ورته وویل چه راځئِ چه یو یو ورځو ولي هر یو چه ورځي
نو ورته دِ وایي چه استاذَ اوس خو جوړ یي که خیر وِي داسي هر هلک
به ورته او استاذ ته به یُ ویل چه استاذَ اوس خوجوړ یي که خیر وِي +
بیا په واړو پسي ورسني هغه مشر راغي چه وئُ کتل نو ویل یُ چه استاذَ
شکر دي اوس خو دِ رنګ جوړ دَي لیکن لکوښي ګرزیدل تا له په کار دِي

ځکه چه سړي له ډېره روغ شي نو په يو ځاي ناسته هم ورله ښه نه ده
اوس پاڅېږئ ښکار ته ځه چه بهر لاړ شو يو خوا بل خوا وګرځو* استاذ
پاڅېد ملک ته سره دي بهر روان شول* چه يو سړي به وليد
ورته به ئي ويل چه استاذ په خير پاڅېدلی* بل به ويل چه شکر
دی چه روغ شوي چه څوک به مخې له ورتلل مبارک شه مبارک
شه به ئي ورته ويل او استاذ به خوشحالېده او هلک به پټ پټ
خندل* بيائي نه ډېر ده نه ئي بيماري وه خير خيريت وه*

حکايت پنځم

د کوتري سړي دوستي له دښمنۍ سره برابره وي* لکه يو بادشاه
شاهين د ښکار دپاره ساتلي وه او ډېر فهم به ئي ورباندې کاوه* ناګهانه
يوه ورځ والوت او د يوي بوډۍ په کور کښي ولګېده* بوډۍ ژر لاس
ورواچاوه شاهين ئي ونيوه چه ورته ئي وکتل نو منګوله ئي ورته کږه
ښکاره شوله* نو بوډۍ وويل چه هيڅ هي عاجز په دي منګوله باندې به نه
شي خوراک کړي* جوړ چاړه ئي را واخستله پاسني منګوله ځوئي ور نه
پرې کړله* چه ئي ښکته او پورته منګوله يو شان برابره کړله نو و ئي

ویل چه وشوه اوس به پر داني اخستلي شي چه پښو ته ئي نظر وکړ
دواړه منګلي ئي ورته ښکاره شولې ۔ وئي ویل چه اي غریب ستا له
نصیب دومره څوک نه وو چه ئي ستا نوکونه پریکړي وي ته خو په پښو
شل یې دَدي نوکونو له سببه ۔ نو زر زر ئي نوکونه هم ورته وتراشل ۔
دي غریبې خود مینه کوله او دَ هغه عاجزئي ټیټ وکښه ۔ بادشاه
خبر شه چه شاهین الوتلی دَي نو حکم ئي وکړ چه که چا راوست انعام
به ورکړم ۔ چه خلقو لټاوه دَ بوډۍ کره ئي بیاموند ۔ جوړ بادشاه له
ئي بوت او حال ئي دَ بوډۍ دَ مینې او دَ مدار ور ته بیان کړ ۔ چه
بادشاه شاهین ته وکتل پرخپه شه ولي نور ئي هیڅ ونه ویل
مګر حکم ئي وکړ چه دې بهر وباسئ او ډنډوره وکړزوئ چه دا
به ئي حال وي چه څوک په هغه چا پېښیږي چه په قدر ئي نه پوهیږي ۔

اي یارانو واړه واورئ دا بیان   چه دوه ظلمَ مقرّر دي په جهان
یا نادان آشنا په یار کوي ستم   یا دښمن رسَوي خلقو ته ماتم

حکایت شپږم

زورآور له ښائي چه په کمزوري باندِ زور نه کوي اګرچه کار ئي خرابیږي ۔

لکه چه دَروم دَ ملک بادشاه نوشيروان بادشاه ته قاصد ليږلي وه ؛ چه دلبار ته ورسيد څه گورِي چه يوه لويه مانړۍِ ده بادشاه په کښ په تخت ناست دَي او نور بادشاهان او اميران او وزيران ورته په کرسو ناست دِي ؛ ليکن چه قاصد تماشه وکړله يو ځاي ورته په هغي مانړۍِ کښ کونړ ښکاره شه ؛ نو له يو سړِي نه يې پوښتنه وکړله چه داځاي ولي کونړ دي ؛ هغه ورته ووِيل چه دا دَ يوي بوډۍِ کور وه په هغه وقت کښ چه بادشاه دا مانړۍِ جوړوله نو هغي بوډۍِ ته يې وويل چه دا کور په ما خرخ کړه مگر دَ هغي رضا نه وه او په زور سره خود بادشاه دا کار نه کاوه ؛ نو په دغه سبب سره دا ځاي په دي مانړۍِ کښ کونړ پاتې شوي دَي ؛ قاصد ووِيل چه رښتيا خبره دا ده چه دا کونړوالي ډير ښه دي له هغه سمِوالِي نه چه په ظلم سره شوي او حق دَ انصاف دا دي چه دا کار نه په ورښتيۍِ زمانه کښ چا ويلي دَي او نه هم ورستو گمان کيږِي چه به څوک له بادشاهانو نه وکړِي ؛ بادشاه چه دا خبري دَ قاصد واوريدلي ډير خوشحالَ شه او انعام يې وله ورکړ او په مدار او په عزّت يې رخصت کړ ؛

حکایت اوم

د یو شیخ په خلوت‌خانه کښې یو مسافر میلمه پیښ شه ÷ نو چه وقت دخوراک شه هغه شیخ کور ته لاړ شه او یو څلور ډوډیٔ ئې راوړلي دغه مسافر ته ئې کیښودلي ÷ بیا په تلوار لاړ شه چه وله پیټي راوړي چه شیخ پیټي راوړله مسافر ډوډیٔ خوړلي وي ÷ شیخ بیا په تلوار لاړ شه څلور ډوډیٔ ئې نوري راوزغلولي ÷ چه دي را رسیده مسافر پیټي نوله کوتلي وه ÷ شیخ بیا پیټیٔ له لاړ شه چه راته هغه ډوډیٔ خلاصه کړي وَه ÷ حاصل دا دَي چه لس څله شیخ کور ته لاړ شه او چه یو څیز به ئې راوړ بل به مسافر خلاص کړي وه ÷ بیا شیخ ورته وویل چه څوانَ خیر دِ وِي چرته ځې ÷ مسافر ورته یو ځاي یاد کړ ویل ئې چه صاحبَ فلانِي ځاي له ځم ÷ بیا شیخ ورته ویل چه څه مطلب دِ دَي هلته په څه پسي ځې ÷ هغه ویل چه اوریدلي مِ دِي چه په هغه ځاي کښې یو لوي طبیب دَي دَ هغه دَ لیدو دَپاره ځم ÷ شیخ ورته وُوِ چه څه ناجوړتیا دِ ده چه طبیب له ورځې ÷ مسافر وُوِ چه غلي نه مِ ډیره مینه نه کیږي نو وایم که لاړ شم او هغه ماته څه دارو راکړي چه خوراک ته مِ مینه

پیدا شي ؛ شیخ ورته ویل چه ډیره ښه دَه خدای دِ ستا مطلب پوره کړي خو ځما هم دَ خدای دَپاره تا ته یو حاجت نشته دي ؛ مسافر ویل چه صاحب څه حاجت دي ؛ شیخ ویل چه ته جوړ شي او کار دِ وشي نو بیا په دي لار مه راځه په بله لار لاړ شه ؛

حکایت اتم

ولي شوي دي چه یو بزرګ په غاړه دَ یوي ولي ناست وه او په اوبو دَ صبر لئ لاس له ګنده کړي دَ دنیا نه وینځلي وُو ؛ یو تیوخ په هوا په هغه ځاي باندِ تیریده یو مرکوري ئې له ښکو نه خلاص شه او دَ وړاندِ دَ بزرګ ولویده ؛ بزرګ په ډیره مینه سره په زړوکي کښ ونغښت او خپل کورته ئي ور بیا ئې دَ ځان سره وویل چه نه بایده چه دَ کور خلق په لیدلو دَدي مرکوري خپه شي ؛ نو په هغه ځاي کښ دعا ئې وکړله چه دا مرکوري جنئ شوي هم په هغه شان کار وشه لکه چه دَده مطلب وه یعني په ښي شان ښائسته جنئ تر جوړه شوه چه ثمر دَ انګوئ اور دَ غیرت په درمنه دَ میاشتي پوري کاوه او تورو زلفو ئې لوګي له زړه دَ شپي توري نه اوچتاوه ؛ بزرګ په هغه ساعت

يو مريد را وغوښت او دغه جنئ ئې ورته وسپارله او ورته ئې ووېل
چه ددې پالنه او نمانځنه په ښه شان سره کوه خودچه لويه شي
پس له هغه به ئې نور مصلحت کوو؛ بيا چه څو مُده پس جنئ لويه
شوله نو هغه بزرګ را وغوښتله او ورته ئې ووېل چه اې جنئ سنا خو
هيڅوک خپلوان نشته نو اوس اختيار ستا دَې وايه چه دَچا سره
ستا نکاح وکړم؛ جنئ ورته ووېل چه هسې خښتن ما له وګوره چه په قوت
او په مرتبه کښې ئې سيال څرنه وِي؛ بزرګ ورته ووِچه داسې لوئي او
زورآور خو رانه څوک نه ښکاريږي مګر يو نمر که وِي نو به وِي؛ جنئ
ووېل چه ډېره ښه دَه؛ صباح وختې چه نمر را وخوت بزرګ ور ته
ودرېده او وئې وېل چه اې نمرَ داجنئ زورآورخښتن غواړي نو موږ
زورآور په خپل فکر کښې ته مقرّر کړې يې نو دې خبرې به څه مصلحت
وِي؛ نمر ورته په جواب کښې ووِچه زه به تاسو ته له خپلَ ځانَ زورآور
زبات وښيم؛ بزرګ ورته وُوِچه څوک دې؛ نمر ورته وُوِچه وريځ دَه
څکه چه لکوټې وريځ را ښکاره شي نو ځما مخ پټ کاندِ؛ بزرګ وريځې ته
وړاندِ شه چه حال ئې ورته ووايه نو هغې ورته ووېل چه که دَ

زور خبره کوئِ خو له ما نه باد غالب دَي ځکه چه په ما باندِ راشِي نو هر طرف ته چه ځِي هم هغه طرف ته مِ زغلوِي * بزرگ باد ته خپله مُدّعا عرض کړله * باد ور ته وويل چه ځما به څه قوّت او طاقت وِي که څه دَي خو غر دَي ځکه چه په ځاي خپل باندِ ولاړ دَي او پښې يُ په خپل مقام باندِ محکمي لګولي دِي او ما غُندِ که په زرګونو جمع شِي هم له ځايَ يُ نه شِي خوځولي * بزرګ غره له ورروان شه چه حال يُ ورته ووايه هغه ورته په ځواب کښ وويل چه انصاف دا دَي چه زور او غلبه او قوّت او دبدبه که څه وِي خو دَ مږو به وِي ځکه چه ځما زړه يُ زخمِي او سوري سوري کړ مګر زه ورنه نه تښتيدلي شم او نه يُ له ځانَ بهر وکښلي شم * بزرګ ورغي يو مږکوري يُ وموند ورته يُ واړه قصّه ښيره کړله * چه هغه واوريدله ورنه يُ وويل چه ځما هم دَ ډيري مُدي شوق دَي چه چرته واده مِ وکړلي ليکن ما له خپلَ قومَ جنيئِ پکار دَه دغه جنيئِ به زه څه کړم * جنيئِ وويل چه دا خو آسان کار دَي ځکه چه دا شيخ صاحب که اوس دعا وکړِي نو زه به ستا په شان شم * بزرګ په هغه ځاي کښ دُعا وکړله جنيئِ بيا

مړ کوري شوله او دَ مړ کوري سره لاړله *

چه هر شئ رجوع خپل اصل وته کانډِ دِي لازم چه سړي ځان خاوري کا وړاندِ

حکایت نهم

هسي ویلي کېږي چه په یو ځای کښ دوه تنَ سړي وُو چه سره یو ځای ناست وُو ډوډیِ لئ خوړله * مګر یو سړي څخه پنځه ډوډیِ وي او بل څخه دري وي * ناګهانه یو ځوان په لاري تېرېده چه دَ دوي خواته نږدي شه السلام علیکم لئ دوي ته ووِ وعلیکم السّلام ځوانَ راځَه څمونږ سره ډوډیِ وخوره * هغه جوړ ورسره کښیناست او ډوډي ئ ورسره وخوړله چه له ډوډیِ خوړلو نه وزګار شول نو هغه دَ لاري سړي دَ ډوډو خاوندانو ته انه روپئ پرېښودي او ورته لئ وُوِچه واخلئ دا ستاسو دَ ډوډیِ بدل دَي * چه دوي روپیِ واخستلي نو دواړه په جګړه شول دَ پنځهٔ ډوډو خاوند وویل چه پنځه روپیِ ځما شوي او دري ستا شوي ځکه چه ځما پنځه ډوډيِ وي او ستا دري وي * او دَ دري ډوډو خاوند وُوِچه دا روپیِ نیمي ستا دِي او نیمي ځما دِي * چه جګړه لئ زیاته شوله او یو دَ بل په ویل نه راضي کېده نو په هغه زمانه کښ یو عادل ایمان دار حاکم

وه هغه له ورغلل چه حال خپل ورته دواړو ووايه نو هغه حاکم هغه
دَ دري ډوډو خاوند ته ووېل چه ځوان دا ځوانَ تا له په خوښه دري روپۍ
درکوي نو ته ئې ولي نه آخلې ٭ هغه ووېل چه صاحب زه په دې راضي نه يم زه
خو خپل حق غواړم ٭ هغه حاکم ورته وُوِ چه ته خپل حق غواړې نو
ستا حق يوه روپۍ کېږي او دري بل اووه روپۍ ٭ سړي فرياد ونيولو او
وئې ويل چه صاحب څنګه څما يوه روپۍ کېږي زه په دې هم نه راضي
کېږم او ته لا له يوه راکوي ٭ حاکم ورته وُوِ چه تاسو دري تنَ وئِ
او ډوډۍ اته وې او هره يوه ډوډۍ چه دري ځايَ شي نو
څليرويشت حصّې تري جوړېږي او تاسو چه برابر خوړلي وي نو اته اته حصّې
دَ سړي په سر راځي ٭ نو ستا دَ دري ډوډو نهه حصې شوي اته دې تا
وخوړلي او يوه پاتې شوه او دَ ده دَ پنځهٔ ډوډو پنځلس حصّې شوي اته دهٔ
وخوړلي او اووه پاتې شولي ٭ نو چه دې سړي اته حصّې خوړلي وي نو ستا
په کښ يوه حصه لاړه او دَ ده اووه لاړلي نو ستا يوه روپۍ رسېږي او دَ ده
اووه رسېږي نو ته پخپله هم فکر وکړه چه څنګه حساب جوړېږي ٭ نو هغه
سړي ووېل چه بې شکَ اوس پوه شوم او په خپل حق راضي شوم ٭

حکایت لسم

په یو ځاي کښ یوه چرچنړه په یو دام باندِ پېښه شوله + نو ورته ئې ووِ
چه څه سبب دي چه له خلقو جدا پروت یي + دام ویل چه په گوښه کښ
امان او سلامت راته ښکاریږي + چرچنړي ویل چه په خاورو کښ ولې
پروت یي + دام ویل چه عاجزي کوم ځکه چه لوئي خداي پاک له مناسبه
ده + چرچنړي ورته وُوِچه دا ولې دومره خوار یي + دام ویل چه دا په
ډیر عبادت کولو سره + چرچنړي وِ چه دا پړي دِ ولې په غاړه کښ اچولي
دي + دام ویل چه دَ فقیرئِ جامه هم دا قدر بس دَه + چرچنړي
وِچه دا همساځه کوي + دام ویل چه په دي تکیه کوم + چرچنړي وِچه دا
غنم درته څه له پراته دِي + دام ویل چه داځما له خوراکَ تیري دِي که
چرته وږي راه روي فقیر پېښ شِي نو هغه له به ئې ورکړم + چرچنړي وِ
چه بل به داسي محتاج ځوک وِي لکه چه زه یم ما له ئې راکړه + دام ویل
چه شل ځل َخو راشَه له نورو خلقو نه ته ښه یي چه ئې وخوري +
چرچنړه ورغله خوچه سنوکه ئې داني له ورورله نو په غاړه پوري ئې دستي
دام ونښت + چرچنړي وِچه اي بدخويَ مکاره ټکَ چل بازَ داسي هم

څوک کوي لکه چه تا وکړل ✦ دي لا دا ویل چه ښکاري راغي او دا ئي
ونیوله ✦ چرچڼي ځان سره ویل چه هوښیارانو رښتیا ویلي دي چه هر چا
چه زړه ورتوب وکړ پښېمان به شي او هر څوک چه وویرېږه سلامت
به پاتي شي اوس حیرانه یم چه په څه به خلاصه شم ✦ یو ساعت
ئي فکر له ځان سره وکړ نو ښکاري ته ئي مخ راوګرزاوه او ور ته ئي وو
چه اې سړيَ یو خو خبري له ما نه واوره امید دي چه به تا ته فائده
ورسوي بیا له ما سره هر څه چه کوي هغه کوه ✦ چه ښکاري له
چرچڼي نه دا خبره واورېده یو ساعت حیران شه بیائي ویل چه ووایه
که نه ✦ چرچڼي وِ چه نه خو یوهیږي چه په ما باندِ نه څوک څربیږي او
نه مړیږي نو که زه دِ خوښه یم خو ما وخوره او که دَ حکمت خبري دِ خوښیږي
نو ما پرېږده چه یوه خبره ستا په لاس کښ وکړم او یوه دَ دي وني په
بیخ کښ وکړم او یوه دَ دي وني په سر باندِ وکړم ✦ ښکاري وِ چه ډېره
ښه دَه نو ئي پرېښودله وِ چه ووایه ✦ چرچڼي ویل چه یوه خو دا
دَه چه څو چه ژوندي یي نو په شوي کار پسي پښېماني مه کوه ✦ ښکاري
په زړه کښ وِ چه څه عجیبه خبره ئي وکړه ✦ چرچڼه لاړه دَ وني په بیخ کښ

کښیناستله بیائی وِ چه دویمه دا دَه چه یوځیز نه وینې نو باور پرِ مه
کوه ÷ چه دا ئې وویل نو بیا لاړه دَ وُنې سر ته وختله او وئې ویل چه
اې سړیَ ځما په ججوره کښ شل نیمې رویئِ تول دوه مرغلرې وي چه
هغه ستا او ستا دَ اولاد بس وې ولې نصیب دِ په کښ نه وه ÷ دې په
ژړا شه ډیر ارمان ئې کاوه لاسونه ئې مروړل بیا ئې وِ چه خیر هغه خو
لاړلې مګر هغه دریمه خبره خو ووایه ÷ هغې وِ چه په ورېنو دواړو خبرو
دِ کوم عمل وکړ چه دریمه هم غواړې ÷ ما درته ویل چه په شوې کار پسې
پښیمانِي مه کوه ÷ او چه یوځیز نه وینې نو باور پرِ مه کوه ÷ او چه ما ویل چه ځما
په ججوره کښ دوه مرغلرې دِي نو تا پرِ باور وکړ ÷ نه دومره نه پوهیږې چه
زه دَ بڼو سره هم په تول به دَ لسو روپو سره برابره نه شم ÷
او بیا دومره ارمان او ژړا دِ وکړل چه نور پرِ نه کیږې ÷ دا
ئې وویل بیا لاړه والوتله او ښکارِي حیران پاتې شه ÷

حکایت یولسم

که څوک ډیر کوشش وکړي خو دَ چغلی خور له فسادَ به خلاص نه شي ÷
لکه یو سړي وه چه مریې ئې خرڅاوه ÷ یوځوان وله راغې ویل ئې چه دا

مرۍ ذ خرڅ دي ÷ هغه خاوند ئې وويل چه هو دَ خرڅ دَي ÷ هغه بيا
وُوِ چه څه عيب نقصان په كښې شته اوكه نشته ÷ خاوند ئې ويل چه
بل هيڅ عيب په كښې نشته مګر يو عيب لرې كه دَ هغه عيب سره دِ
خوښ وِي خو بُ واخله اوكه نه وِي نو ئې پريږده ÷ هغه ځوان ويل چه
هغه كوم عيب دَي نه ئې ما ته معلوم كړه چه زه پرِ پوه شم نوكه له لاسَ
مِ كيږي له هغه عيب به ځان ساتم ÷ خاوند ئې ويل چه چغلي خور دَي
يې شانه ډيره چغلي كوِي چه سړِي ورته حيران پاتې شِي ÷ هغه ويل
چه دا هيڅ خبره نه دَه سړِي به دَده په خبره عمل نه كوِي نورڅه دَي ÷
مطلب دا دَي چه قيمت ئې وركړ مرۍ ئې ترِ واخست كور ته ئې بوت او په
زړه كښې ئې محكم نيت وكړ چه دَده په ويل به باور نه كوم ÷ چه څو
ورځې تيرې شوې نو هغه مرۍ راغې او خاوند ته ئې وويل چه خبر
شه بيبي دِ دَ مرګ مصلحت كړې دَي تا وژني او بل سړي سره په نكاح
اخلي ÷ خاوند ئې ويل چه نه څه رنګ پوه شوې يې ÷ مرۍ وُوِ چه زه پوه
شوي يم اوكه ستا باور نه كيږي نو نه ورته ځان اوده كړه چه حال درته
معلوم شي چه زه رښتيا وايم كه دروغ وايم ÷ بيا ښځې له وراغې ور نه

ئې وويل چه بي بي خبر شه خښتن دِ تا له طلاق دركوي او بله ښځه
كوي + ښځې چه دا خبره واوريدله ډيره خپه شوله + ده ورته وويل چه
ولې خپه كيږې كه ستا خوښيږي نو ما له يو دري ويښته دَ ده دَ زنې دَ لاندې
راوړه چه زه ئې دم كړم نو دَ خښتن به تا سره مينه ډيره پيدا شي +
هغې وويل چه ډيره ښه خبره ده + چه شپه شوه سړي كور ته لاړ شه ځان
ئې په كټ كښې اوده كړ او تماشه ئې كوله چه څه پېښيږي چه دَ
ښځې گمان وشه چه دي اوده دي نو دَ ويښتو پريكولو دَ پاره ورنږدې
شوله چه زنې له ئې لاس وروړ دَ ځوان يقين وشه چه ما وژني
جوړ په تلوار پاڅيد توره ئې واخستله او ښځه عاجزه ئې مړه كړله +
مړيې دستې وَز دَو كړ دَ ښځې ورونړو ته ئې وويل چه زر راشئ ستاسو
خورئې بې گناه مړه كړله + هغو توري را واخستلې په تلوار راغلل او ځوان
ئې مړ كړ دواړه عاجزان دَ مړيې په چغلئ سره مړه شول +

حكايت دوه لسم

يو بادشاه ډير خوږب وه او وجود ئې بې شانَ غټ وه هسې حد ته رسيدلى
وه چه له هرَ كاره وتلى وه + نو طبيبان ئې جمع كړل دَ پاره دَ دي چه څوك

ئې علاج وکړي که غوښه ئې څه قدر کمه شي ‡ که هر چا به علاج کاوه
دَ بادشاه غوښه به زیاتېدله او وجود به ئې غټېده ‡ آخر یو هوښیار
طبیب پیښ شه چه دَ بادشاه لاس ئې ونیو ورته ئې عرض وکړ چه که دَ
بادشاه مهربان خوښه وي نو زه به په علمِ نجوم کښ وګورم هر قسم دارُو
چه دَ طبیعت سره برابر راغلل هغه به بادشاه له ورکړم ‡ بادشاه ووِ چه
ډېره ښه ده لاړ شه کتابونه دَ نجوم ټول وګوره چه تا ته ښه ښکاره شي
هغه دارُو ما له راکړه ‡ طبیب لاړ شه صبا له راغي عرض ئې وکړ چه دَ
بادشاه مهربان دارُو موقوف دِي ‡ بادشاه ووِ چه څه سبب دي ولې ځما
دارُو موقوف دِي ‡ طبیب ووِیل چه په کتاب کښ وایي چه څلوېښت ورځي
دَ بادشاه ژوندون باقي دَي پس له هغه به مړ شي ‡ بادشاه ډېر په قهر
شه او ویل ئې چه دارُو موقوف دِي ولې دا طبیب بند کړئ که چرې په دې مُدّه
کښ زه مړ نه شوم نو دې به مړ کړم ‡ طبیب ئې بند کړ او بادشاه دَ مرګ
په فکر کښ شه شپه او ورځ به ئې خفقان کاوه او خپلوانو دوستانو
به ور سره ژړل ‡ چه څلوېښت ورځي تېري شوي دَ بادشاه زیړ رنګ راختلی
وه غوښه ئې اوبه شوي وَه خو چه دَ غوښې باد تر کمر شه نو صورت ئې برابر

سم شه ÷ بیا طبیب ئې را وباله ورنه ئې ویل چه اوس دِ وژنم تا ولي دومره دروغ ویل ÷ طبیب وُوِ څکه چه دَ بادشاه علاج راته په بل څخیز کښ نه معلومیده ÷ بادشاه ډیر خوشحالَ شه او انعام او خلعت ئې ډیر ورکړ ÷

حکایت دیار لسم

ویلي شوي دِي چه یو سړي په رنګ ډیر ناکارَ وه او ښځه ئې په صورت ډیره ښائسته وَه چه دَ هغي ښځې په شان ښځه په هغه زمانه کښ نه وه ÷ نو هغي ښځې یوه ورځ هغه خپل څښتن ته وُوِچه په قیامت کښ به زه او ته دواړه په جنّت کښ یو ÷ څښتن ورته وُوِ چه ته به کوم دلیل سره دا خبره کوي ÷ هغي ورته وُوِ په دې دلیل سره چه زه ستا ښځه یم او ته ځما څښتن یې ÷ هغه ورته وَوِچه په دا څه وشُو هر څوک سره ښځې څښتنان دِي نو دا به ټول جنّتیان وِي څه ÷ هغي ویل چه ته پوه نه شوي زه داسې نه وایم چه ټولي ښځې او خاوندان به جنتیان وِي بلکه زه خپل ځان او تا یادَوم په دا سبب چه زه ستا په ناکاره شکل باندِ صبر کَوُم او ته ځما په ښائسته صورت باندِ شکر کوي او جنّت له یا هغَه ځي چه شکر کوِي یا هغَه ځي چه صبر کوِي ÷

حکایت څوارلسم

هوښیار له مناسب دِي چه په زارئِ دَ دښمنانو نه غلیږِي او که نه وِي
نو په بلا کښ به پریوزِي ÷ لکه یو سړِي په اوښ سور وه په لارې ته ناګهانه
یو ځاي ته ورسیده چه هلته په ځنګل باندِ اور لګیدلي وه او یو لوي
مار په هغه ځاي کښ بند شوي وه چه په هیڅ شان ئې لار دَ خلاصیدو نه
موندله ÷ چه دا سړِي ئې ولیده ډیر فریاد او زارِي ئې ورته وکړل او وئې
ویل چه که ما له دي اورَ وباسي نو نهایت مهرباني به وِي ÷ سړِي په زړه
کښ فکر وکړ او وئې ویل چه مار خو بې شکَ دَ سړو دښمن دَي مګر نن
ورځ ډیر عاجز دَي نو بهتره خبره دا دَه چه له دي اوَر ئې وباسم جو تو بره
ئې ورخوړنده کړله او مار په توبره کښ کښیناست سواره توبره راکښله مار
ئې له هغه ځايَ بهر وکښه ÷ بیائې دَ توبرې خوله پرانتله او مار ته ئې
وویل چه اوس ورځه له غمَ خلاص شوي مګر پس له دي څوک
مه آزاروه ÷ مار وویل چه څو تا او ستا دا اوښ و نه چیچم همره
به لاړ نه شم ÷ سړِي ورته وویل چه ما خو له تا سره بد کړي نه وُو
چه ته اوس له ما سره داسي کوي ÷ مار وویل چه بې شکَ تا

بنه کړي وُو خو بې ځايَ وُوځکه چه ځمونږ او ستاسو سره دښمني پخوانۍ
دَه نو ځما سره بنه کول ستا دَ ځان سره بد کول دِي ٭ سواره وُوِ چه دَ
نيکۍ په ځاي بدِي په هيڅ مذهب کښ روا نه دَه ٭ مار ورته وُوِ چه
زه هم ستاسو په دستور باندِ عمل کوم او تاسو خود دَ نيکۍ په ځاي بدِي
هميشه کوئ ٭ سواره وويل چه دا خبره به هيچرې ثابته نه کړي او که په
دِي خبره دِ شاهدان تير کړل نو بې شک زه راضي يم چه ته مِ وچيچي ٭ مار
چه يو طرف بل طرف وکاته يوه ميښه ئې وليده دواړه ورروان شول چه
ورغلل نو مار ورته وُوِ چه اې ميښې جرا دَ نيکۍ څه دَه ٭ ميښې وُوِ
چه په مذهب دَ آدميانو خو جزا دَ نيکۍ بدِي دَه ځکه چه زه دَ يو سړي
کره وم چه ځوانَ وم او پيۍ مِ ورکول نو مدار مِ کيده چه بياپيۍ مِ وچ شول
او بې طاقته شوم نو غور ئې ځما پريښوده او زه ئې بهر وشړلم چه ځو ورځې
بهر وګرزيدم او لکړتي غوښه مِ جوړه شوه نو پرون ئې قصاب راوست او
زه ئې پرِ خرڅه کړلم نن به خود قصاب راشي ما به حلالولو له بيايي ٭ مار
وويل چه اوس خو پرِ شوي ځان راته بتنګ کړه چه دِ وچيچم ٭ سواره
وُويل چه شاهدان دوه پکار دِي که بل شاهد پيدا شي نو هاله

به ستا خبره منظوره شي* چه مار يو خوا بل خوا وکاته يوه ونه ئې وليدله
وئې ويل چه راشه چه دې ونې له ورشو* چه ورنږدې شول نو مار ور ته
وُوِ چه اې ونې بدله دَ نيکئِ څه دَه * وُنې وويل چه په دستور دَ آدميانو خو
بدله دَ نيکئِ بدِي دَه څکه چه زه دلته ولاړه يم او دوي نمر وهلي ستړي ستوماړه
راشي څما په سورِې باندِ دمه وکړي چه بيا په آرام شي نو راته کوږي او وايي چه دغه
ښاخ دَ يوم دَ لاستې دَپاره ډير ښه دي او هغه څانګه دَ تبر لاستي لايقه دَه
او له دغه فلاني څاي نه به ښي تختې وخيژي او له هغه څاي نه به ښي
دُرشلي جوړې شي او که آره يا تبر ورڅخه وي نو خواه مخواه څه خو را نه
پرې کړي او دَ څان سره ئې يوسي* مار وُويل چه اوس خو دِ مقدمه بايلله
څان راته وسه چه چک درباندِ ولګوم* سړي حيران شه فکر ئې کاوه
ناګهانه يوه لومبړه را ښکاره شوله او ددوي دا خبري ئې واره آوريدلي
وي جوړ دغه سواره نه ئې وويل چه څوانَ تا دَدي مار سره څه نيکي
کړې دَه چه دَي درسره بدِي کوي* سواره ورته ټوله قصه دَ اول او
دَ توبرې وويله * لومبړي وِ چه زه نه منم چه دا مار به په دې توبره
کښې څاي شي څکه چه دَي لوي دَي او توبره وړکي دَه * مار وُوِ چه نه

گوره چه زه څنګه په کښ ښان خایوم جوړ هغه ورته توبره ونیوله اوما
په کښ ورننوت لومبړي سواره ته ووِ چه تلوار کوه دَ توبري خوله کلکه
کړه چه مار درنه خلاص نه شِي جوړ سواره توبره ونیوله او په زمکه
ئي وهله وهله چه مار ئي مردار کړ او ښان ئي ترِ خلاص کړ ؛

حکایت پنځلسم

حرصناک مدام ګرفتار وِي او صبرناک همیش په قرار وِي ؛ لکه یو ښکاري
په صحرا کښ ګرزیده یوه لومبړه ئي ولیدله چه ډیر ښائسته رنګ او صاف
وېښته ئي ورته ښکاره شول ؛ په زړه کښ ئي فکر وکړ وئي ویل چه
که دا لومبړه ونسم او پوستکي ترِ وباسم نو امید دَي چه په ډیر قیمت به خرځ
شِي ؛ نو په دې طمعَ په هغې لومبړي پسې روان شه او غار دَ هغې ئي معلوم
کړ ؛ بیا ئي ورته یو ډوغل وکنوده او دَپاسَ ئي پرِ وابنه واچول او دَ هغه
وابنو دَپاسه ئي یوه مرداره کښیښنوله او دې ورته په یو ځاي کښ پټ
شه ؛ چه لومبړه له غارَ را ووتله او بوي پرِ دَ مرداري ولګیده په هغه
طرف روانه شوله لیکن دَ ښان سره ئي ووِیل چه بوي دَ مرداري خو را باندِ لګیږي
مګر ګمان دَ بلاءِ هم په کښ کیږي او هوښیاران دَ وېري ځاي ته ځان نه

وړاندِ کوِي ÷ چه دا فکر ئې وکړ نو دَ مرداري سودائي له زړه نه لري کړله او
يې غمه په يو طرف روانه شوله ÷ په دغه ساعت کښې يو وږي پړانګ دَ غره له
سَرَ راکوز شه او دَ مرداري بوي پرِ ولګيده ٭ چه خوراک له ورته ناګهانه
په ډوغل کښې ولويده ÷ ښکارِي چه دَ پړانګ دَ غورزيدو غرب واوريده ګمان
ئې وشه چه ګنزِه لومبړه ورپريوتله جوړ په تلوار راغي او ډوغل ته ئې ور و
دنګل ÷ پړانګ چه وليد ګمان ئې وشه چه ګُندِ ما له خوراکَ منعَ کوِي جوړ
په خيښه ئې وله پړق ورکړ دوه پړق ئې کړ ÷ ښکارِي په سبب دَ حرص په دام دَ
هلاک کښې بند شه او لومبړه په سبب دَ صبر له بلا نه خلاصه شوله ٭

حکايت شپاړسم

په عرب کښې يو ښه سړي وه چه وارو خلقو به په هر کار کښې له هغه نه
پوښتنه کوله او دَ هغه په نصيحت باندِ به هرچا عمل کاوه ÷ ناګهانه چه
دي په کښې اوسيده دَ هغه خلقو يوه شپه ټول سپي مړه شول ÷
صبا له خلق هغه ښه سړِي له راغلل او دَ سپو له مرګَ ئې خبر کړ ÷ هغه
ووئيل چه په دي کښې به خير وِي ÷ بله شپه دَ هغه کلِي ټول بانګيان
چرګان مړه شول ÷ خلق بيا صبا له راغلل هغه ښه سړي ئې په

دي خبره خبر کړ * هغه بيا وُوِ چه په دي کښ به خبر وِيِ * خلقو وِ
چه عجيبه ده سپو به څوکِۍ کوله چرگانو به بانگونه ويل وقت دَ صبا به معلوم سو
نو دَ دوي په مرگ کښ کوم خبر دي * هغه وِ چه په پټو کالونو خداي ښه
پوهيږي څومره علم په دي خبرو نشته * په دريمه شپه خلقو اور
بلاوه ليکن اور نه بليده او لمبه يُ نه کوله * هر چا وويل چه خداي
دِ خبر کړي نه پوهيږو چه څه بلا پيښيږي * ناگهانه له بل طرف نه پرِ
لښکر ورو خوت گير چاپير کلي ئي پټول و سيرل مال ئي ورنه لوټ کړ * چه
دَ دغه خلقو کلي ته نزدي شول دَ لښکر خلقو په کور کښ سره وُويل
چه نه رڼا شته او نه دَ سپو غپا شته او نه دَ چرگانو بانگونه شته معلوميږي
چه خلق نشته نن کلي خالي کورونه به څه کړو * په دي گمان سره لښکر
بيرته لاړ کلي ته خبر شه * دَ هغه ښه سړي خبره رښتيا شوه *

حکايت اولسم

دَ بخيل سړي هم مال زياتيږي او هم ئي غم زياتيږي يعني دوه تاوان ورته
پيښيږي * لکه يو بخيل سړي وه چه روديُ ئي دَ شاتو سره خوړله ناگهانه
په کوڅه کښ چا ميلمه سړي ورته آواز وکړ * ده په تلوار سره هغه

ډوډئِ لرِي کړله اوچه شات ئې لرِي کول میلمه پرِوراغې شات ئې لرِي نه
کړِي شول ÷ لیکن دَ بخیل گمان دا وه چه دَی به یواځې شات نه خورِي نو
ورنه ئې ویل چه خوره که نه که شاتو ته دِ مینه کیږِي ÷ میلمه ویل چه
ښه دَه شات خو ډیر ښه خیږ دَی ولي به ئې نه خورم ÷ جوړ لاس ئې
پورِي کړ شات ئې ښتل چه څه قدر ئې وښتل نو هغَه بخیل ته
ئې وویل چه بې شانَ ښه خوند لرِي ÷ بخیل ویل چه رښتیا دِي
مزه ئې ښته خو ډیر ئې مه خوره دَ سرِي زړه سیزِي ÷ میلمه ویل
چه بې شکه ډیره ښه وایې زړه سیزِي لیکن ستا زړه سیزِي ÷

حکایت اته لسم

له یو بخیل سرِي نه سل اشرفئِ په همیانئِ کښې چرته ورکې شولې که ډیر
ړیرئې ورپسې وکړ خو ونه ئې موندلې ÷ نو وئې ویل چه هرچا چه وُ
موندلې اوما له ئې راکړلې نو په خوښه به لَس اشرفئِ په کښې هغه له ورکړم ÷
ناگهانه یو ښه سرِي هغَه همیانئِ وموندله اوهغَه بخیل له ئې ورکړله اوور
نه ئې وویل چه ما له هغَه لَس اشرفئِ چه تا ویلې وې راکړه ÷ بخیل ورته وُو
چه په دې همیانئِ کښې خو لَس دَپاسَ سل اشرفئِ وې لس در و رسیدلې

او سل دا دِي ما له دِ راکړلي نو نور رانه څه غواړي خپل حق خو تا ته در رسېدلی
دَي ٭ هغه سړي قاضِي له لاړ شه په نوله قصه ئې خبر کړ ٭ قاضِي
مدعیٰ‌علیه را وغوښت ورته ئې ووېل چه دَ ده حق ولې نه ورکوې ٭ بخیل
ووېل چه ده خو خپل حق بېخپله له دې هِمیانئِ نه آخستي دَي نو زه
وله څه ورکړم ٭ قاضِي همیانئِ طلب کړله چه وئې کتله هم هغه شان
تړلې وَه لکه څنګه چه وَه ٭ نو بخیل ته ئې وُوِچه ستا په همیانئِ کښِس
لَسْ دَپاسَ سل اشرفئِ وې او دا پوره سل دِي نو معلومیږي چه دا
همیانئِ ستا نه دَه ته ورځه په خپلې همیانئِ پسې ګرزه او دا همیانئِ
دې سړِي له ورکړه چه خاوند ئې راشي نو هغه له به ئې ورکړي ٭

حکایت نولسم

نقل دَي چه سلیمان پیغمبر له یو سړي راغي او ورته ئې ووېل چه ما
ته دعا وکړه چه زه دَ مرغانو په خبرو پوه شم ٭ هغه ورته وُوِچه دَ
مرغانو په خبرو به پوه شې ولې که چا ته دِ حال ووایه نو په هغه ساعت به
مړ شې ٭ هغه سړي ووېل چه ډېره ښه دَه هېڅوک به نه خبروم ٭ سلیمان ور
ته وُوِچه ورځه په خبرو به دَ هر څیز پوهېږې ٭ سړي کور ته روان شه

چه شپه شوه دَده په کورکښې یو غوایه او یو خر او یو چرګ وُو ٭ هغه خر له غوایه نه پوښتنه وکړه چه وایه څوانه ورځ دِ څنګه تېره شوي دَه غوایه ویل چه ډېره سخته دَه ٭ خر ورته وُوِ چه که ستا رضا وِي نو زه به تا ته یو چل وښیم چه له ډېرَ کارَ خلاص شي ٭ غوایه ویل چه ډېره ښه دَه زه به ستا خبره ومنم هر څه چه ته وائي ٭ خر ووِ چه مصلحت دا دي چه بېګا له ګیاه مه خوره ٭ غوایه ویل چه ښَه دَه جوړ دَ شپې ئې هیڅ خوراک و نه کړ ٭ او دغه سړي دَ دواړو خبري آورِي ٭ چه صبا شه نو سړي وویل چه غوایه جوړ نه دَي نن باري په خر بانِدِ اسباب واچوئِ چه دَ غوایه په بدل کښې دي لاړ شِي ٭ خر چه لاړ شه ورځ ئې تېره کړله چه شپې له خپل ځای له راغي نو غوایه تِرِ پوښتنه وکړله ویل ئې چه وایه څوانه ورځ در بانِدِ څنګه تېره شوي دَه راته ښکاریږِي چه تا هیڅ کار نه دي کړي ٭ خر ویل چه بې شکه اول را بانِدِ داسې سختي راغلي وه لکه چه پرون په تا وَه لیکن بیا خیر شه څکه چه دوي ستا دَ حلالولو په فکر کښې شول نو زه خود له کارَ خلاص شوم ٭ غوایه وُویل چه ما ولي حلالوِي ٭ خر ویل چه نور هیڅ خبر نه یم خو دوي سره په کورکښې ویل چه دا غوایه ګیاه نه خورِي را شئِ

چه حلال ئې کړُو هسې نه وِي چه مړ شِي ÷ غوایه وُوِچه اوس ددې خبرې
څه علاج وکړم ÷ خر وُوِچه گیاه وخوره بیا هیڅ وسواس دِ نشته ÷ چه غوایه
گیاه نه خوله ښکښته کړله سړې په خندا شه دَدوي په خبرو پورې ئې وخندل ÷
چه سړې ته خپلې ښځې وکتل نو ورته ئې وُوِچه ولې خاندې ÷ سړې ویل
چه هیڅ نشته ÷ ښځې ویل چه یا م له دې خندا نه خبر کړه او که نه وِې
نو دوه خبرې دِي یا لېونې شوې او یا دِ بله ښځه خوښه شوې دَه ÷ سړِي
دیرڅه وکړل خو ښځې ورته وُوِچه حرام شَه که دِ پرېږدم ÷ چه پوره نه
شوه نو سړِي ویل چه وارکوه چه بارې زه وصیت وکړم نو به حال در ته
ووایم ÷ چه ده په وصیت شروع وکړه نو غوایه اوخر له غمَ خوراک او اوبه
پرېښودل اوچرگ بې غمَ ټوپونه وهل اوچرگې ئې ویستلې اوخوشحالَ گرزیده ÷
غوایه اوخره ورته وویل چه څموږ خاوند مړ کېږې اوته داسې خوشحالېږې ÷
چرگ ویل چه پرېږدیږِ چه مړ شِي ÷ هغو ورته ویل چه ولې داسې وائې ÷
ده ویل څکه چه څما دَلاندِ شل ښځې دِي او ما ټولې په ادب کړې دِي او دَده
یوه ښځه دَه هغه هم ده په ادب کړې نه دَه ÷ هغو وُوِچه دا به
څنگه وشِي ÷ ده وِخو کوتک دِ را واخلِي او پر دِ را وگرزوِي چه اوس ئې

يا ووژني او يا ورته توبه وباسي + چه سړي دا واوريده اوچت پاڅيده
كوتك ئې واخست خو چه يو دوه گذار ئې وله ورکړل ښځې توبه کړله
او چپ کښيناستله او سړي له مرگ خلاص شه +

حکايت شلم

له يو حکيمه نه نقل دي چه ويلي ئې دي چه له هر ځناور نه مې يو يو
خوي غوره کړي دي + چا ورته وويل چه په سپي کښ درته کوم خوي
ښه ښکاره شوي دي + هغه ووِ چه ډيره مينه په خاوند باندِ + بيا ئې
ورته وويل چه په خنزير کښ دِ کوم خوي خوښ دي + هغه ووِ چه
وختي په خپل کار پسي روانيدل + بيا ئې ورته وويل چه په قارغه
کښ درته کوم خوي غوره معلوميږي + هغه ووِ چه له هر چا ويريدل +
بيائې ورته وويل چه دَ پيشو درته کوم خوي ښائيسته ظاهريږي +
هغه ووِ چه ډيره زارِي کول په وقت دَ سوال کښ +

حکايت يو ويشتم

يو سړي وه چه ډير دولت ئې لاره ولي دومره شوم وه چه خپل ځان ته
به ئې خپله ډوډۍ نه زړه کيده + يوه ورځ چا وله ميلمستيا وکړه چه دي

لاړ شه هغه دَکور خاوند وله قِسم قِسم خوراکونه راوړل ٭ ده چه پرِشروع وکړله اول ئې غوښې وخوړلې ولې په سبب دَ تږشئ او دَ مصالې ده لړه ئې مزه ورکړله ډيرې ئې وخوړلې ٭ بيا ئې ورپسې کِير ورته کيښنو هغه خود نرم خيز وه شخوند ئې نه غوښت په هغه ئې لا شندي وکړلې ٭ داسې هاگئ قرمه ماچې آچار چه ئې څه وموندل صرفه ئې ونه کړه ٭ پس له خوراکَ دَ دوديِ نه هغه دَکور خاوند هر قِسم ميوه حاضرَ کړله لکه شفتالو ختکي انگور ناک ٭ چه ده هغه ميوې وليدلې داسې ورته هيبت واخست لکه سړي دَ ډيرو ورځو نهاروِي اوڅه خيز ئې په سترگو نه وِي ليدلې ٭ حاصل دا دي چه په هغو ميوو باندِ ئې هم خپله طبعَ صافه کړله ٭ بيا چه دومره گرم يخ سره په گيډه کښ جمعَ شول نو خواه مخواه اوبه څښل هم پکار وُو چه دَ اوبو وار راغې نو يو جام به ئې وله ډک ورکاوه او بل به ئې پرِتش آخست دومره اوبه ئې وڅښلې چه گيډه ئې لکه شناز وپړسيدله او له ځايَ خوځيدي نه شه ليکن چه لا قوّت ئې په ځاي وه نو په ډير تکليف سره ځان ئې خپل کور ته ورساوه چه کورته ورسيده نو غلې وله هسي نوروبکړ چه ساه ئې په خوارئ سره په سپيږمو آخستله ٭ بيا چه سخنئ

پر زياته شوه او مرګ ته نزدي شه نو هرچا ويل چه اوس ئې ځانکندن دَي مر به شي ‡ ناګمانه چا وله طبيب راوست چه طبيب ورته وکتل دِ چه معلوميږي چه خوراک دِ ډير کړي دَي ‡ ده وِ چه هو زه چا سليمه کړي دم دَ هغَه کره مِرځه قدر ډوډيُ خوړلي دَه ‡ طبيب ورته وِ چه ظالمَ که کور بردي وه نو کيږه خو دِ ځيله وَه ‡ ده وِ چه بي شکه دا رښتيا وائي ليکن نه رانه چا ډوډيُ پورته کوله او نه ئي تِ زه پاځولم او پخپله خود کېږ کيده زه به له پخي ډوډيُ نه ځنګه پاڅيدم ‡ طبيب ويل چه خير ځه وشوه هغه وشوه ليکن اوس داسي دارو پکار دِي چه ته وجار باسي ‡ ده وِ چه دا خوراک خوځما نه زړه کيږي که ځري داسي دارو وِي چه دا هضم شِي خو ښه دَه او که نه وِي نو خير دَي په مړه کيږه مرګ بهتر دَي او دومره زيان مِ له ځَ نه کيږي ته ورځه رخصت يي ‡

حکايت دوه ويشتم

يو سړي يو صراف ته ډير مال وسپاره او په سفر لاړ شه ‡ چه له سفرَ راوګرزيده نو له صرافَ ئي مال ځيل وغوښت صراف منکر شه وئي ويل چه ما له دِ مال هڅو راکړي نه دي ‡ هغَه سړي قاضي له

لاړ شه او حال خپل ئې ورته ووايه ÷ قاضِي ورته وُوِچه ته چا ته
شور مه کوه زه به ستا غور وکړم ÷ بو څو ورځي پس قاضِي هغه صراف را
وغوښت او ورته ئې وُويل چه زه بوډا شوي يم او کارونه را باندِ ډيرډِي را نه
پوره کيږِي نه ÷ نو دا مِ په زړه کښ فکر وکړ چه ته يو ديندار سړي بي چه
تا وکيل کړم نو ډير به ښه وِي ÷ صراف دا خبره قبوله کړله او ډير خوشحال
شه ÷ چه کور ته لاړ شه نو قاضِي هغه سړي را وغوښت او ورته ئې
وويل چه اوس ورشه خپل مال تر وغواړه ÷ سړي صراف له ورغي خو
چه هغه له ورايه وليد ورته ئې وُوِچه خوانَ هر کله راشه ډير ښه
وشو چه راغلي ستا مال څمونږ کره وه ليکن څما له فکر وتلي وه بيګاه
راياد شه ÷ چه مال ئې وله ورکړ نو بيا په اميد دَ وکيل توب قاضِي له
لاړ شه ÷ چه قاضِي وليد ورته ئې ووِچه نن بادشاه له تلي وم په دلبار
کښ مِ واوريده چه بادشاه تا ته يو لوي کار سپارِي نو ته اميدوار اوسه
چه مرتبه به دِ ډيره لويه شِي او زه به څان له چرته وکيل بل وګورم ÷

حکايت دري ويشتم

نقل دَي چه يو سړِي آس ساتلي وه او ډير مينه به ئې ورسره کوله او

شپه او ورځ به په خدمت ورته ولاړ وه * سحر نمازدیګر به ئې لمباوه کړاړه
به ئې به وقت وقت کوله دَ اوربشو دَ ارداوي غور به ئې په ښه شان کاوه
او ناري به ئې مصاله دار وله مدام طیاراوه او هره ورځ به ئې دَ ولویه غاړو
بانډِ په شنو شنو وابنو کښ ګرزاوه او چه چرته به ډیر وابنه پیښ شول
نو هلته به ئې لویه رسئِ په کښ واچوله او موږي به ئې ټک واهه او
رسئِ به ئې په موږي پورې وتړله نو دغه آس به ئې په هغه وابنو کښ
پرېښو بیا دې به په کښ کله څریده او کله رغړیده او کله به ئې لکئِ پورته
کړله توپونه به ئې وهل او خاوند به ئې په تماشه خوشحالیده * یوه ورځ
له ورځو وَه چه دې سړي دغه آس بهر بوت ناګهانه چه نِر ګوز شه جوړ
آس وُدنګل سرکښي ئې وکړله زین واګي جلب تر سري واړه اسباب ئې
دَ خان سره وښتاوه * خاوند ورپسې تمامه ورځ وزغلید * مګر هغه آس
وه او دې سړي وه لاندِ ئې نه کړي شه آخر سړي ستړې شه او آس لاړ
له سترګو ئې فنا شه چه نماښام شه سړي غریب ستړي ستومان کورته راغي
بې طاقتَ په کټ کښ پریوت * او په آس باندِ چه وقت دَ واښ شه نو وږي
شه چه خوله ئې وابنو ته ښکته کوله واګي ئې په زین کښ نښتي وې

خوله ئې وانښو نه ونه رسیدله ÷ چه نیت ئې دَ رغوړیدلو وکړ زین پرِ دَپاس
پروت وه هغه کار هم برابرِ نه شه ÷ چه په یوه ډډه به ئې آرام کاوه یو
رکاب به ترِ لاندِ شه په بله ډډه به بل رکاب ورته وړاندِ شه دا خبره هم
ونه شوه ÷ تمامه شپه لکه دَ څوکیدار په ولاړئ پرِ تیره شوله ÷ صبا له
بیا په هغه میدان کښ حیران ګرزیده ناګهانه یوه وله ئې په مخ کښ
راغله چه دي ورګښ شه هغه وله ژوره وه اوبه په کښ ډیري وي
ټول اسباب ئې په اوبو کښ لوند شه ÷ چه په ډیرِ کوشش سره بهر را
ووت او نمر پرِ ولګیده هغه شمي دَ اسباب دَده ټولي دَ اومي څرمني وي
څوچه وچي شوي نو ډیري کلکي شولي ÷ بیا هر ځاي چه به دَده په تنه لګیدې
هغه ځاي به غوڅیده ÷ غرض دا دَي چه ګیډي ته ئې زخم ورسیدو ملا
ئې خوږ شوله ښه ئې غوږ شه چه څه سختي ئې په دنیا کښ یادیدله هغه
ورته پیښه شوله ÷ چه ډیر وږي شه او کمِزوري شه او عاجز شه نو
په یو ځاي باندِ ولویده ÷ ناګهانه خنزیر ورباندِ پیښ شه اول خو ورته
په قهر شه ولي چه دَده خواره وړخ ئې ولیدله نو زړه ئې پرِ وسه او ترِ
ئې پوښتنه وکړله چه را ولې دِ داسي حال شوي دَي ÷ آس ورته په

څواب کښ وویل چه دا ټول دَدي واکو او دَ نښمو سبب دَي + بیا
آس ورته وُوِ که لکوټي ما له دي بندَ خلاص کړي نو ډیر ښه به وِي ثواب
به دِ وشي + خنزیر ورته وُوِچه څه ګناه دِ کړي وَه چه داسي حال دد
ته پیښ ښه + آس وویل چه زه خو داسي هیڅ ګناه خپل ځان ته نه
ګنړم چه دَ دومره سختيُ لایقه وِي + خنزیر وُوِچه داسي نه دَه یا ته
دروغ وايي او یا جاهل يي نه پوهیږي چه ګناه څه ته وايي نو که دروغ وايي
خوږه دِ نه خلاصوم پریږده چه کړیږي او بیا مړ شي او نه دِ آشنائي
کوم څکه چه خلق وايي چه دَ بدخويي سړي سره آشنائي ښه نه ده دَ سړي
خوي خرابیږي + او که نه پوهیږي نو بیا ستا ډیاره دا بند ښه دَي څکه
چه ناپوهي داسي څیز دي چه له دي سختيُ نه به دِ په زیاته سختيُ کښ
پریباسي + بیا آس ورته زاري وکړله ویل ئي چه ما خلاص کړه + خنزیر
ورته وویل چه ما ته رښتیا وُوایه نو به دِ خلاص کړم + آس ورته له
سرَ خپله قصه شروع کړله او حال ئي ورته ووایه + نو خنزیر وویل
چه اوس پوه شوم چه ته لوي جاهل يي او په ناکښ شي ګناه جمع
شوي دِي + ورښيُ دِ خاوند پرېښودل دويمه دَ هغه احسان

هېرول دي‌مه هغَه په ځان پسي زغلول او ستړي کول ځلورمه اسباب دَ ځان سره ښننول پنځمه په ځان باندِ دا گمان کول چه زه به يواځي گذران وکړي شم شپږمه هميشه په هغَه گناه کښ پاتي کيدل او توبه ور نه نه ويستل او خاوند له بيرته نه ورتلل ٭ آس وُويل چه اوس پوه شوم چه زه له دي عذابَ دوچند لايق يم ٭ خنزير وُويل چه اقرار دِ وکړ او ځان ته دِ ملامت ووايه نو اوس به دِ خلاص کړم ٭ بيا ئي هغَه تسمي پريکړلي او آس ئي له بندَ خلاص کړ ٭

حکايت څليرويشتم

په ورښتيِ زمانه کښ يو سړي وه چه يوه ورځ بازار ته دَ مړيي آخستلو دَ پاره لاړ شه ٭ چه يو دُکان له ورغي څه گوري چه يو مړيي ولاړ دَي ٭ ده ورته وُوِ چه هلکَ ستا خوښه دَه چه دِ واخلم ٭ هغَه وُوِ چه زه مړيي يم ځما هيڅ اختيار نشته ٭ بيا ده ورته ويل چه نوم دِ څه دَي ٭ هغَه ويل چه ستا خوښ وِي هغَه نوم راته وايه ٭ بيا ده ورته وُوِ چه څه کار به کوي ٭ هغَه وُوِ چه دِ رضا وِي هغَه کار را باندِ کوه ٭ بيا ده ورته وُوِ چه څه رنگ جامه به آغوندي ٭ هغَه ويل چه څه راکوي هغَه به

آغوندم ÷ بیا ده ورته وُوِ چه څه به خوري ÷ هغه وُوِ چه ستا څه خوښ
وِي هغه به خورم ÷ دي سړِي په زړه کښ ووېل چه دا خو ډېر ښائسته
مرغي دې ÷ چوڼ دَ خاوند سره ئې بیعَ وکړه تړِ نه ئې واخست ÷ بیا هغَه
مرغي ورته ووېل چه یوه خبره زه هم کوم که ستا رضا وِي ÷ ده وِ چه
بې شکَ ووایه ÷ هغَه وِ چه زه به دَ ورځې ستا خدمت په ښه شان
کوم خو دَ شپي رابانِدِ غرض مه لره ÷ ده ووېل چه ډېره ښه دَه ÷ نو ورسره
هغَه مرغي روان شه دواړه کور ته لاړل ÷ هر څه چه ده به ورته ووېل
هغَه به کول او چه شپه به شوه هلک به لاړ شه نو سحر پوري به نه وه
چه سحر به شه بیا به راغې ÷ حاصل دا دَی چه هم په داسې شان به ئې
مدام گذران کاوه ÷ چه څه قدر مُده تېره شوه نو دې خاوند ئې فکر وکړ
او دَ ځان سره ئې ووِ چه دا حال خو معلوم کړم چه دي دَ شپي چرته ځي
نو یوه شپه ورپسي روان شه که گوري په یو زوړ ړنډلي وران قبر کښ
رڼا ورته ښکاره شوه ÷ چه دې ورنژدي شه یو فانوس ئې ولید چه شمعَ
په کښ بلیدله او دغه هلک ولاړ وه نمونځ ئې کاوه ÷ چه له نمانځه نه
وزگار شه نو خداي پاک ته ئې زارِي کوله او ووېل ئې چه اي دَ بادشاهانو

بادشاهَ ته په ښو او په ظاهرو کارونو خبر يې دَ دنيا طالبان دِ خپلو
کارونو ته ورسَول نو دَ آخرت طالبان هم خپلو مطلبونو ته ورسَوه اي څما
پاکَ خدايَ زه ډير عاجز يم څما مراد حاصل کړه ÷ هرکله چه خاوند ئې دا
حال وليد زړه ئې صبر نه شه ورغي دَ هلک په پښو پريوت او
لاسونه ئې کښلول ÷ هلک پورته وکتل وئې ويل چه اي مهربانَ
خدايَ څما پرده ښيري شوه نور په دي ژوندون باندِ خوشحال نه يم ÷
خاوند ئې لاسونه نيولي وُو چه څه ته ئې وکاته دَ هلک ساه ختلي وه ÷

حکايت پنځه وېشتم

يو سړي وه چه دَ بادشاه په دلبار کښ به ودريده او دا آواز به ئې
کاوه چه دَ نيکانو سره نيکي کوه او بدانو ته به خپله بدي بخپله ورسيږي ÷
اودَ يو سړي ور ته په دي خبره ډيره کينه پيدا شوله او په زړه کښ
ئې دا فکر وکړ چه داسي کار وکړم چه دي دَ بادشاه له دلبارَ منعَ
شي ÷ نو بادشاه له ورغي او ورته ئې وويل چه مهربانَ دا سړي چه دلبار
له راځي او دا آوازونه هميشه کوي دَده له خولي نه اوريدلي شوي
دي چه خلقو ته وايي چه دَ بادشاه له خولي نه بد بوي ځي ÷ بادشاه

ډېر په قهر شه او وئې ويل چه ښنګه به دا خبره معلومه شي؛ هغه چغلي خور وويل چه بادشاه دِ ئې ښان ته راوبولي نو چه دَي بادشاه ته نژدې شي نو دا ئې نښه دَه چه په خپله خوله به لاس کېږدي؛ بادشاه وويل چه خير اوس ته بېغمَ شه زه به دا حال معلوم کړم؛ او دغه چغلي خور چه لاړ شه نو هغه سړي ئې راوغوښت په خپل ځاي کښ ئې ميلمه کړ چه ډوډۍ ئې وله راوړله نو پياز ئې ورسره هم کېښود؛ چه ده ډوډۍ وخوړله نو بيا روان شه دلبار له ورغي او په هغه خپل ځاي ودرېده او آواز ئې وکړ چه دَ نېکانو سړه نېکي کوه ښکه چه بدانو له خپله بدي بس دَه؛ بادشاه ورته وويل چه دلته راشه خبره درته کوم؛ چه دغه سړي ور نژدې شه نو په خپله خوله ئې لاس کښېښو دپاره دَدي چه بادشاه له دَ پياز بوي ورنه شي دَ بادشاه يقين راغي چه هغه سړي رښتيا ويل جوړ زر زر ئې يو خط وليکه او يو امير ته ئې تدغه سړي په لاس وليکه او په هغَه خط کښ ئې ليکلي وُو چه هر وقت چه دا سړي در ورسيده نو حلال ئې کړه او پوستکي ئې وباسه او له بوسو ئې ډک کړه بيا ماته ئې را واستوه؛ او دستور دَ بادشاه دا وه چه کاغذ به ئې بغير له انعام بل دَ

هیڅ څیز دَپاره نه ورکاوه * چه دي روان شه نو هغه چُغلي خور ورپسي
لاړ شه او ورته ئې وویل چه دا کاغذ ماته وښئه * هغه سړي وله کاغذ
ورکړ چُغلي خور روان شه کاغذ ئې هغه امیر له ورکړ * چه امیر کاغذ ولوست
جوړ جلاد ئې را وغوښت او حکم ئې ورته وکړ چه دا سړي مړ کړه
او پوستکي ئې وباسه * چُغلي خور وُویل چه ولې داسي کوئ * امیر وُوِ چه
دَ بادشاه حکم په دي شان شوي دي چه دَ کاغذ په درِنلو دا سړي
ووژنه * چغلي خور وُویل چه وار وکړه دا کاغذ دَ بل چا دَپاره شوي دي ځکه
چه هغه راولم * امیر وویل چه دا په کښ بادشاه نه دي کښلي چه کُند
وار ورته وکړه * پس له هغه جلاد وریاځیده او سر ئې تر پري کړاو
پوست ئې ورته وکښه او له بوسوئې ډک کړ بادشاه له ئې ورولیګه * چه
صبا شه هغه سړي بیا په دستور خپل راغي او وئې ویل چه دَ نیکانو
سره مناسبه ده چه سړي نیکي وکړي او دَ بدانو سره دِ سړي بد نه کوي په دا
سبب چه هغه خپل خوي دَ هغه ډیر دي * بادشاه ورته حیران شه وئې ویل
چه هغه کاغذ دِ څه کړ * سړي وُوِ چه فلانی سړي راغي له ما نه ئې وغوښت
جوړ هغه نه مِ ورکړ * بادشاه ووِ چه ناویلي وُوُ چه دَ بادشاه له خولي نه

بد بوي ځي ÷ هغه ويل چه نه ما خو هيڅ‌ري ويلي نه دي ÷ بادشاه وُوِ چه تا هغه ورځ ولې په خولې باندِ لاس کښيښود چه ما ته رازدې شوي ÷ هغه وُوِ چه ما له هغه فلاني سرِي پياز راکړي وه نو ما ويل چه هسې نه وِيِ چه بادشاه له بوي ورشي ÷ بادشاه وُوِ چه رښتيا وايي بدان دَ خپلې بدئ جزا پخپله مومي هغه ته خپله بدي و رسيده او نه ورځه خپل آواز په هغه شان کوه ÷

حکايت شپږ ويشتم

يو سړي په سفر روانيده نو له يو حکيم نه يې پوښتنه وکړه چه له چا سره ملګيرتيا کوم او له چا نه ځان ساتم ÷ حکيم ورته وُوِ چه له اته رنګ سړو نه په ډډه ګرزه ÷ اوّل هغه چه احسان نه مني ÷ دويم هغه چه بې سببَ قهر ورځي ÷ دريم هغه چه له آخرتَ بې پروا وِيِ ÷ څلورم هغه چه تنګ وِيِ ÷ پنځم هغه چه دروغ ګوي وِيِ ÷ شپږم هغه چه شهوت پرست وِيِ ÷ اووم هغه چه بې حيا وِيِ ÷ اتم هغه چه بې هيڅ په خلقو بدګمان ګوي ÷ او دَ اته قسمَ سړو په دوستئ پسې ګډه ګرزوه ÷ اول هغه چه په نيکئ قائل وِيِ ÷ دويم هغه چه له آشنا نه په سختئ کښِ لاس نه

اخلي ÷ دريم هغه چه ويل اوكول ئې دواړه ښه وِي ÷ څلورم هغه چه له كبرځان ساتي ÷ پنځم هغه چه عقل ئې په قهر غالب وِي ÷ شپږم هغه چه بې طمع سخاوت كوِي ÷ اووم هغه چه ادب ناك وِي ÷ اتم هغه چه دوست دَ صالحانو وِي ÷ هغه سړي چه لاړ شه او په دې خبروئې عمل وكړ په ډېره خوشحالئ سره له سفرَ بيا راغي او له ناكارَ خويَ بالكل خلاص شه ÷

حكايت اووه ويشتم

دَ چرګ او دَ چرغ سره آشنائي وَه ډېره موده ئې سره په يوځاي ناسته كوله ÷ يوه ورځ چرغ ووِيل چه اي چرګَ ستاسو اصل ډېر بې وفا دي او ډېر بې پتَ دي ÷ چرګ ورته ووِيل چه دا څه وائي په مونږ كښې كومه بې وفائي او بې پتي دَه ÷ چرغ ووِيل چه زه وِيم چه دا خاوندان تاسو ته اوبه په لوښو كښې ږدي او جوار غنم او ربوشي دَ دوډِي پوتي درته اچِي او سره دَدې تاسو له دوي نه داسي تښتئ چه نور يِي نه كيږي ÷ او مونږ داسي يُو چه څمونږ نه هر يو چه دي سړو له په لاس ورشي كه باز وِي كه بابښه وِي كه شكري وِي كه كنټه وِي كه جُرّه وِي كه چوزه وِي كه ترېناك وِي نو دوي څوئې اول ستړكي وګنډِي او خوراك اوبه ترِ منعَ كړي او

شوکېږي وله ورکوي مطلب دا دَي چه په قسم قسم عذابونو ئې عذابوي او بيا
چه ستړګي ئې پرانزي نو لړه لړه غوښه وله ورکوي تر هغه پوري چه له سرې
نه نه وېرېږي ÷ نو بيا په کښې لوي مزي واچوي او په څرګ يا په ننزري يا په
زرکه يا په سيسي يا په قارغه يا په ښاروني يا په نوړز يا په چوچنړه ئې ور
پرېږدي ÷ او په هغه څيز کښې ئې هم تار اچولي وي او وزرئې تړ وکښلي وي
نو دي خود وزي وي په ډېره مينه سره ئې ونيسي خاوند ئې په تلوار سي
راشي او هغه څيز تر خلاص کړي ÷ بيا چه ښه آموخته شي نو مړي تر
وباسي او په مرغۍ پسي ئې پرېږدي او ښکار پر کوي او کله کله داسي طرف
ته والوزي چه له نظر او دَ ليدو له حد بهر شي او که نه راځي نو لاس
پر دَ هغه نه رسېږي او سره دَدي ټولو کارونو چه ما درته وو بيا هغه
خاوند له راشي او بل طرف ته نه ځي ÷ نو ته ګوره چه مونږ څنګه وفادار يو
او نمک حلال يو ÷ څرګ چه دا خبره واورېده نو دومره ئې وخندل چه له
ډېري خندانه په شا لاړ شه ÷ چرغ ورته وو چه څرګ دا په څه سبب
دومره خندا کوي ما څه خطا خبره وکړله او که دروغ مې وو ÷ څرګ ورته ووېل
چه هسي ستا په دي ناپوهۍ پوري خندا راغلله نو مې وخندل ÷ چرغ

ویل چه ښنکه + چرګ ویل که چري ستاسو له ذاتَ سره داسي وکاندِ چه
هره ورځ یو یو ښي او حلالوي ئ او سر تر پریکوي او پوستکي تر وباسي
او په اور ئ ورنوي یا په کټوئ کښ ئ پخوي نو ربښتیا وایه که چري طاقت
دِ کیږي نو آسمان ته به والوزي او که نه + چرغ وویل چه بي شکَ حق
ستا په طرف دَي خما فکر هډو دي خبري ته نه وه اوس پوه شوم +

حکایت اته ویشتم

په کتابونو کښ لیکلي کیږي چه لقمان حکیم په اول حال کښ مریي وه په
رنګ تور او په شکل ناکاره مګر په هوښیارتیا کښ پوره وه + یوه ورځ خاوند
دَ پاره دَ خرڅولو بازار ته بوت ناګهانه یو زمیندار پرِ پیښ شه له هغه
خاوند نه ئ په قیمت سره واخست او خپل ځاي ته ئ بوت + چه شپه
شوله خاوند ئ اوده شه او دي یو خالي ځاي ته لاړ شه او په ذکر دَ
خداي خپل مشغول وه + هرکله چه دریمه حصه شپه تیره شوله نو
راغي خاوند ته ئ ووبل چه صاحب پاڅه که جنّت ګټي او له دوزخَ ځان
ساتي + خاوند ئ وویل چه پریږده چه خوب وکړم رب مهربان دَي + دي
لاړ شه چه دریمه حصه شپه نوره هم تیره شوه بیا راغي خاوند ته

ئې وُوِ چه پاسه صاحبَ که دَ آخرت دَپاره څه توښه طیاروي + هغه ورته
وویل چه قرار شه خوب راځي خداي به فضل وکړي + لقمانِ حکیم بیا هغه
خپل ځاي ته لاړ شه چه صبا شه بیا راغي ویل ئې چه اي صاحبَ
مهربانَ سړي او چارپایان او مرغان ټول دَ خداي ذکر کوي تو که ستا څه
نیکي په نیت کښ وِي نو دا ئې وقت دَي + هغه ورته وُوِ چه لکوټي مِ
پریږده چه آرام وکړمِ + لقمان تِړ لاړ شه دَ صباح نمونځ ئې ادا کړ خپل
وِرد وظیفه ئې پوره کړل نو خاوند ئې پاڅید لقمانِ حکیم ته ئې بوي او جغ
او سسپار او سسپار کوري او چوکه او سربانړي طیار کړل او دَ تخم کوړِي
کښ ئې وله لَسْ سیرَ اوربوشِي واچولي او غوابان ئې دَ قلبي ورته په مخ
کښ کړل + ویل ئې چه څَه په فلاني ځاي کښ له چا نه پوښتنه وکړه خمونږ
پټي به درته وښیي نو کیلونه په کښ برابر وباسه او په بیل بیل کیل کښ
تخم په مناسب سره ولونه او بوي کوه یو ساعت له به زه هم درپسي درشم
او که زه درنه شم هم خپل کار وکړه نو کورته راځَه + لقمان ویل چه ډیره ښه
دَه چه له کورَ وُوت دَیو کوانړي کره ورننوت او هغه اوربوشي ئې په
غوښتو بدلي کړلي بیا روان شه پټي له ورغي غوښت ئې په کښ وکړل +

تر نما ښامَ ئې بوي وکړه خو خاوند ئې ورپسي لاړ نه شه* ده چه پښي واړاوه او تخم ئې وکاره نو کور ته راروان شه* چه څه مُده تېره شوه نو خاوند ئې ورته ووېل چه لقمانَ څه چه لاړ شُو چه دَ پټي ننداره وکړو* لقمان وُوِچه ډېره ښه دَه دواړه سره روان شول* چه پټي له ورغلل خاوند ئې تماشه کوله چه ټول ئې کټل اوربوشي ورته ښکاره نه شولي* و ئې ووېل چه لقمانَ دا زرغونه خو دَ اوربُشو نه دَه دا تيغونه خو دَ مل څه دِي* لقمانِ حکيمِ ووېل چه هو صاحبَ دا غوښت شوِي دِي هغه اوربوشي ما نه دِي کرلي* خاوند ئې ووېل چه داڅه سبب ما خو تا له اوربوشي درکړي وِي او تا غوښت کرلي دِي* لقمانِ حکيمِ ووېل چه صاحبَ خير دَي مه خپه کېږه خداي مهربان دَي اوربوشي به وشي* خاوند ئې وُوِچه ربښتيا واِيي خداي مهربان دَي ولي تا غوښت کرلي دِي نو څنگه به اوربوشي وشي* لقمانِ حکيمِ ووېل چه صاحبَ لکه چه ته خوب دَ غافلانو شان کوي او مرتبه دَ صالحانو شان غواړي*

حکايت نه ويشتم

په يو ځنگل کښ زمري ډېره نيولي وَه او دَ هغَه ځنگل ښاور دَ هغَه

زمري په سبب سره ډېر تنګ وو او ګذران يې سخت وه ÷ يو وار يې مصلحت
وکړ ټول ښاور هغه زمري له راغلل ورته يې وويل چه موږ به په خوښه
سره تا له وظيفه مقرّره کړو نو ته په ورځ ورځ خپله وظيفه آخله او زيات
په موږ غرض مه لره چه موږ په آرام سره عمر تېر ووُ ÷ زمري وويل
چه ښائسته خبره کوئ مګر ځما باور نه کيږي ځکه چه په دې زمانه
کښې ما له هيچا نه خير نه دی موندلي بلکه هرچا راسره په قدر قدر بد
کړي دي ÷ ښاورو ورته ووې چه توکّل پکار دی او که نه ډېر کوشش وکړي
خو له نصيب به هيڅ زيات نه کړي ÷ زمري وويل چه ښه وايئ توکّل ډېر
ښه څيز دی ليکن کسب کول هم سنّت دي نو خواه مخواه سړي له مناسب
دي چه هسې کښيناستل نه کوي ÷ ښاورو ورته ووېل چه رښتيا خبره
دا ده چه سړي يقين کم لري نو توکل يې هم کمزوري وي ÷ زمري وويل چه
هم دا هسې خبره ده لکه چه تاسو وايئ مګر چه سړي لګوتې راکوزيږي نو
په اينړ پايه راکوزيږي او په يو يو دستکي ښه ږدي داسې نه کوي چه ګنډ په
يو وار ځان کوز غورزوي ÷ نو معلوميږي چه عقل او سترګې د سړي عبث
نه دي بلکه په هر څه کښې خداي فائدې پيدا کړي دي ÷ په سترګو ليدل

کیږي په لاسونو نیول په غوږو آوریدل په پښو تلل په خولي خوړل داسي په هر اندام کښي بلکه په هر قِسم مخلوق کښي رنګ رنګ او بیلي بیلي فائدي دي ÷ نو که کسب ښه نه وي نو دا به نه وُو مګر چه سړي کسب کوي او سړه له کسب توکّل هم کوي نو هغه بهتره دَه ښناورو په بووار شو جوړ کړ او پېر ئې وړپوري وخندل او وئې ویل چه تا هغه نه دِي آوریدلي چه یو سړي وه چه دَ هغه په کلي کښي وباکړه شوله نودي له مړګ تښتیده بوځاي کښي په یوه سمڅ کښي ننوت هلته پرِ یو کاڼړي پرپوت دسڼي مه شه هغه تښتیدل ئې هیڅ پکار نه شول ÷ مږي وویل چه خبره کوئِي خو نیمګړي ئې کوئِ تا سو نیوهیږئِ چه نوح پیغامبر خداي خلاصاوه نو ورنه ئې حکم وکه چه بیړئِ سازه کړه سره دَ دي چه بي بیړئِ ئې هم ساتلي شه مګر چه اولاد نه ئې ښکاره شي چه کسب ښه څیز دي ÷ ښناورو ئې وویل چه ستا خبره منلو شوله چه کسب ښه دَي نو دا توکل خو هم یو کسب دَي نو بیا دا کسب دِ ولي نه خوښیږي ÷ حاصل دادي چه ښناور په حُجّت کښي غلبه شول او دَ زمري څه دلیل پاتي نه شه خواه مخواه ئې غاړه کیښوده ÷ پس له هغه به هوسو او ګیدړو او سویو او لومبړو په کور کښي یوځن به پچه

پرکاوه او وله به ئې راليږد ÷ مرزي هم فکر وکړ چه بې تکليف خوراک هميشه
پيښيږي نو څه پکار چه ښان ربړوم ÷ چه دَ هرچا به واروه هغه به مرزي
له ورته او نور به بې وسواس په ځنګل کښ ګرزيده ÷ ناګهانه چه وار دَ
سوبي راغي نو خپل قوم ته ئې وويل چه آخر نو کومَ پوري به دا ظلم په موږ
بانډِ کيږي ÷ هغو ټولو عزيزانو ورته وويل چه دا خبره مه کوه ځکه چه ته
اوسَ پوري په هرچا چه وار راغلي دَي نو عذرئې نه دي کړي ÷ دا بد ناموسي
راځي چه موږ ورسره پخپله وعده کړي دَه او بيائې ماتووُ ÷ سوبي ورته وويل
چه که تاسو ځما آوريږِ نو زه به داسي کار وکړم چه ټول به له دي غم
خلاص شُو ÷ بيا ښناورو ورته وويل چه اي کم عقلي دا کوم خيال دَي
چه تا خوښ کړي دَي آخر ښان ته وګوره له خپلو غوږو وشرميږه نوم نه دِ
ذکر وکړه چه خرګوش درنه وبلي ښي ÷ سوبي وويل چه دا خبره مه ګوئِ په
دي سبب چه عقل او پوهه خداي سړي له ورکوي او بيا دَ وړوکو
له لاسَ هسي کار وشي چه لوي ورنه حيران پاتې شي ÷ تاسو نه ګوريږِ
چه مچيِ څومره وړوکي څيز ليدي شي او په څه رنګ سره ښائسته کور ړک له ګبينه
جوړ کړي ÷ ښناورو ورته وويل چه موږ په دي څه نه پوهيږو دا بلا ځموږ

نه دفع کړي مګر خپه په دي یُو چه دا کار کیدوني نه ګنړو بلکه فساد به تړِړیږ
جوړ شي ÷ او که تا څه خبره غوره کړي وِي نو مونږ ته ئې هم ووایه چه په
کښ مصلحت وکړُو څکه چه دَ دوستانو په اتفاق او په جرګه کښ ډیر خیر
وِي ÷ سوبې ورته وویل چه په هره خبره بانِدِ خلق خبردار کول ښه نه وِي نه
ګوریِ چه آئینه څه صاف رنګ لرِي لیکن چه نزدي ورته خبري وکړي شي او
آسوېلي پرِ ولګیږِي نو خړه شي ÷ او بل دا دري څیزَ پټ بهتر وِي یو زر
خپل بل وقت دَ تللو بله لار دَ تللو ÷ ښناورو ورته وویل چه جرګه او
مصلحت خو سُنت دِي او ته داسي پرده کوي چه نور پرِ نه کیږِي ÷ سوبي
ورته وُوِ چه ریښتیا دِي مګر هغه چا سره چه په دي یقین وِي چه دا مصلحتي څما
به دښمن ته خبر نه رسَوِي ÷ حاصل دا دَي چه حال ئې ورته وایه او په
دي فکر کښ شوه چه دَ زمري څه علاج وکړم ÷ مرګله چه وقت دَ تللو شه
نو په هغه ساعت لاړه نه شوه لکوتِي محطاله شوله ÷ هلته کښ زمري په
غضب شه او وِئې ویل چه څه لویه تکي رابانِدِ وشوله چه دَ داسي
ناکارَ خلقو مِ واوریدل او که بیا ژوندون وِي په عمر به دَدي خلقو په وعده باور
ونه کړمِ ÷ دي په دي قهر او غضب کښ لار ګورِي چه څوک راڅي او که

نه راځي ❊ او سویه ورو ورو په لار روانه ده او ښان سره فکر کوي چه زمري
نه ور ښکاره شوله نو هسې کړندې ور ورغلېده چه زبان له دغه یې طاقت
نه وه ❊ زمري ورته ترېو وچولي ونیوه او وې ویل چه اې بد ذاتې بې وقوفې دا
ولې دِ دومره ډیل وکړ شکر نه کوې چه زه په یوه سویه باندِ صبا بېګا ده وقت
تېروم او په هغه کښ هم لا تاسو سر پښې کوې را باندِ ❊ چه دا وغږه مِ
نه وَه کړي نو چه زړه به مِ غوښتنه هغه څېز به مِ خور او چه ستا سو
په طمع شوم نو لار نه مِ په کتل کتل دوه سترګي خلور شې نو هاله راته
یو پوښې غوښه را ورسوې ❊ سوې ورته وویل چه مهربانَ که عذر قبلوې
خو زه به یې بیان کړم او که اجازت دَ ویلو نه وي نو نه به یې وایم ❊ زمري
وویل چه چپ شه احمقې ته به څه یې او ستا عذر به څه وي ❊ سوې
ورته وُویل چه مهربانَ ته بادشاه یې نو که چرې ښما غُندِ مظلومې عرض واوري چه
په ما باندِ په لار کښې څومره سختې تېره شوې دَه نو ستا پر هیڅ مرتبه نه کمېږي
او ښما پرِ دَ زړه تسلي کېږي ❊ زمري وُوِ چه بې شکَ عرض او رم لیکن چه دَ
سر یتوب شان عرض وي نو دَ هغه غور هم کوم ❊ سوې وویل چه مهربانَ
بلا دِ ولخلم صبا له وقتَ یوه زه او یوه ښما ملګري ستا دَ میلمستیا دَ پاره را

روانې شوې وُوْ ناګهانه په لارکښ راباندِ بل زمرې پیښ شه مونږ خو اول دا
ګُمان وکړچه داځمونږ خپل بادشاه دَې مګرچه هغه په هیبت سره لاس را
واچاوه نو مونږ پوه شُوچه دا بل څوک دَې نو بیاچه یقین شه چه بل څوک
دَې نو ما ورنه وُویل چه خبردار شَه چه لاس را نه وړې ځکه چه مونږ
دَخپل بادشاه دَپاره مقرّرې شوې یُو + هغَه زمرې راپه قهر شه او و
ئې ویل چه چپ شَه ځما دَوراندِ لا هم دَبل چا نوم یادوې اوس به تاسو
هم ذرې ذرې کړم او بادشاه به ستاسو هم قطرې قطرې کړم + ما ورنه وُوِ
چه بارې دومرهِ خوم پرېږده چه زه بادشاهِ خپل ووینم + هغَه وُوِچه نه
دِ پرېږدم مګر چه دا ملګرې دِ راته پرېږدې + چه بل شان نه کیده نو خود
ملګرې مِ هغه ته پرېښودله او زه تِر په دې هنر سره را ورسیدم ماله ځَان
سره ویل چه که دواړه ونه شِي نو یوه خو به وخوري او ساعت به ئې پِر تیر
شِي + نو اوس ورستې عرض مِ دادَې چه نور امید له چا نه مه کوه دغه
لار دَهغَه زمرې په سبب بنده راته معلومیږي نوره نه پوهیږم + او که
خپله وظیفه دِخوښه وِې نو اوس روان شَه او لار صافه کړه + زمرې
بې اختیارَ پاځیده او له قهرهِ ئې وویل چه کوم ځای دَې راشَه راته ئې ښکاره

کړه که وِي خو اوس به ئې تماشه وکړي او که نه وِي خود به تا سره پوه شم ÷ چه بل څوک داسي دروغ و نه وائي ÷ حاصل دا دَي چه زمري او سويه دواړه روان شول يو کوهي وه چه دَ هغه خواته ورسيدل نو سويه تِرهلته ورسئي شوله ÷ زمري ووېل چه ولي پاتي شولي ÷ سويي وېل چه مهربانَ ته څما رنگ ته نه گوري چه څنگه له ويري نه زيړ شه ÷ زمري وُوِچه څه سبب دَي ÷ سويي وُوِچه په دي کوهي کښ هغَه زمري دَي او څما ملگري هم سلامنه ورڅخه دَه ÷ زمري ووېل چه راشه راته ئې وښيه ÷ سويي وُوِچه زه ويريږم او که ته مِ په غيږ کښ ونسي نو به نه ويريږم ÷ زمري سويه په غيږ کښ وُنيوله چه کوهي ته ورښکاره شه خپل ځان ئې په اوبو کښ ولېد يقين ئې راغي چه دا رښتيا بل زمري دَي جوړ سويه ئې پرېښودله او کوهي ته ئې ورټوپ کړ خود بيرته راختلي نه شه او ښکته اوبه ډيږي وِي په کښ مړ شه سويه راغله خپلو عزيزانو ته ئې دَ خوشحالئِ خبر وکړ ځناور ټول خوشحال شول او دَ سويي هرځا صفت کاوه او شاباشي ئې پرِ وايه ÷

حکايت ديرشم

يو سوداگر وه چه نيت ئې دَ سفر دَ هندوستان وکړ ÷ نو دَ کور لوي او واړه

ئې راجمع کړل او دَ بېل بېل نه ئې پوښتنه وکړله ورته ئې ووېل چه ووايه چه
تا له څه څيز له هندوستان راوړم ۞ هرچا به ورته هغه څيز يادا وه چه
څه به ئې خوښ وه ۞ او دَدغه سوداګر کره يو طوطي په پنجره کښې بند وه نو دَې
هغَه له ورغې ورته ئې ووېل چه ووايه اې طوطي تا له څه راوړم څکه چه
زه هندوستان له ځم او ته هم هندوستانې يې نو ووايه چه څه څيز دِ دَ
خپل وطن خوښيږي ۞ طوطي ورته ووېل چه ځما دَپاره دا قدر مهرباني وکړه
چه فلاني ځنګل له ورشې نو هلته کښې به طوطيان په ونو ناست وي اول
ځما سلام ورباندِ ووايه او پس له سلامَ ورته ووايه چه هغه فلاني طوطي
چه ستاسو آشنا دَي هغه ځموږ کره په پنجره کښې بند دَي او وېل ئې چه عجيبه
دوستي دَه چه زه په بند کښې يم او تاسو بې غمَ سيلونه کوئِ ۞ نو هر څه چه
هغوې جواب درکړ نو هغَه ماته ووايه ۞ سوداګر ووېل چه ډېره ښه دَه
دا خو به شل ځلَ وکړم ۞ سوداګر اسباب طيار کړ خان ئې سنبال کړ
هندوستان ته روان شه چه په يو ځنګل باندِ ورغې په هغه ځاي کښې
طوطيان ئې وليدل چه دَ هغه خپل طوطي خبره ورته ياده شوله له خانَ سره
ئې ووېل چه طوطيان دلته ډېر پيښ شوي دِي نو مناسب دِي چه خپله غاړه

خلاصه کړم * جوړ په هغه ځاي ودریده اووئ ویل چه اې طوطیانو فلاني
طوطي ځما کره په پنجره کښ بند دَي هغه اول تاسو ته سلام ویلي دَي او پس له
سلام ئې ویلي دِي چه څه مناسب دِي چه زه په بند کښ بې مجال یم او تاسو
په سیلونو کښ خوشحالَ ګرزئِ * چه دا خبره ده خلاصه کړله جوړ په هغوئ
کښ یو سړ طوطي وه نو هغه دَدي خبري په اوریدو سره لړزیده رپیده
رپیده هم په هغه ساعت مړ شه کوز په زمکه ولویده * سوداګر چه دا کار
ولید نو ډیر خپه شه او په دغه خپله خبره باندِ پښیمان شه او ځان خپل ئې ډیر
ملامت کړ ویل ئې چه څه له مِ دا کار کاوه چه دا عاجز بې هیڅ هلاک شه
معلومیږي چه دَدي طوطي او دَهغه طوطي سره ډیره خپلوي او آشنائي وه
او مینه محبت ئې سره ډیر وُو نو ځکه دَي دَهغه په خفقان او په ارمان باندِ
دسني مړ شه * یو ساعت زهیر ولاړ وه بیا خپه روان شه * چه سود
سودا خپل ئې برابر کړل نو بیرته په طرف دَ کور خپل وګرزیده چه په خیر سره کور ته
ننه وت لوي واړه واړه ټول را باخبَدل او ورته ئې ویل چه په خیر راغلي
خیریتونه دِ راوړل الحمد لله شکر دَي چه صحیح سلامت روغ جوړ خپل کور
ته راغلي * سوداګر هم وویل چه ډیر ښه ساعت دَي ثنا خداي له دَه

چه تاسوم تول روغ جوړ په خوشحالئ سره وموندلئ ÷ يو ساعت ئې سره
پوښتني يو له بل نه کولې بيا دَ هرچا دَپاره چه ئې څه راوړي وُو بيل بيل نه
ئې په مناسب سره ورکړل چا له پيزي وې چا له لونګئ وه چا له دَ
قميص دَپاره ټوکې وه چا له پرتوګ دَپاره ټوکره وه چا له دَ پګړئ دَپاره سلامت
ثان وه چا له ورکوټې پنکې وه دَ جنګو دَپاره دَ پښو جوتئ او دَ سر دو دوپټي
او دَ زړو ښځو دَپاره کوَښې او دَ سر پروني هرڅوک ئې په خپل خپل شان په
اندازه سره وپالل ÷ طوطي ورته وُويل چه صاحب دَ هرچا کار وشه نو اوس
څما په هم څه ووائي او که نه ÷ سوداګر ورته وويل چه رښتيا خبره دا دَه
چه زه ستا په هغه خبره رَسول باندِ هم پښيمان يم نو بيا تا ته لا څه
دَ هغوي خبر ورَسوم ÷ طوطي وُوِ چه دا هيڅ خبره نه دَه خبرخو سړي
رَسوي نو پښيماني څه دَه ÷ سوداګر وُويل چه په نه ويل کښ ما ته خير
ښکاريږي ÷ طوطي وويل چه ډيره ښه دَه خو تا څخه مهربانئ کړي وَه ويل
چه طوطي ته څه غواړي او اوس وائي چه نه وايم نو چه نه دائي نو
تسل څل ئې مه وايه څما خو څه زور نه دَي ÷ سوداګر پوه شه چه دي
خپه شه نو وئې ويل چه قصه داسي وَه چه زه لا هم په يو ځنګل کښ

طوطیان وُوَ هغوته مِ ستا سلام وُوایه او ستا ارمان او خفقان مِ بیان کړ
په هغو کښې یو طوطي وه خو چه ما خبره خلاصه کړله جوړ هغه في الحال مړ
شه ❊ نو زه پښیمان شوم زړه مِ ډېر خپه شه ما وویل چه افسوس دَي چه
دا خبره مِ نه وي کړي نو خنګه به بنه وُوَ ❊ طوطي چه په پنجره کښې دا خبره
واورېدله نو په ده باندِ هم لړزېدل او رېږدېدل او رپېدل راغلل دستي پرېوت
په پنجره کښې مړ شه ❊ چه سوداګر ورته وکتل نو په زړا شه چه ډېر افسوس
او بي شانَ فریاد يې وکړ نو طوطي يې له پنجري نه بهر وغورزاوه ❊ او طوطي چه په
زمکه پرېوت له هغه ځاي نه اوچت والوت پورته په یو ځاي باندِ کښېناست
سوداګر چه وکتل یو ساعت حیران شه بیا يې وویل چه اي طوطي هر څه
چه وشو هغه وشو مګر په دې حال خو ما هم پوه کړه چه دا خنګه کار وه ❊ هغه
طوطي ورته وُوِ چه هغه ما له خبر را ولېږه او ته پرِ نه پوهیدلې دَ
هغه مطلب دا وه چه ته ځان مړ کړه نو خلاص به شي او که ژوندي
يي او خوږې خوږې خبرې کوي نو دَ خلاصي امید مه کوه نو خود
زه ستا له ویلو نه په مطلب پوه شوم هغه شان کار مِ وکړ نو
خلاص شوم ❊ اوس داسي وایم چه ستا نمک مِ خوړلي دي ما وبخښه زه

رخصت یم ÷ سوداګر ووې چه ما بخښلې یې دَخدای په امان اوسې ÷ طوطې
روان شه ویل یې چه السّلامُ علیکم سوداګر ویل چه وعلیکم السّلام ÷

حکایت یو دیرشم

یو عالم دَ یو بادشاه دَ وړاندِ خبرې کولې ناګهانه په مینځ دَخبرو کښې یې
وویل چه په هندوستان کښې یوه ونه ده که دَهغې ونې میوه څوک وخورې
نو هغه سړې به نه زوړ شې او نه به مړ شې ÷ بادشاه چه دا خبره واورېده
جوړ په هغه ونه باندِ مین شه او سودا واخست چه دا به څه رنګ پیدا شې
لیکن دَ هغه عالم نه یې پوښتنه نه کوله چه دا ونه به چرته وِې او څنګه
وِې ÷ مګر چه دَده پرِ ډیر باور وه هغه سړې یې به طرف دَ هندوستان رخصت
کړ لو ډیر مال یې وله ورکړ او ورته یې وویل چه دا دولت لګوه او نور به هم
درلیږم خو هاله بیرته راځه چه ما له دَدغې وَنې میوه راوړې ÷ قاصد
روان شه چه هندوستان ته ورسیده نو له خلقو نه به یې هرځای کښې
پوښتنه کوله او ویل به یې چه هغه وَنه کوم ځای دَه چه سړې یې میوه
وخورې نو بیا همیشه ژوندې وِې او هیڅرې نه زړیږې ÷ چه خلقو به دا خبره
واورېدله نو چا به ورپورې خندل چا به ورپورې ټوقې کولې چا به ویل چه دا

لیونۍ شوي دي چا به ویل چه موږ ته معلومه نه دَه مګرچه دا ښه سړی
ورپسي ګرزي نو معلومیږي چه دا به ښښبا چرته وي ÷ چا به ویل چه په فلاني
ځنګل کښ که چري وي نو وي به او ویل ځاي ئې ګمان نه کیږي چه ګنډ
پیدا شي ÷ چا به ویل چه په فلاني ځنګل کښ یوه لوبه وُنه په هسي شان
سره دَه چه سر ئې چاته نه ښکاریږي او بېخ ئې هم نه معلومیږي او میوه ئې
هم چا له په لاس نه ورځي که چري هغه وي نو شک نشته ÷ داسي هرچا
به ورپوري مسخري کولي او دي غریب به په ځنګلو او په غرونو او په میرو
او په بیابانونو ګرزیده ÷ حاصل دا دي چه یو خوا بل خوا ورانډ ورستو ښکښته
پورته ډیر طلب ئې وکړ مګر هیڅ په حال یوه نه شه نو بیرته را وګرزیده چه
وطن ته راته ویرشیه وه او ځان سره ئې ویل چه بادشاه ته به څه عذر
کوم ÷ چه په یو ځاي کښ ئې شپه شوه په هغه ځاي کښ ئې واوریده چه
یو سړي ویل چه څموږ په دي کلي کښ لوی عالم دي او بې شان ښه سړي
دَي ÷ دي قاصد په زړه کښ وویل چه ياري ورشم که څه دُعا راته وکړي نو
دسنتي یاځید هغَه عالم له ورغي ÷ چه ملاقات ئې ورسره وشه نو ورته
ئې وویل چه صاحبَ دعا راته وکړه چه ایمان ئې خداي سلامت کړي

او په خیر سره وطن ته ورسیږم ÷ هغه دُعا ورته وکړله او بیائې تر پوښتنه
وکړه چه چرته تلي وې ÷ هغه قاصد ورته را ټوله قصه ووېله ÷ هغه عالِم
چه واوریده نو ورته یې ووېل چه ناسود هغه خپل عالِم په خبره نه پېي
پوه شوې ÷ هغه وُنه بله نه ده هغه ونه دَ علم ده یعني دَ علم میوه چه څوک
وخوري نو هغه سړی به همیشه ژوندي وي ÷ او دَ همیشه ژوندون څه
معني ده هغه معنی داده چه خدای وپېژني نیکي بدي ورته معلومه شي دَ
نیکۍ عمل کوي او له بدیٔ نه ځان ساتي کتابونه تصنیف کاندِ شاګردان تر یاتي شي
نو هر وکه دا سړی په تن مړ شي هم هیڅ غم یې نشته ځکه چه هلته یې روح
ژوندی وي او دلته یې نُوم ژوندی وي او ثواب یې داسي کیږي لکه یو ژوندي
سړي چه نیکي کوي او ثواب یې کیږي ÷ قاصد ورته وُوېل چه صاحب مونږ هم
دومره پوهیږو نادان نه یو که چري هغه علم یاد کړي وي خو مونږ به پوه شوي
وُوې چه عام والي ولي هغه دَ ټولو خلقو دَ وړاندِ وُنه یاده کړي دَه او په دې
خود هر څوک پوهیږي چه علم دَ یو ځینو نُوم دي او وُنه دَ بل څیز ÷ هغه
عالِم ووېل چه ته بیا پوه نه شوې تا له مثال پکار دَی چه ښه پوه شي ÷
ګوره یو سړي وي نو دَ چا پلار وي او دَ چا زوی وي او دَ چا نمسي

وي او دَ چا نیکه وي او دَ چا خورېي وي او دَ چا ماما وي او دَ چا تره وي او دَ چا وراره وي او دَ چا نوورزي وي او دَ چا ترېور وي او دَ چا وړور وي او دَ چا آشنا وي او دَ چا دښمن وي او دَ چا دوست وي ÷ تو اوس ته گوره چه ثمر دغه بو سړي دي او هر نوم له دي نومونو نه چه په خپل ځاي کښ ورته نحوک والي نو ویلي شي که نه شي ÷ هغه قاصد وُوِ چه بې شکَ ویلي شي ÷ نو هغه عالم وُویل چه داسي عِلم ته هم دواړه نومَ ویلي شي که دِ خوښ وي نو ور ته عِلم وایه او که دِ خوښه وي نو ور ته دَ ژوندانه وُنه وایه دواړه نومونه ئې برابر دي هیڅ فرق په کښ نشته ÷ هغه قاصد چه دا خبري واوریدلي تسلّي ئې د زړه وشوله او له عالم نه ئې رخصت واخست او دَ خپل کور په طرف راروان شه ÷ چه ښهر ته ورسیده بادشاه ورته په امید کښ وه چه دلبار له ورغي بادشاه تر پوښتنه وکړله ویل ئې چه وُوایه میوه دِ وموندله او که نه دِ دَه موندلي ÷ قاصد ورته له سره قصه شروع کړله خپل ډبرېدل او په ملکونو او په غرونو او په بیابانونو گرزیدل او دَ خلقو مسخري کول ټول حال ئې ورته بیان کړ ÷ چه بادشاه واوریده نو ډیر خپه شه وئ ویل چه ستا ډېر عبث شه او خما مطلب

وته شه ❊ پس له هغه قاصد ورته دَ هغه عالم خبره په ښه شان سره بېله بېله جدا جدا واوروله ❊ چه بادشاه واورېدله ډېر خوشحال شه او قاصد له ئې دَ ګرزېدلو له مشقّت نه دوچنده دولت ورکړ او پس له هغه باقي عمر دَ عِلم او دَ عالمانو په ساتنه او په پالنه کښې تېر شه ❊ او حکم ئې وکړ چه هر څوک دِ واورِي چه عِلم نه په واره دي او نه په زاړه دي څو زده کړه دِ کوي که لوي وِي او که وړوکي وِي ❊

حکايت دَ وريښم

يو سوداګر سړي يو څو بارونه دَ وريښمو يو تڼک ساروان ته وسپارل او ورته ئې ووېل چه دا وريښم استامبول ښهر ته ورسوه ❊ او دي هم ورپسي روان شه مګر چه نيمه لار ئې ووهله نو هلته ناجوړ شه او کاروان ته ونه رسېده ❊ او چه دي ورستو پاتې شه او په تېښه خپله ورنه رغي نو هغه ساروان ګمان وکړ چه ګنړه سوداګر مړ شه ❊ جوړ لاس ئې دَ وريښمو څو لو پورې کړ ټول ئې خرڅ کړل او اوښان ئې هم ورکړل او دَ ساروانئ زړوکي ئې بدل کړل ❊ چه پس له څو مُدّې سوداګر ور ورسېده او ډېره پوښتنه ئې وکړله نو هغه ساروان ئې پيامونډ نو ورته ئې ووېل چه راوړه که نه څما مال دِ څه کړ ❊ هغه ورته

وویل چه زه نه تا پیژنم او نه دِ له مالَ خبر یم ÷ هغَه سوداګر ورته وُوِ چه ځما وربښم دِ په اوښانو په مزدوریِٔ راوړِي نه دي څه ÷ هغَه ورته وېل چه نه خطا شوي يې څَه په ساروانانو پسې ګرزه نو ما ته څه وايې ÷ عاقبت پس له ډيري جګړې نه مقدمه قاضِي ته ورسېدله ÷ قاضِي له سوداګر نه پوښتنه وکړه چه وايه څوانه نه څه دعوىٰ لرې ÷ سوداګر وُويل چه ما دَ وربښمو بارونه ده ته حواله کړِي وُو وېل مِ چه دا په مزدورئِ استامبول ته وُرَسَوه اوس چه يې تِر غوارم دَي يې نه راکوِي ÷ قاضِي بيا له ساروان نه پوښتنه وکړه چه ته څه ځواب لرې وُوايه ÷ هغَه وېل چه زه څه ووايم ما هېڅ ساروانِي کړي نه دَه نو · قاضِي بيا سوداګر نه ووېل چه ته شاهدان لرې ÷ هغَه وېل چه صاحبَ په دې معاملو کښ څوک شاهدان نه نِسِي نو ÷ قاضِي وويل چه ځئِ ورک شئِ احمقانو داخه عبث قصې راته کوئِ ÷ چه دوي روان شول نو قاضِي آواز وکړ چه اي ساروانَ ودرېږه خبره کوم ÷ دَ ساروان فکر نه وه زر يې مخ ورسنو را واړوه ÷ قاضِي پوه شه چه دا ساروان دَي ÷ نو بېرته يې وګرزاوه او مال يې تِرِنه سوداګر له واخست او دَ منکرېدو په سبب يې ګنهګاره ورته واخستله او سزا يې پوره وله ورکړله ÷

حکایت دري دیرشم

په یوځاي کښې میلو او ښامار په جنګ سره نښتلي وو مګر میلو ئې ډېر بې طاقت کړي وه ٭ ناګهانه یو ځوان پرې پېښ شه چه دوي ئې ولیدل نو فکر ئې وکړ چه ښامار لوي ظالم دي نو مناسب دي چه دَ میلو ملګري شم او ښامار په دواړو تنو ووژنو ٭ او دَ میلو چه په ځوان نظر ولګیده نو فریادونه او اشارې ئې ورته وکړل ځوان توره ووېستله او وردو ئې کړ په ښامار ئې ګذارونه وکړل ښامار مړ شه او میلو ئې ترې خلاص کړ ٭ میلو فکر وکړ چه دې سړي ځما سره ډېر ښه وکړل نو اوس ما له ښائي چه دَ ده خدمت کوم ٭ نو هر خوانه چه به ځوان ته دغه میلو به ور سره ځغښت یوځاي ګرزیده ٭ یوه ورځ دغه ځوان له خوب ورغي اوده کیده نو چه سر ئې ولګاوه او ځملاست نو یو سړي پرې راغي ورته ئې وویل چه ځوانَ دا میلو دِ څه لګېږي چه ته ملاست يې او دې درته ناست دي ٭ ځوان ورته دَ ښامار قصه وکړه او ویل ئې چه اوس مِ آشنا شوي دي نو خود راسره یوځاي ګرځي ٭ سړي ورته وویل چه ځوانَ دا دَ احمقانو کار دي چه ته ئې کوي په ده پورې زړه مه تړه او په هر شان چه کېږي رخصت وله ورکړه او ځان ترې خلاص کړه ٭

خوان ورته وویل چه دا دِ زړه را باندِ نه بنه کیږي ښکه وایي او که نه وِي نو
نه گوره چه دَ صحرا ښاور دَي او څه رنگ ښما سره مینه کوي + هغه وویل
چه زه داسي نه وایم چه دده تا سره مینه نشته مگر وایم چه دَي بي عقلَ
دَي هغه دَده مینه به ستا په حق کښ غم شي + بلکه ما سره راشَه چه
سره بو جنس یو زه به دِ هم خدمت کوم + خوان وویل چه ورځه ځپل کار
کوه + هغَه سړي ورته وُوِ چه ښما کار هم دا دَي چه تا له دي بلا نه
خلاص کړم او تا له مناسب دِي چه دي پرېږدي او ما سره ملگري شي ښکه
چه که چِري زه دِير ناکارَ شم نو له میلو نه خو به بنه یم او دا درته وایم
چه دَده په آشنایيِ کښ ستا خیر نشته + خوان وُوِچه ښما له غمَ ته
خلاص يي هیڅ فکر مه کوه خو اوس ما پرېږده چه خوب وکړم + هغه سړِي
ورته ویل که خوبِ کوي نودَ یو سړِي په خواکښ اوده شه او دَ میلو په خوا
کښ مه اوده کیږه + خوان ورته شا کړله او زړوکي ئي په ښان خوړ کړ
او ځ ئي تړپِټ کړ + دَ هغه سړِي وربانډِ زړه وسه لاس ئي ورواچاوه
ویل ئي چه پاځَه نیک بخت ستا دَ ښو وایم + خوان ورته ویل چه ورځه
ښما دَ ښو مه وایه + حاصل دا دَي چه سړِي ډېر څه وکړل خو خوان

ورسره لاړ نه شه آخر ترِ روان شه او ورته ئې وويل چه ته پوه نه شوې
او ځان دِ ډوب کړ ÷ چه هغه سړي لاړ شه نو ځوان اوده شه او ميلو
ورته ناست دَي خوكئِ ئې كوي ÷ ناګهانه يو مچ راغي او دَ ځوان په مخ كښيناسته
ميلو لاس وخوځاوه مچ ئې له مخ نه وشاړه هغه مچ بيا راغي ده بيا وشاړه
چه يو څو ځلَ ده وشاړه او هغه نه منع كيده جوړ قهر ورغي دستي
لاړ شه يو لوي كاڼي ئې دَ جرندي دَ پل همره راوړ او هغه مچ دَ
ځوان په مخ ناست وه چه ئې وله كاڼي راپرېښو نو مچ او مخ ئې دواړه
ذري ذري كړل دَ ځوان او دَ ميلو آشنائي پوره شوله ÷

بې مطلب دَ احمقو كار و بار
همره نه دَي چه ئې خوك وكاندِ شمار

دَ جاهل سره دِ نه درومي په لاړ
كه ښيكړه څوك دَ ځان سره كړِينه

حكايت څلور ديرشم

يو سړي زرګر له لاړ شه او ورته ئې وويل چه ما له كنډه راكړه چه زه يې
وړي وړي ټوكړي دَ زرو وتلم ÷ هغه زرګر ورته وويل چه غلبيل خو ما بل
چا وړي دَي ÷ هغه سړي ورته وِ چه ته څه وائي او زه څه وايم ÷ زرګر
وويل چه جاروم په دوكان كښ نشته ÷ هغه سړي ورته وويل چه ما

نه معلوم يې چه کوز نه يې خبره اوري او سره دَي زه له تا نه يو ځيز
غواړم او نه راته بل ځيز بادوي * زرګر ووېچه بنه آورم چه ته کنړه
غواړې مګر وينم چه ستا لاس رېچيږي او دا زر به درنه پرېوزي * نو بيا
به وايې چه جارو راوړه چه دَ زرو پوټي پر راټول کړم نو بيا به
غلبيل غواړې دَ چاڼولو دَپارَ * نو ما ځکه دَ جارو او دَ غلبيل
عذر وکړ چه نالايق نه وينم چه دغه کار وکړې نو خواه مخواه به
دې دواړو ته حاجت پرېوزي او دا دواړه خود نشته *

حکايت پنځه ديرشم

که په زور که په زاريُ وي که په جنګ ځوک دَ بل نصيب خوړې نه شي هيڅ رنګ
هر سړي ته خپلا خپل قسمت رسيږي په کوشش نه څه کميږي نه زياتيږي

لکه يو دهقان وه چه يو کال يې غله ډېره وشوله نو دَ درې سوو اشرفو يې نې
په يو ځاي خرڅه کړله او هغه اشرفۍ به يې سنبالې ساتلې او په هيڅ کار کښ
به يې نه لګولې * يوه ورځ يې هغه اشرفۍ راواخستلې او په لاس کښ يې
آړولې راآړولې ناګهانه يو آشنا ورته په کوڅه کښ آواز وکړ * چه ده دَ
آشنا نعره واوريدله نو اشرفۍ يې په هميانۍ کښ واچولې او هميانۍ منګي ته

ډډ وغوږوله او آشنا له روان شه ÷ ولې چه دي وروت نو ښځې ته يې ووېه
په تلوار ډوډۍ پخه کړه ÷ ښځې چه د پخولو فکر کاوه کور کښ اوبه نه وې
حيرانه په دروازه کښ ودرېدله ويل يې چه ګندِ که څوک راشي چه اوبه
راوړي ÷ ناګهانه يو قصاب د غوايانو د اخستلو د پاره ګرزېده په دروازه پېښ
شه ÷ ښځې ورته سوال وکړ ويې ويل چه لګوټې ما له دا منګي ډک کړه او
راوړه ÷ قصاب منګي واخست اوبو له روان شه چه په لاري ته په منګي
کښ يې ګړ ګوړ واورېده چه ورته يې وکتل هميانۍ يې په کښ وليدله
چه را وايې خستله او اشرفۍ يې په کښ وليدلې نو ډېر خوشحال شه او وې
ويل چه خپل کسب به کوم او دا به سختي ورځې د پاره اماني کېږدم ÷ جوبه
اوبه او منګي يې پرېښول او لاړ شه هغه خپلې روپۍ چه ورځنه وې په ښو
يې يو څورب غوايه واخست او روان شه ÷ چه وړاندِ ته فکر کاوه چه دا
اشرفۍ کوم ځاي کېږدم ÷ چه ډېر فکرونه يې وکړل نو آخر دا مصلحت يې ښه
شه ويل يې چه دا هميانۍ سلامته د دې غوايه په خوله کښ ورکوم چه
ګېډې ته يې ننوځي ÷ چه بيا يې حلال کړم نو خود هميانۍ به ترِ سلامته بهر
راوباسم ÷ پس له هغه غوايه يې راوپرزاوه او هميانۍ يې په ډېرو خوارو

سره په خولي کښ کښيښوه او په کومي کښ ئې ورننه بسئله ÷ چه غوايه ئې
روان کړ په لارکښ وله زوي مخې له راغې غوايه نرِ هغه کور ته بوت او دي
په بل کار پسي روان شه ÷ او هغه دهقان دَ هغه آشنا سره جلب کاوه
ناګهانه دَ قصاب زوي څخه ئې غوايه وليد ÷ او حال داسي وه چه ده نذر
منلي وه ويل ئې چه زه به يو غوايه حلالوم جوړ دَ هغه قصاب دَ زوي نه ئې
غوايه واخست کور ته ئې راوست ÷ چه يو ساعت تير شه دَ اشرفو تفحص
ئې وکړِ ويل ئې چه دلته په منګِي کښ مِ هميانئِ دَ اشرفو ايښي وَه هغه
څه شوه ÷ ښځي ورته وويل چه ئوره خبر نه يم مګر داغاي يو سړِي له مِ
منګِي دَ اوبو دَ پاره ورکړي وه ولي نه هغه سړي راغې او نه ئې منګي راوړ
دهقان پوه شه چه اشرفئِ سړِي بوړلي ډيرخپه شه آخر صبر ئې غوره
کړ ÷ پس له هغَه غوايه ئې حلال کړِ چه ټک ټوک ئې کړ او غوښي ئې طيار
کړلي او لري کَمي ئې صافول ناګهانه ئې هميانئِ په کښ بيا موند له له حدَ زيات
خوشحالَ شه ÷ پس له دغه کارَ هميانئِ به ئې دَ ځان سره ګرزوله په ملا
پوري به ئې مدام تړلي وَه يوه ورځ دهقان بهر ووت په يوه چينه باندِ ئې
غسل کاوه چه له لنبلو نه وزګار شه نو زړوکي ئې واغوستل او هميانئِ ئې

په هغه خاي هيره كړله ÷ چه ري له هغه خاي لاړ شه جوړ يو شپون دَ گډو
سره راغي چه دَ چيني په غاړه يې همياني وليده ور دوئ كړاو زړئ واخستله
چه له هغه خاي په ډډه شه او اشرفي يې وشمارلي ډير خوشحال شه ÷ بيا وان
يې فكر وكړ چه نوره مزدوري نه كوم بيا يې فكر وكړ ويل يې چه دَ چا به را بانه
گډان وتښتي چه ده څه مونډلي دي نو مزدوري به دَه چه كوم يې ÷ پس له
هغه هميانئ يې په تخرگ كښ ونيوله او په گډو پسي روان شه ÷ او دهقان
ته چه اشرفئ ورياد شولي په جلدئ ورپسې لاړ شه يو خوا بل خوا و
گرزيده ولي هيڅ په حال يې پوه نه شه ÷ چه كور ته راغي ښځې ته يې حال ووِ
دواړه يو ساعت خپه كښيناستل بيا يې سره ووېل چه انديښنه بكار نه دَه
هر څه چه نصيب وي هغه پيښيږي خو مصلحت په دي دَي چه بيا به مال
نه جمع كوو هر څه چه راځي هغه به خورو ÷ او شپون چه هلته كښ گډې
څرولي ناگهانه له يو طرف نه پر سواره راغلل ÷ شپانه دَ سورو له ويري هميانئ
كوهي ته ور وغورزوله ولې ويل چه په قرار به يې بيا وباسم ÷ چه شپون
گډې رواني كړلي ناگهانه هغه دهقان دَ كوهي په غاړه راغي چه او به يې
څښلي بكريئ ئې په كوهي كښ ولويد له ÷ چه بكريئ پسي كوهي ته وركوز

شه همیانۍ دَ اشرفو ډکه ئې بیاموند له شکر دَ خدای وایه او کورته روان شه ❊ چه اشرفۍ ئې وشمارلې پوره درې سوه وځلې جوړ لاس ئې پرې پوړی کړه په ښه شان ئې خرڅ کاوه او اشرفۍ ئې لګولې ❊ چه څو ورځې تیرې شولې نو هغه شپون دَ هغه دهقان میلمه شه چه ډوډۍ ته سره کښیناستل شپون به دَ غم خبرې کولې او ساړه ساړه اسویلې به ئې وېستل ❊ دهقان ترې پوښتنه وکړله ویل ئې چه دا ولې داسې زهیر یې ❊ شپون ورته دَ سواره او دَ کوهي او دَ همیانۍ قصه وکړله ❊ دهقان چه دا خبره واوریدله په تلوار ښځې له لاړ شه او ورته ئې وویل چه مونږ ګمان کاوه چه دا مال حلال دې لیکن دا پردی وخوت ❊ هغه چه ولګیده هغه خود لاړ شه او دا باقي هر څومره چه وې راکړه چه خاوند له ئې یوسم ❊ چه ښځې را واخستلې سل اشرفۍ باقي وې هغه ئې وله ورکړلې شپون واخستلې روان شه ❊ چه کورته لاړ شه نو یو لږکې ئې نش کړ او دغه اشرفۍ ئې په کښې واچولې او لکه همسا به ئې دَ ځان سره ګرزاوه ❊ یوه ورځ په غاړه دَ یو سیند ګرزیده هغه لږکې ترې او بوته ولویده جوړ او بو یووړ ❊ او دهقان دَ اوداسه دَپاره دَ سیند په غاړه ناست وه جوړ هغه لږکې ئې ولیدنو ئې را ونیو کورته ئې یو وړ ❊ یوه ورځ ئې هغه لږکې په

تبرچاوه چه گذار ئي ورکړه اشرفئ ترِ پريوتلي چه وئي کتلي پوره سل وُخلي نو بيائي هم په هغه شان لګولي * ځو مُده پس بيا ئي شپون وليد چه بد حال او خراب رنګ يئ وه دهقان ترِ پوښتنه وکړه چه دا ولي * هغه ورته دَ هميسا اودَ اشرفو اودَ سپند دَ ورلو حال ووايه * دهقان ترِ پوښتنه وکړه چه دغه اشرفئ دِ چرته موندلي وي شپون ورته دَ چينې دَ غاړي دَ هميائئ قصه ووېله * دهقان وُوِ چه هغه په چينه هم خما وَه او له کوهي نه هم ما وکښلي وَه او هغه لرګي هم ما موندلي وه خپل مال ما ته امانت سلامت را ورسيده زه خوشحال يم ته خپګان مه کوه *

حکايت شيخ دير شم

دَ سړي دښمنان چه په کور کښ مخالف شِي نو دي په آرام سره گذران کوي * لکه يو شيخ نيکو کار او پرهيزکار وه چه جدا له خلقوئي کوتهڼئ جوړه کړي وه او مدام صبا نماښام په عبادت دَ پروردګار خپل مشغول وه او لاس ئي له کار او له کسب دَ دنيا وېښلي وُو * يو مريد وله لنکه غوا ورکړله ولي هسي غوا وَه چه په پيو به ئي تالو دَ اميد خوږيده او په لښئ به ئي لښکر دَ کرمئ خوريده او په غوړو به ئي بيخ دَ خشکئ خوت * او په هسي شان تجربه وه

چه په تشو لیدو به ئې سړي خوشحالیدٔ ÷ چه دغه غوا دَ شیخ په کورکښې
ورېده نو یو غل په نیت دَ غلا یوه شپه وررروان شه او یو شیطان په
صورت دَ سړي ورسره په لار کښې ملګري شه ÷ غله تر پوښتنه وکړه ویل
ئې چه څوک یې او چرته ځې ÷ هغه ورته وِوِ چه زه شیطان یم او په شکل
دَ سړي شوي یم دَ هغه فلاني شیخ کو ته زې له ځم ÷ ځکه چه اکثر خلق دده
دَ مریدئ په سبب ځمونږ له فساد دَخلاص شول نو اوس بم نیت دَي چه
ئې مړ کړم ÷ بیائې له غله نه پوښتنه وکړله ویل ئې چه ته څوک یې او په څه سپي
روان یې ÷ غله وِوِچه زه هم ځم دغه شیخ ځنه یوه غوا ده چه ئې تر ینه کړم ÷
شیطان ورته وُوِچه راځو ډېر ښه کار وشه راځه چه دواړه سره ځو ÷
پس له هغه دواړه روان شول دَ شیخ کره ورغلل چه ورورسیدل شیخ او دَه
شوي وه ÷ غل فکر وکړ و ئې ویل چه که دا شیطان ورننبي ځي او په ده ګذار
وکړي نه بائده چه شیخ بیدار شي او ځما کار پاتې شي ځکه چه نور خلق به په شور
دَده راجمع شي ÷ او شیطان وُوِچه که دا غل غوا بیائي نو خواه مخواه دروازه به
لري کوي او چه دروازه لري کیږي نو ضرور به دَ تنبي چړ آواز وکړي او په آواز
دَ تنبي دَچوړ به دا شیخ ویښ شي نو خود ځما به پرِ لاس و نه رسیږي ÷

بیا شیطان غله ته وُوِچه نه وار وکړه چه زه دي مړ کړم بو بیا ته دا غوا بیایه + غله وُوِچه نه ته وار وکړه چه زه غوا بوزم نو ها له بیا دي وژنه + حاصل دادي چه یو دبل ئي سره نه منل جوړ دواړه په جنګ شول چه پوزول ئي سره ونښلول نو غل کم زوري شه خو چه طاقت ئي ورک شه نو زر ئي شیخ ته آواز وکړ ویل ئي چه شیخ صاحب را ورسیږه شیطان راغلي دي تا وژني + شیطان وُوِچه را وچلیږه دا غل راغلي دي ستا غوا بیتوي + شیخ دَدوي په جګړه را ویښ شه چغې ئي کړلي دَکور محلت خلق را ټول شول شیطان او غل دواړه ونښتېدل شیخ له مرګ خلاص شه +

حکایت اووه دیرشم

دَ چینځي او دَ مږي سره آشنائي پیدا شوي وَه نو دَ اوبو په غاړه به سره دواړه یو ځاي کیدلي او خپله مشغولا به ئي کوله او ورځ په ورځ به ئي سره مینه زیاتیدله او هره یوه به دَ بلي په لیدلو خوشحالیدله + یوه ورځ ورته مږي وویل چه اي چینځي زه له تا سره راشم او ته په اوبو کښي یي نو حیرانه شم او چه ناري درته وبري وه څم نو ته دَ اوبو په تيځ کښي یي دمنه څما آواز نه آوري او په شوار وتر کښي یو دار نیول یا بنه څما تبلې نه کیږیه چینځي

ورته ووېل چه ډېر ښه وايې مګر چه لکوټې پس پس دېدن کېږي نو مينه زياتېږي ✤ مړي ووېل چه دا رښتيا دي مګر زياتېدل هلته پکار دي چه مينه کمه وي او چه مينه زياته وي نو بيا زياتول يې څه رنګ کېږي ✤ ما سره داسې مصلحت وکړه چه زه ساعت په ساعت ستا دېدن کوم څکه چه ناري درته وهم خو ته يې آورېدلي نه شې او که پخپله درځم نو هغه خود ښکاره خبره ده چه زه درتللي نه شم ✤ نو يا داسې وکړه چه يو رېبار وي چه سوال ځواب رسوي او يا بله يوه نښه په مينځ کښې مقرره شي چه په هغې سره يو هېږو او دواړه يو ځاى کېږو ✤ چينځې ووېل چه باري داسې کار به وکړو چه يو تار پيدا کړو او يو سر يې ستا په پښه پوري وتړو او بل سر يې ځما په پښه پوري نو چه ستا حاجت شي نو ته به دَ تار سر راکاږې نو زه به خبر شم او که ځما حاجت شي نو به يې زه راکاږم نو ته به خبر شې نو خود به دې کار به سره دواړه يو ځاى کېږو او مجلس مشغولا به سره کوو ✤ ناګهانه بلې چينځې ورته ووېل چه کورئ دغه کار چه تاسو خوښ کړي دي دغه دواړو له بد دي څکه چه يو به هم لړې په خپل کار پسې تللي نه شي او بله به هم په خپله رضا ګرزېدلي نه شي ✤ دوي دواړو ورته ووېل چه ستا به څوښه په دوستي

او په آشنائي بانډِ زړه نه وي ښکه داسي وايي ÷ هغي ويل چه ډېره ښه
ده خپله رضا کوئ ÷ بلي چينجي ورته وويل چه دَدي دا خبره هم ښه وه ولي
زه وايم که چري دا نار دَ چا په ښه کښ ونښلي او راکښلي شي نو ستا سو
به دَ هري يوي گمان وي چه دا مِ هغه آشنا راغلي دَه او هغه به بل
ځوک وي چه سره جمع شي نو دواړه به خرابي شي ÷ دوي هغي نه هم
وويل چه چپ شه مه لګيا اوسه ÷ بلي ورته وويل چه ځوک دَ چا مصلحت
نه آوري نو بيا ارمان وکړي خو فائده ئي نه وي ÷ تاسو فکر نه کوئ اي مړي
که ته بهر له دښمن نه نښتي نو ښي به دِ بندي وي تللي به نه شي او که
چري دښمن لاندِ کړلي نو دا چينجخه به هم در سره راکښلي شي ÷ او دَ چينجي
به هم داسي حال وي نو دَ يوي په سبب به بله هم مړه شي ÷ دوي ويل چه
خير دَي که يو ښای مرگ وي خو لا به ښه شي ÷ ناگهانه يوه ورځ تېوخ راغي
په مړه ئي غوټه وکړله ÷ مړه نښنښدله مگر ښي ئي ونښتلي چه تېوخ له په
پنجو کښ ورغلله جوړ پوزنه ئي کړله ÷ ناگهانه په تار پوري چينجخه هم را پورته
شوله چه تېوس په يو کلي ورغي دَ هغه کلي خلقو شور کړ ويل ئي چه دا تېوخ
څه هنر جوړ کړي دَي چه چينجخه ئي له اوبو راوکښلي دَه چينجي وُو چه

نیوځ هیڅ نه دِي کړِي مکر چه څوک نصیحت نه آوري نودا به ئې حال وِي‡

حکایت اته دیرشم

لیکلي شوي دِي چه یو بادشاه نیت وکړ چه دَ څان دَپاره یو عجیبه بنګله جوړه کاندِ + نو اوّل خو ئې کچ کر راجمع کړل اوورته ئې وویل چه څما دَپاره یوه بنګله پکار دَه تاسولاړ شئ او په فلانۍ ځاي کښ نښه وکړئ ولې په داسې ترتیب سره چه هیڅ نقصان په کښ نه وِي + بیا ئې ترکاڼران راوبلل حکم ئې ورته وکړ چه غره ته لاړ شئ څما دَ بنګلي دَپاره لرګي طیار کړئ + هغوي غره ته روان شول چه وررسیدل نو په کار ئې شروع وکړله چابه په ترږونو لرګي وهل چابه په آرو باندِ تختې ویستلي چا څخه به ځولي ترشح په لاس کښې وُو لرګي به ئې سورې کاوه چا به په رندې باندِ شاتیرونه او سرباري لرې هوارول‡ هغوي ټول به خپل کار باندِ لګیا وُو + او هلته بادشاه حکم وکړ بیلداران او نور دَ ختو مزدوران ئې راوغوښتل + هغوي لاس پورې کړ چا به په بیومونو او په سبنسو رو خاوره کښوده چا به او به راوړلې خټه به ئې جوړوله چا به په چارټې باندِ خټه آړوله چا به خښتې سازولې چا به کاڼي او خښتاکونه دَ جوبي دَ جوړولو دَپاره راوړل + حاصل دا دَي چه مناسب دَ ودانۍ اسباب ئې ټول طیار کړه

چه په ودانۍ ئې لاس پوري کاوه دَ هغه بنګلي په حد کښ دَ يتيمانو کور راغې
سړي ورغلل دَ هغو مور ته ئې وُوِ چه دا کور په بادشاه خرڅ کړه ÷ هغې ويل
چه څماخه قدرت دَي چه دَ وړوکو يتيمانو مال خرڅ کړم ÷ سړي ډير څه وکړل
خو دَي هغَه کور خرڅ نه کړ بيا دا ښځه په څه کار سپي تلي وَه چه بيرته
راغله بادشاه ئې کور وران کړي وه کټونه پوزې برستني بالښتونه لوښي لګي
هرڅه اسباب ئې وله غورزولي وه ÷ چه دي وکتل وئې ويل چه اي پاکَ
خدايَ که زه کور نه وم نو ته خو حاضر وي په خپل کامل قدرت سره ÷ ناګهانه
هغَه بادشاه او هغَه اسباب او هغَه نور ظالمان په يو ساعت کښ
زمکي ونغړدل ÷ لکه په دي باب کښ عبد الحميد ويلي دِي ÷

دَ ظالم دَ ودانۍ مخ په ورانۍ دَي   دا خبر دي په جهان کښ مُسلم

حکايت نه ديرشم

هسي يو نقل آوريدلي کيږي چه يو طبيب له يو رنځور ورغي او ورته ئې وويل
چه صاحب زه رنځور يم که دارو لا له راکړي نو ډير به ښه وِي او ثواب
به دِ وشي ÷ طبيب ئې لاس وينو چه نبض ئې وکوت نو له رګ نه ورنه
معلومه شوه چه ډير ناجوړ دَي بيائې ورته وويل چه ژبه وباسه چه ژبه ئې وويسته

نو هم ورته معلومه شوه چه رنځورتیا ئې سخته دَه ٭ بیا ئې ورته ویل چه دَ
خولې خوند دِ څنګه دَی ٭ هغه رنځور وویل چه صاحب کله خوږوي کله تریخ وِي
کله پیکه وِي داسې په یو حال نه وِي چه زه ووایم ٭ بیا طبیب ورته وویل چه
ګیډه دِ څنګه دَه ٭ رنځور ووِچه صاحب ګیډه مِ پړسیدلې وِي غله مِ نه
هضمیږِي زړه مِ سوزِي ترِوي ترِوي او به مِ له خولې نه راځي ٭ بیا طبیب ورته
ویل چه دست دِ څه رنګ دَي ٭ هغه ویل چه صاحب کله نرم وِي کله کلک
وِي کله قبض وِي کله آزاد وِي ٭ بیا ئې ورته وویل چه څه خیز ته دِ زړه
کیږِي ٭ رنځور ویل چه صاحب له هرڅه نه مِ زړه موړ دَي هیڅ مِ خوا ته نه کیږِي ٭
طبیب پوه شه چه دا ناجوړتیا سخته دَه داسې دَ جوړیدو نه دَي ٭ باري
داسې کار پکار دَي چه ورته دا خبره نه کوم چه ته نه رغیږِي لیکن چه
پرهیز خوئ مات شي نو به هم ښه وِي چه ارمان خوئ په زړه پاتي نه شي ٭
نو ورته ئې وویل چه ځوانَ ستا دارُو دا دِي چه هرڅه خوره او هرخوا ته ګرزه
او زړه خپل مه خپه کوه ٭ رنځور چه دا واوریدل ډیر خوشحال شه او دُعا ئې
ورته وکړله او ویل ئې چه ځم دَ ولي دَ غاړې سیل ته مِ زړه کیږِي چه ننداره
وکړم ٭ چه ولي ته ور ورسید څه ګوري چه یو شیخ سړي ناست دَي او دس کوِي

ده چه ورته وکتل نو په زړه کښ ئې وویل چه ډیرهٔ مزې ښځې ئې دي که یو
مضبوطه ښځه وله په داښځه کښ ورکړم نو ډیر خوند به وکړي ÷ بیائې فکر وکړ
او وئې چه طبیب خو تا ته ویلي وو چه هرڅه کوه جوړ ور روان شوي دي
او یوه مضبوطه ښځه ئې هغه شیخ له په ښځه ورکړله ÷ شیخ
وکتل ویل ئې مه وهه کم بخت ولې وهي نو یو ځل خو ئې فکر وکړ او ویل
ئې چه ئې له دي ډیري دا نسم او په دا مخ ئې وهم چه بیا داسي نه کوي ÷
بیائې فکر وکړ ویل ئې چه رنځور دي هسي نه وي چه له وهلو نه مړ شي دا
به لا بل غم جوړ شي ÷ خو جوړ له لاس ئې ونیو او قاضي له ئې بوت بیا قاضي ته
ئې وویل چه قاضي صاحب دي سړي زه بې هیڅه په ښځه باندې په ښځه وهلی
یم نو اوس ته وله سزا ورکړه که په خره ئې سور وي او مخ ئې تور وي او بازار
کښ ئې ګرزوي او که بل څه عمل ورسره کوي ÷ قاضي ورته وو چه شیخ
صاحب ته خپکان مه کوه خلق مثل کوي چه ته چت جوړ کړه نو له ما نه پر نقش
واخله ته وګوره دا عاجز کوم طاقت لري چه ته له ده نه بدل غواړي بلکه
له لاس دې کیږي خو څه خیرات هم ورکړه ځکه چه څوک چا سره بد وکړي او هغه
ورسره ښه وکړي نو سربټوب او بزرګي دغه ته ویلي شي ÷ شیخ ویل چه ما

څخه خو فقط شپږ روپۍ دي نور هیڅ نه لرم ❊ قاضي ویل چه مناسب دِي چه دري روپۍ ده له ورکړي او دري ځان ته پرېږدي ❊ دوي دواړه لا په دي خبرو کښ وُوچه رنځور دَ قاضي صاحب خټ ته کښلي دي ورنه عجیبه ښکاره شوې دَي جوړ ورو ورو ورنژدي شه قاضي صاحب ویل چه کښېنه ما ته څه خبره کوي جوړ یو مضبوط پړق ئې قاضي صاحب له هم ورکړ او وئې ویل چه دا روپۍ جوړي شپږ واړه ما له راکړئ او ما رخصت کړئ زه جوړ نه یم دوره ودرېدلي نه شم ❊ قاضي له قهر زرغي دغه ځاي پر دَ شیخ وار جوړ شه او ورنه ئې وویل چه عجب انصاف دَي چه په ما بانډِ حکم کوي او چه په تاخبره راغله نو وچولي دِ څه رنګ غوټه کړ او خوره خپه شولي اوس ورکړه نه هم دري روپۍ چه زړه ئې بنه شي خلق دَ ظالمانو لاسونه پرېکوي او نه وله انعامونه مقرّروي ❊ قاضي وویل چه شیخ رښتیا خبره راده چه په زړه پر ډیر خوشحال شوم چه ده وُوهلم ❊ شیخ ویل چه سترګي خو دِ بل شان حال وایي او له زړه نه دِ خبر نه یم ❊ قاضي ویل چه سترګي وریځ وګنړه او زړه باغ دَي او چه وریځ وژاړي نو باغ هاله تازه شي ❊ شیخ ویل چه قاضي صاحب خداي قادر دَي چه او زګلذار کولي شي نو بي ژړا هم سړي خوشحالولي شي نو دا څه

عذر دِ وکړ چه یې له زړانه زړه نه خوشحالیږي قاضي ورته ویل چه شیخ
نه نه پوهیږي چه ناکار نه وِي تو شه به هډو څوک و نه پېژني که کار
نه وِي تو مرغلرو له به څوک لاس هم ورنه وړي اوکه پرواتوب نه وِي
تو دَ تورزن به څوک نوم یاد نه کړي اوکه جهل نه وِي تو علم او حکمت
به عبث شي تو اوس که زړه او ته دي رنځور ته بخښنه ونه کړو تو
څموږ او دَ عامو خلقو سره کوم فرق دي پس له هغه شیخ هم
راضي شه دري روپئ یې رنځور له ورکړلي او قاضي هم او دُعا
یې ورته وکړله دواړه ویل چه ورځه خداې دِ مل شه او په
صورت دِ رب روغ کړه رنځور په طبیعت صافئ سره روان شه

حکایت خلویښتم

دَ محمودِ غزنوي بادشاه دستور داسي وه چه په شپه کښي به دَ پاره دَ
غور دَ عاجزانو په غریبانه جامه کښي گرزیده یوه شپه چه په دستور خپل
سره روان شه ناګهانه دَ غلو په ټولي باندِ پیښ شه هغوي پر آواز وکړ ویل یې
چه څوک یې ده ورته ویل چه ستاسو ملګري یم هغوي ویل چه ډیره ښه
دَه راځه کښېنه چه ورسره کښیناست تو هغو ویل چه هر څوک خپل

خپل کمال بیان کړئ چه دَ ټولو حال معلوم شي نو به هاله په غلا پسې
روانیږو ❖ نو یو تن ویل چه زه خو دَ سپي په ژبه پوهیږم چه هرڅه وایي
هغَه راته معلومیږي ❖ بل وویل چه ځما دا کمال دی چه که دَ شپې
راته ډیر لرې سړی ښکاره شي نو بیا دَ ورځې چه یې ووینم نو راته نه خطا
کیږي ❖ بل وویل چه زه زور او قوت ډیر لرم او چه کمنډ ته کښېنم نو
په یو ساعت کښې سوری کوم ❖ بل وویل چه ځما خو کمال په پوزه کښې
دی نو چه هر چرته چا زر ښخ کړي وي نو زه یې په بوي پوهیږم ❖ بل وویل چه
زه خو په کمند غورځولو کښې استاد یم په هسې شان سره چه که ډیر مهین
او هوار دیوال وي خو چه زه ورته کمند ور وغورځوم نو په کښې ونښلي ❖
چه غلو ټولو خپل خپل کمال بیان کړ نو بیا بادشاه ته یې مخ راواړوه او ور
ته یې وویل چه وایه ځوانَ په تا کښې هم څه فائده شته دَی او که نشته
پنډونه به چلوي ❖ بادشاه وویل چه په ما کښې فائدې ډیرې دي مګر یوه
فائده خو دادَه چه که په یو ځای کښې ډیر بندیان وي او دَ قتل حکم پرې شوی
وي او جلاد ورته توره وکښلي په لاس ولاړ وي او په هغه ځای کښې ځما
دَ ږیرې ویښته وخوځیږي نو هغَه ټول به خلاص شي انشاءالله تعالیٰ ❖ هغوی

وویل چه خدای دِ وبخښه دا خو هډو خموږ مطلب وشه نه خموږ دَ لو
سرداري واک اختیار خموږ ستا دي ❊ هر کله چه دا حالونه ئې سره وویل نو بیا
په غلا پسي روان شول چه قلا ته نزدې شول نو دَ سپي غپا شوله ❊ هغه
غل چه دَ سپو په غپا پوهیده هغه وویل چه دَدې سپي له آوازه دا معلومیږي
چه باد شاه خموږ سره دی ❊ هغه نورو ورته وویل چه کم عقلَ نه نه
پوهیږې څه خموږ دَ پاره خو هم دا خوان بادشاه دی که نه ځکه چه
بادشاه خو هغه نه وېلي شي چه قیدیان خلاصولی شي او هغه کار دَ دَه
له لاسه هم کیږي نو بل بادشاه موږ څه کوو ❊ بیا هغه دَ بوي خاوند چه
بوي وواهه نو وئې ویل چه دا ځای خزانه معلومیږي ځکه چه ما له دَ زرو
او دَ اسباب بوي راځي ❊ نو هغه دَ کمند خاوند قلا ته کمند واچاوه او ټول
پر بانډِ واوړیدل ❊ بیا هغه قوتناک دَ خزانې په کوټه کښې سوري وکړ او
ټول ورننوتل او چه څومره اسباب وړلی شه همېره ښړونه ئې طیار کړل
او بیا په قلا واوړیدل او بهر له ښهرَ ئې هغه مال ښخ کړ او نیته ئې
کینود له چه په فلانۍِ شپه به دا مال وباسو او په مناسب سره به ئې
ویشو ❊ پس له هغه خپلو خپلو کورونو ته لاړل او بادشاه دَ بیل بیل ځای

معلوم کړ او نوم يې دَ هريو زده کړ نو په يو چل سره تړ وغړيده ÷ جوړ په
هغه ساعت کوتوال يې راوغوښت او په هغو پسې يې واستاوه او زښني يې
حاضر کړل ÷ چه صبا شه او بادشاه په تخت کښيناست او غله يې وړته
په مخ کښ ودرول نو هغه سړي چه دَ شپې ليدلي شوي خپل به يې نه
خطا کاوه بادشاه يې وپيژاند چه دا خو هغه څموږ ملګري دَي جوړ خپل ملګي
يې په دي حال پوول خبر کړل ÷ هغوي په يو وار عرض وکړ چه سلطانه
مهربانه بلا دِ وزله اوسه وړښيئ څموږ يوه خبره واوره که مهرباني وي
باقي هر څه چه کيږي هغه به خود وشي ÷ بادشاه ووېل چه ووايئ خپل زړونه
تش کړيئ چه ارمان مو پاتي نه شي ÷ هغوي ووېل چه څموږ په ملګرو
کښ چه څه معنیٰ وه او څه کمال وه هغه ښکاره شوي دِي نو هغه
پوول په ښه راته غله ممکر په پوتن کښ دَ سړي دَ پيژاندلو کمال وه او په بل
کښ دَ آزادولو فائده وه نو هغه دَ پيژاندلو فائده خو ظاهره شوه ليکن
دَ خلاصولو په فائده نه پوهيږو چه هغه به کله معلوميږي ÷ بادشاه چه
دا خبره واوريدله له حيائي هيڅ ونه ويل خو حکم يې وکړ چه هغه خزانه راوړيئ
او دوي له يې همبره مال ورکړ چه دوباره يې دَ غلا له کار بي غم کړل ÷

حکایت یوڅلویښتم

په بخارا کښې یو بادشاه وه چه بې شانَ سخي یاديده او بیله بیله ورځ ئې دَ یاره دَ قِسم قِسم خلقو مقرّره کړې وه ÷ دَ رنځوراٰنو دَ یاره یوه ورځ وه دَ کُنډو دَ یاره بله ورځ وه دَ سپیداٰنو دَ یاره بله ورځ وه دَ عالماٰنو ملایاٰنو دَ یاره بله ورځ وه دَ یتیماٰنو دَ یاره بله ورځ وه دَ خوارو مسافرو دَ یاره بله ورځ وه ÷ او هر یو ته به ئې په خپله خپله ورځ دومره څه ورکړل چه دَ هغې خپلې نیتي پورې به یې دَ هغه ګذاره کیدله ÷ ولې شرط په کښې دا وه چه یره هیڅوک دِ په خوله څه نه وایي او که چرته چا به په بې فکرۍ یا په خطا یا په ناپوهۍ سره سوال وکړ نو په هغه ورځ به هغه سړي هیڅ ونه موندل ÷ مګر په ټول عمر کښې یو سړي ورته سوال کړی وه او مال ئې ورنه ډیر وړي وه ÷ او هغه داسې قصه وَه چه یو سړی راغي او خبر وه چه بادشاه به ویلو باندِ ورکول نه کوي لیکن وئ ویل چه بادشاهَ مهربانَ زه ډیر محتاج یم که څه مهربانۍ وې چه ځما به حق کښې وکړې شي ÷ بادشاه ورته وویل چه ګمان مِ کیږي چه ستا په شان بې صبره او بې شرمَ به بل څوک نه وِي ÷ هغه سړي وویل چه بادشاهَ یقین مِ دي چه په دې زمانه کښې به ستا په شان بل بې شرمَ او بې صبرَ څوک نه وِي څکه

چه دا دنیا دِ هم وکتله او هغه جهان ته دِ هم لاس اچولي دَي ＋ نو
بادشاه وخندل او چه څه ته دَ هغه حاجت وه هغه ئي وله ورکړل ＋ او بي له
دغه سړي نه بل سړي دَ ویلو په سبب سره ورنه څان مړکړنو هاله ئي
څه وله ورکړل او که نه وِي نو بل چا له ئي نه وُو څه ورکړي ＋ او دَ هغه سړي
داسي کار پېښ شوي وه چه هغه راغي سوال ئي وکړ ＋ بادشاه ورته ویل
چه نه درکوم که هغه ډېره زارِي وکړله لیکن وله ئي هیڅ ورنه کړل ＋
بله ورځ دَ عالمانو سره کښېناست نو ټولو له ئي هغه مقرّره وظیفه ورکړله
او ده له ئي څه ورنه کړل ＋ بیا ئي له پښو نه زړي زړي توکړي شلیدلي کپړي
جا پېره کړلي او څان ئي دَ ړنځورانو سره ملګري کړ هم هیڅ ئي ورنه موندل ＋
بیا ئي سترګي وتړلي او دَ ړندو سره ئي څان مل کړ په هغه ورځ هم هیڅ ورنه
شول ＋ بیا ئي په مخ زړوکي واچاوه او دَ زړو بوډیانو او دَ کنډو په ډله کښېنه
ورنوت هم هیڅ ورنه شول ＋ آخر چه ستړي شه او په هیڅ شان سره کار
نه برابریده نو لاړ شه او دَ یو سړي سره ئي مصلحت وکړ او ورته ئي وویل
چه زه به ساه بندِي وکړم نو ته مِ په کټ کښي ولچوه او په هغه لار بانْدِ چه بادشاه
تیرېږي هلته څما کټ کېږده او چه راشي نو ورته ووايه چه دا سړي مړدي او

کفن بئ نښتنه ÷ او هرڅه چه حاصل شي نو بیا به ئې سره نیم کړو ÷ هغه
سړي هم هغه شان کار وکړ چه بادشاه پرِ راغئ نو پوښتنه ئې وکړله چه
دا مړي ولې دلته پروت دي ÷ هغه ورته ووئیل چه قربان دِ شم بادشاه بلا
دِ واخلم دَده کفن نښته ÷ بادشاه ډېر مال وله ورکړ وئیل ئې چه واخله هم
وله کفن وکړه او هم نور کاروبار پرِ دَ اسقاط دَ نمانځام دَ جمعو دَ ځلوېښتي
برابر کړه ÷ جوړ هغه سړي سر پورته کړ و ئې وئیل چه تا هم وعده کړې
وَه چه څه نه ورکوم ولې ما هم وعده کړې وَه چه زه ئې نه پرېږدم ÷
بادشاه وخندل او وئې وئیل چه هاله دِ څه وموندل چه ځان دِ مړ کړ ÷

حکایت دوه ځلوېښتم

اوښ او غوایه او ګدوړي سره درې واړه ملګري شوي وُو ÷ په یوه لار تلل
ناګهانه یوه ګېډۍ دَ واښو ئې وموندله نو ګدوړي ووئیل چه داسې مصلحت
پکار دَي چه دا واښه لږ دي او موږ درې تنه یُو نو که دا ګېډۍ ووېشو نو
خو دَ یو تن کار پرِ نه کېږي او تش دَ خولې خوند او دَ ګېډې سوې به وِي او که
یو تن له ئې ورکړو نو خواه مخواه څه شخوند به پرِ وُوهِي او ګېډې له به ئې
تاو ورشي ÷ او که دا مصلحت ستاسو خوښېږي نو هرڅوک چه په عمر

کښې مشروِي هم هغَه دِئ وخورِي څکه چه مشرانو له عزّت ورکول مناسب دِي ÷ نو بيا اکدورِي ووېل چه مشر به هاله معلوم شِي چه چانه سن ياد وِي اوزه په خپل تاريخ پوهېږم چه دَ حضرتِ ابراهيم دَ کډوِي سره مِ نسبت لګيږي نو دا کيږئِ څما رسيږي ÷ غوايه ووېل چه خير ته خو اوسِني بي اوزه دَ هغو غوايانو عزيز يم چه حضرت آدم ورښي په جغ نړلي وُو نو معلوميږي چه مشرِي به څما وِي نو دا کيږئِ دِ ماله راکړلي شِي ÷ اوښ غړانګه ښکته کړله او کيږئِ ئې په خوله کښې ونيوله اوويل ئې چه څما خو تاريخ او عمر يادو لو ته حاجت نشته دي هرچا ته معلومه دَه چه زه لوي يم نو عمر به مِ خود پېروِي اوس که بل څوک څما هومره وَي نو مناسب وُو چه څما سره ئې سيالي کولي او کالونه ئې شمارلي ÷ دا خبري ئې دوي ته کولي او کيږئِ ئې وخوړله ÷

چه دَ چاوِي دَ لاسونو زور قوّت هغَه کله دَ حساب لري حاجت

حکايت دري څلويښتم

يوه زرکه دَ غوه په لمن کښې په ښه شان سره ګرزېدله اويه قهقه سره به خنديدله ÷ يو باز په هوا ته چه دَ دي په ټول ئې نظر شه او آوازدَ خندا ئې په غوږ ولګيده بي اختيارَ پرِ مين شه ÷ نو په زړه کښې ئې داسي

فکر وکړ چه په دې دنیا کښ دَ هر چا ملګرِي ته حاجت شته دَي او خلق وائي
چه هر څوک چه بې یار وِي هغه تل بیمار وِي ؞ نو دا زرکه هم ښائسته دَه
او هم خوش آوازه دَه چه زړه دَ سړِي ورسره خوشحالیږِي ؞ پس له هغه مصلحت
ورو ورو زرکې له ور روان شه ؞ چه دَ زرکې نظر په باز ولګید ؞ جوړ له
ویرې په تلوار سره وزغلیدِله او دَ غرِه په یو غار کښ ننوتله ؞ باز له هوا نه
راکوز شه او دَ هغه غار په خوله پورې کښیناست لوورته ئې ووئیل چه اې زرکې
زه ستا له دې هنرَ غافل وم او دا همره کمال ستا ما ته معلوم نه وه ؞ نن
ورځ ستا قدر راته ښکاره شه نو اوس وایم چه پس له دې له ما نه مه
وېرېږه او څما په ملګرتیا کښ خوشحاله ګرزه ؞ زرکې ورته ووِېل چه اې
زورآور دَ لاس له ما نه ونښه او چرته بله زرکه وګوره چه په غوښه ئې څان
موړ کړې ؞ او په هغه وقت چه اور او به یا سوړې او نمر سره یو ځاي شي
نو څما او ستا ملګرتیا به وشِي ؞ باز ووِېل چه اې زرکې ته فکر وکړه چه زه
ولې ستا سره داسې په مینه او په مداد خبرې کوم ؞ منګلې مِ ماتې نه دِي
چه ښکار پرِ نه شم کولي او مښوکه مِ هم سسته شوي نه دَه چه ګُند له
خوراکَ پرېوتلي یم ؞ نو هیڅ سبب نشته مګر محبت ستا را باندِ باعث دَي ؞

اوښما به دوستي کښې ستا ډير فائدي دي يوه دا ده چه دَ نورو بازونو له
لاسَ به خلاصه يي بله دا ده چه خپلي جائي له به دي بوزم چه له ټولو زرکو نه
پاس گذران کوي بله دا ده چه هره زرکه چه ستا خوښه وي هغه به دله راولم
چه دې سره مشغولا کوي ÷ زرکي ووېچه ته دَ مرغانو بادشاه يي او موږ غريبان
خلق يو نو که چري ستا په آشنائي زړه وره شم او خبره مې له خولي يي باکه
ووزي نو بيا به ته په غضب شي او ما له به نقصان شي ÷ باز ورته ويل چه تا
نه دي آوريدلي چه دَ دوست سترگي دَ دوست په عيب نه لگيږي ÷ او زه چه
ستا دَ محبت دعوئ کوم نو بيا څنگه به ستا بد و نه بد وايم ÷ حاصل دا دي چه پي
سوال او ځواب دَ دوي په مينځ کښې سره وشول ليکن دَ زرکي څه عذر پاتي نه
شه له غارَ راووتله او باز دَ ځان سره واخستله او خپلي جائي ته ئي وخيژوله
بيا هلته په خندا او په هوس ئي سره گذران کاوه ÷ چه دوه دري ورځي تيري
شولي او زرکه دَ باز سره خلطه شوله نو بيا به ئي خبري زړه وري له خولي وکښلي
بلکه په خبرو کښې به ئي په باز پوري خندا کوله ÷ او باز چه به دغه کار ليده نو
ظاهر خو به ئي هيڅ نه ويل مگر په زړه کښې به ئي لږه لږه کينه پيدا کيدله ÷
يوه ورځ باز وږي شه او بهر جرته په سيل پسې لاړ نه شه ټوله ورځ

يُ په جاله کښ تيره کړله ÷ چه شپه شوله او بجوره يُ له غوښي خالِي شوله
نو اور دَ لوږي لِيُ لنبه شه او ډېر قهر ورسره جنبه شه او هغَه لږه
لږه کښنه چه په ډېر عمر کښ جمعَ شوي وَه هغي په يو وار ځان ښکاره
کړ ÷ زرکي ته چه نښه دَ غضب په مخ کښ دَ باز ښکاره شوه او دَ خپل
ځان مرګ ورته معلوم شه نو سوړ اسويلِي يُ وکړ او وَ يُ ويل
چه ارمان دَي چه اول مِ فکر ونه کړ او اوس مِ خلاصيدل ګران
شول ÷ او باز چلونه او بهانيِ جوړولي ويل يُ چه څه چل مِ وکړلي چه
دا زرکه مانه کړم ÷ عاقبت يُ زرکي ته وُوِ چه اي زرکي دا ډېر ښه کار دَي
چه په ما باندِ غارمه دِيِ او ته په سوري ناسته يي ÷ زرکي وُوِ چه
اي مهربانَ اوس خو ښپه دَه نو ته څنګه په غرمو شولي او زه په
سوري کښيناستم ÷ باز ورته وُوِ چه هان مانه دِ دروغژن ووايه او
خبره دِ راته بيرته راوګرزوله وار وکړه اوس به دِ علاج وکړم ÷ جوړ
پنجه يُ ورواچوله او را وِ يُ نيوله هم په هغَه ځاي يُ راوېرزوله او
مانه يُ کړله او وِ يُ خوړله ÷ لکه عبد الرحمن ويلي دِي ÷

چه په زود ورسره نه يي برابر   دَ هغو له څنګه مه کښينه زړه ور

حکايت څلور څلويښتم

يو ټک سړي له خراسانَ دَپاره دَ فريب ورکولو اوَ ټګۍ هندوستان ته روان
شه ÷ او دوه تنَ ټګان له هندوستانَ خراسان ته راروان شوي وُو ÷ ناګهانه
په اټک کښې سره دَ بهتيارِي په کور کښې يو ځاي پيښ شول ÷ نو دَ خراسان
هغه ټګ ورته وُوِچه تاسو چرته روان يئِ ÷ هغو ورته وُوِچه خراسان
له ځو چه په چالاکِي وکړو او څه تِر واخلو ÷ خراساني ټګ ورته وُوِچه ډير
ښه کوئِ ÷ بيا هغو له ده نه پوښتنه وکړه چه ته چرته ځي ÷ ده وُويل چه
زه هم هندوستان له دَغه کار دَپاره ځم ÷ دوي ورته وُوِچه راځه چه سره
دلته حال معلوم کړو بيا هر څوک چه غالب شي نو پنځه پنځه سوَ روپۍ به له
هغه نورو اخلي او هغه نور به يې متابعت کوي ÷ جوړ سره دري واړه يو ځاي
کښيناستل او مصلحت يې سره وکړه چه يره دروغ به وايو ليکن هرڅه چه دَ
بل خبرې ته دروغ ووايي نو هغه به پر شي ÷ خراساني ورته وُوِچه باري تاسو
ووايئِ ÷ نو هغه يو هندوستاني وُوِچه زما پلار ډير دولتمند وه او بي حسابه
دنيائي لرله او يو څولګه ميښې يې وې چه هري ميښې به په منګو يې کول ÷
او پلار مِ به مېړه کښې يو تلاؤ چونه کړي وه او هغه يې به يې په کښې

ماسته کول ÷ هرکله چه ماسته به شول نو یو څو زره میښي به ئي هغه
تلاو ته ور واچولي نو هغه میښي به په کښ ولمبیدلي او یو خوا بل خوا به
واوړیدلي را واوړیدلي نو هغه ماسته به ئي وشړبل ÷ نو بیا به ئي میښي تر وویستلي
او جاله به ئي ورکړه کړله او چاټئ به ئي په کښ ایښي وي نو په راشپیلو نو به ئي
له هغه شلونو نه کوچ را ټولول او په چاټو کښ به ئي اچول ÷ نو چه کوچ
به ئي تر ټول کړه نو بیا بوچه به ئي د تلاو وویستله هغه شلوني به ئي میږي
ته خوشي کړلي ټولي به وبهیدلي ÷ بیا چه هغه کوچ به ئي ولي کړل نو په
سوونو منونه غوړي به تر وختل ÷ خراساني وو چه بي شک چه دومره میښي
وي او داسي پئي کوي او دا رنګ کوچ د خیټي نو خواه مخواه به تر غوړي ډیر
برابریږي ÷ بیا هغه بل هندوستاني وو چه خما پلار هم لوي دنیادار وه او
یو څو کروړه چرګي ئي ساتلي وي او چه مده د پسرلي به شوله نو یو څو لکه
چرګان به ئي ور پریښول ÷ چه هغه چرګو به هاګئ واچولي نو لوي لوي تونونه
به د هاګو جوړ شول نو غاښور به ئي پر ورکړ کړ او هغه ها به ئي بنکته
پورته کولي چه شل یویشت ورځي به تېري شولي نو بچي به پیدا شول او یو بیا
ته به ئي ور وویستل ÷ چه به څه مده تېره شوله نو بیا به ئي خرڅول

نو ډېرې روپۍ به ورته جمع شولې ÷ خراسانی وویل چه رښتیا دَه چه ځکې
په کوړونو وِبي نو هاکئِ په توپونو وِبي او چه ها په توپونو وِي نو آړول به
ئې خود په غاښورو کېږي او چه دومره بچي پیدا شي نو خواه مخواه به ډېر څه
به خوږېږي نو به دې دوارو خبرو کښ هیڅ تعجّب نشته حاصل دادَي چه
خراساني دَ دوارو خبرو ته رښتیا وُوِ بلکه دوارو له ئې دلیل پیدا کړ چه تاسو
رښتیا وائیِ ÷ بیا خراساني وُوِ چه ځما پلار بې شانَ سړې وه او مونږ
ډېر ورونړه وُو مګر بونن راکښ کنجي وه نو یوه ورځ دَ هغه کنجې سروېې
شوې وه نو مونږ پرِ خاوره و دوړوله ÷ په هغه خاوره کښ دَ غونښت
دانه وه جوړ هغَه په کښ زرغونه شوه هغه ډکي ورو ورو لوئیده نو مونږ
به ئې بېخ ته خاوره آچوله ÷ هرکله چه وکې ئې وکړل نو داني به ترِ رېژیدلې
او نور ډکِي به زرغونیدل ورو ورو لوی ښې ترِ جوړ شه ÷ چه څو مُده پرِ تېره
شوله نو سوکړه شوه باراتونه نه کیدل نو په هر مُلک کښ چه به باران
وه نو دغه ورور به وله مونږ بیوه ÷ بیا چه غونښت پا ښه شول نو مزدوران
مو ونیول او دَ هغه ورور سر ته مو ورو خیژول نو بو څو میاشتې لو ئې
په کښ وکړ ÷ بیا غوایان مو ورو خیژول او غوبلونه مو په کښ وکړل او

پاکیزه مو کړل نو بې حده ډېر غوښت وشول * پس له هغه خلق به راتلل او
غوښت به ئې قرض وړل نو ستاسو دَدواړو پلرونه راغلي وُو او څمونږ نه
ئې دَ پنځه سوو روپو غوښت وړې وُو نو اوس زه درتلم ما وې چه
هغه خپلې روپۍ راوړم * هندوستانیان حیران شول که ورته دروغ
وائي نو هم په پنځه سوو روپو پوره کیږي او که رښتیا وائي نو
هم تر دومره مال نخې آخر خراسانۍ له ئې زر روپۍ ورکړلې ځانونه
ئې ترې خلاص کړل هغوي په بېرته لاړل او دې کور ته راغې *

حکایت پنځه څلویښتم

زمري او شرمښ او لونبړ یوه ورځ جمع شول نو په ښکار روان شول * ناګهانه
یو ګاوز او یوه هوسۍ او یوه سویه په لاس ورغلل نو درې واړه ئې دَ زمري ډیرې
ته راورسول * او شرمښ او لونبړ په دې طمع کښ وُو چه زمري به دَخپل
خوي سره لائق وېش وکړي او په مناسب سره به مونږ له حصه راکړي *
او زمري هم دَدوي په نیت وپوهید * نو ځان سره ئې داوویل چه ستاسو یو
شان ګمان دئ او څما بل شان نو ګورم به چه څه به کیږي مګر دوي دواړه په
خپل خیال ئې خبر نه کړل * چه په آرام شول نو زمري شرمښ ته مخ کړ او

ورته ئي وويل چه ته ځما نائب يي نو دا دري واړه ځينٔ په مناسب سره ووشه ÷
شرمېښ وويل چه صاحبَ ته هم لوي يي او داګاوز هم لوي دَي نو جوړ دا ستا
شه ÷ او زه هم ميانه يم او دا هوسئ هم ميانه دَه نو جوړ دا ځما شوه او دا سوَيه
هم وړوکي دَه او لونبړ هم وړوکي دَي نو دا خود ده ته پاتي شوله ÷ زمري ورته
ويل چه عجيبه دَه چه ته ځما دَ وړاندِ هم زه او ځما بادَوي او وايي چه زه
داسي يم او دا ځما شوه ته څوک يي او څه ځيږ يي او ځان دِ ته څه ښکاريږي
او په ما دِ څه ګمان کړيږيا دي خواته ما له راشه ÷ چه شرمېښ ور ته
نږدي شه جوړ زمري پنجه پورته کړله چه وله ئي ګذار وکړ هم په يوه ځپيړه
ئي غريب مړ کړ ÷ پس له هغه ئي بيا لونبړ ته مخ کړ او ورته ئي وويل چه دا
ځيزونه وويشه لونبړ وويل چه دا ګاوزخو دَ بادشاه دَ صبا دَ خوراک مناسب
دَي او هوسئ دَ غرمي دَپاره سائل لايق دِي چه بادشاه پرِ طبيعت صاف کاندي
او سوبه به خود دَ نماښام په وقت کښي پکار شِي ÷ زمري ورته وويل چه
ربښتيا وايه چه دا ويش او دا سړيتوب دِ له چا نه زده کړي دِي ÷ لونبړ وويل چه
مهربانَ بلا دِ واخلم سړي هغه دَي چه په بل باندِ پند واخلي نو چه ما دده
حال وليده نو پوه شوم چه خپل ځان ته څان ويل پکار نه دِي ÷ زمري

وویل چه هرکله چه تا داسې کار وکړ نو ما له ښائي زه هم انصاف وکړم نو منصفي ځما داده چه دا خیزونه ټول ستا شول او زه به دَ ځان دَپاره نور ښکار برابر کړم او پس له دې هرڅه چه وائي هغه به کوم؛ لونبړ چه دا واوریدل نو ئې وویل چه شکر دې چه ئې ما ته حکم ورسته وکړ او که نه وې نو زه به هم دَ شرمش په شان هلاک شوې وم

حکایت شپږ څلویښتم

له شیخ سعدي نه نقل دې چه یو سوداګر مې ولید چه اوه نیمې شلې اوښان ورسره بار وُو او څلویښت کس مریونه ورسره خدمتګار وُو؛ یوه شپه ئې په جزیره دَکیش کښ زه خپلې حجرې ته بوتلم او تمامه شپه له ګډو وډو خبرونه په آرام نه شه؛ ویل به ئې چه فلانې انبار مې په ترکستان کښ دې او فلانې رخت مې په هندوستان کښ دې او دا راځینه دَ فلانې زمکې سند دې او دَ فلانې مال مې فلانې سړې ضامن دې؛ کله به ئې ویل چه شوق مې اسکندریې ته کیږي چه هوائي ډیره ښه یادیږي؛ بیا به ئې ویل چه نه هلته نه ځم په داسبب چه په دریاب کښ دَ سړي طبیعت ګډ وډ شي؛ بیائي وویل چه اې سعدي یو سفر مې په نیت کښ دې که هغه وشه نو اُمید دې چه باقي

عمر به په کوتنړۍ کښې کښېښم او هیڅ کار به نه کوم* ما ورته وېل چه هغه کوم سفر دَی هغه خو هم وُوایه چه واورم* وېل ئې چه دَ پارس گوگړ به راوړم چه چین ته یوسم ځکه چه هلته کښې گران خرڅیږي* او له چین نه به چیني لوښي روم ته وړم چه هلته هم ډېره گټه په کښې کیږي* او له روم نه به ورېښمین ټوکې هندوستان ته وړم چه په هغه ځاي کښې هم نفع یادیږي* او له هندوستان نه به پولاد حلب ته وړم چه هلته پوره نفع په کښې حاصلیږي* او له حلب نه به شیښې یمن ته باروم ځکه چه هلته په مناسب سره ارزیږي* او له هغه ځايَ به یمني څادرونه پارس ته راوړم* پس له هغه مِ زړه دَی چه سوداگري به پرېږدم* هر کله چه دي ستړي شه او زیاتي طاقت ئې باقي نه شه نو ماته ئې ووېل چه سعدي ته هم له خپلو لیدلو آورېدلو نه څه وُوایه که نه* ما ورته وېل چه زه څه وُوایم تا دومره څه ووېل چه ځاي دِ دَوېلو پرې نه شود*

تابه نه وي آورېدلي چه یو وار ... وه پرېوتي سوداگر له اوښ نه لاندِ

وي چه موړنه شي ورِ سترگې دنیادار ... یا به صبر یا دَگور په خاورو باندِ

حکایت اووه څلویښتم

په یو ځنګل کښې یو زمري اوسیده او یوه شادو هم ورسره ملګري وه * یوه
ورځ زمري دَ څه کار دَ پاره چرته تَه نو شادو ته ئې ویل چه نه دلته ناسته
اوسه او تر هغه پورې چه زه نه یم راغلي نو چرته مه ځه او کور هم ځوک مه پرېږده
چه زمري بهر وتلی دَي ناګهانه یو ګیدړ اوګیدړه دَ بچو سره هلته کښې پیښ
شول * چه هغه ځاي ته ئې وکاته او تماشه ئې وکړه نو هغه ځاي ورته ډېر
ښه ښکاره شه جوړ په هغه ځاي کښې پاتې شول * شادو راغله ورته ئې
وویل چه هلاک ته دلته پاتې شولې او داځاي دَ زمري دَي که چرې راورسیږي
نو ستا دَ پاره به بده شي * ګیدړ ورته وویل چه ځه چپ شه کم عقلې
داځما دَ پلار ځاي دَي ما ته میراث پاتې شوي دَي او فرض کړه که داسي نه
وي نو بیا ستا څه کار دَي زر پوهېږې او زرګر پوهېږي * شادو چه دا واورېده
چپ شوله او له ځانَ سره ئې وویل چه ځما بره دي چه څه کوي هغه به
مومي * بیا ګیدړ ته خپلي ښځي وویل چه څه داځاي پرېږدو ځکه چه زمري
زورآور دَي هسي نه وي چه څه فساد پیښ شي * ګیدړ ووېل چه اي
ښځې ته بې غمه کښېنه که بیا راغي نو هغه ساعت هغه مصلحت *
دوي په داخبرو کښې وُو چه زمري راغي جوړ شادو په تلوار سره مخې

له ورځلله او دا حال يې ورته نول ووايه ❊ چه زمري خبر شه نو فکر يې وکړ
بيا يې شاندو ته ووېل چه معلومېږي چه دا ګيدړ ته دي دا به بله څه بلا
وي او که نه وي نو ګيدړ څوک او څما په کور کښې کښېناستل څنګه ❊ شادو
ورته قسمونه او سوګندونه وکړل ويل يې چه ما پخپله ورسره خبري
کړي دي نو زه داسي ناپوهه شوم چه ګيدړ نه پېژنم څه ❊ زمري ويل چه ستا
خبره منظوره ده ليکن دا په عقل کښ نه راځي چه ګيدړ به داسي وکړي ❊
او ګيدړ خپلي ښځي ته ووېل چه زمري را نزدې شي نو ته خپل هلکان جنګي
وژړوه او بيا داسي ووايه چه دوي د زمري تازه غوښه غواړي او وايي چه
مونږ بوي ناکه غوښه نه خورو ❊ هر کله چه زمري را نزدي شه نو هغې ګيدړي
خپل بچي وژړول نو ګيدړ ورته ووېل چه دا واړه ولي ژړوي ❊ هغې ووېل چه
زمري غوښه غواړي ❊ ګيدړ ورته وېل چه پرون م لا غټ زمري وژلي وه نو بيا هغه
غوښه خلاصه شوله څه ❊ هغې ويل چه دوي تازه غوښه غواړي باسي کله خوري ❊
ګيدړ ويل چه واړ وکړيږ اوس به غټ زمري راشي نو به يې ووژنم نو بيا
تازه غوښه خوريږ ❊ زمري چه دا خبره واورېده له ډېره له هغه ځاي يې دو
کړ لاړ وتښتېده او زړه يې داسي ولوېده چه په هيڅ رنګ يې خاطر جمعي

نه کيدله ÷ شادو پسي ورغلله اوورته ئي ويل چه ته نه پوهيږي او هغه
دِ غلوي راغځه چه ورشو هيڅ وسواس مه کوه ÷ چه زمري ورروان شه نو
هغي ښځي بيا بچي وژړول کيد ړويل چه دوي لګوږي چپ کړه هغه شادو
چه ځما ديره دوسته دَه هغي ويلي دي چه زه به زمري خواه مخواه نن راولم ÷
چه زمري دا آوريدلي دي او جوړ شادو له ئي خپيړه ورکړي دَه او له ويري
مخ په وړاندِ زغليدلي دَي په هسي شان لاړ شه چه بيا ئي
ورستو هډو و نه کتل کيدړ ته بي ربړ ځاي پاتي شه ÷

حکايت اته څلويښتم

هوښيار سړي يو وار خطا کيږي او له وعدي خپلي نه نه ګرزي او کم عقل سړي
هر وار خطا کيږي او که شل وعدي وکاندِ هم ئي ماتي کړي ÷ لکه په يو ځنګل
کښ يو زمري وه چه ډير زوړ شه او طاقت ئي کم شه او ډګرزيدو وارئي تير
شه نو بوږه ورځ ئي يوي خواري په شکلي لوږيږي ته وويل چه اي لوږيي تا ځما
ډير عمر پس خوردي او جوړي خوړلي دي او رنګ رنګ احسانونه دِ ځما له لاسَ
ليدلي دي او اوس ويني چه زه دي حال ته رسيدلي يم چه په ښکار ونو پسي
ګرزيدلي نه شم نو مناسب دِي چه ته لاړه شي او چرته غوايه يا خر

یا بل څه ښناور په چل ول سره راولي نو دلته به ئې مات کړم بیا دَ دوا رو
کار به پرِوشِي + لونړي ورته ووېل چه دغه یم لاړم هرڅه چه مِ وموندل
یو وار به ئې ستا دَ وړاندِ حاضر کړم دائي ووېل او روانه شوله + ناګهانه په یو
غرباندِ پیښه شوله چه خرئي ولید نوله ورایه ئې پرِ سلام ووایه او ور ته
ئې ؤوېل چه دا څه کوي چه په ناکاره ځاي کښ ګرزي چه نه اوبه شته او
نه وابښه شته نش کاړي او لوټي دِي نور هیڅ نه موندلي کېږي + خرؤوېل چه
په قضا مِ رضا دَه هر څه قسمت چه خداي کړي دَي په هغه خوشحالَ یم
ځما په حق کښ به دا ګذران ښه وِي خداي خبر دَي چه دَ لغمنو سره ځومره
غمونه پیښیږي + لکه ما ته خپل پلار قصه کړي دَه چه دَ یو بتیارِي خروه
چه ډېر خوار شوي وه شائي ځاي په ځاي زخمي شوي وَه او دَ بادشاه میرآخور
دَ هغَه بتیارِي سره آشنا وه یوه ورځ ئې ورته ووېل چه دا خر دِ ولي
داسي خوار دَي + هغَه ؤوِچه واړه لوږه دَه نور هیڅ نشته + میرآخور ور
ته ؤوِچه راوله دا خرخمونږ په طبیله کښ پرېږده چه ګرزي داسي به ځوربـ
شي چه دِ زړه غواړِي + بتیارِي جوړ په هغَه ساعت خرطبیلي ته روان کړ
او هلته ئې پرېښوده چه خره دَ آسونو حال ؤلید چه بېل بېل به کړاره کېد

او څاي به ورنه چرقاوېده او اوربوښي او ارداوه او بوس او واښه به ورته
په بنه شان به وخت وقت رسېدل نو دغه خر ډېر وژړل او فریاد ئې وکړ او
وئې ویل چه اي پاک ربَ زه دِ هم مخلوق یم او دا دِ هم پیدا کړي دِي او دَ
دوي دا حال دَي او څما دا ګذران دَي * دي په دي دُعا او فریاد کښ وه چه
ناګهانه آواز وشه چه آسونه زین کړئ په فلاني څاي کښ مقدمه دَه چه
جنګ له روانیږي * في الحال اسونه طیار شول مقدمي ته لاړل * چه نماښام
شه او آسونه له جنګ راوګرزېدل ټول څاي په څاي زخمیان پرېوتل او
نعلبندان راغلل مهترانو ورته دَ آسونو پښي وتړلي نعلبندان به په انبورونو
باندِ غوښي دَ آسونو راښوولي او قطي به ئې تر په چړو او په قېنچو پرېکولي او کولئ
به ئې له پرهرونو نه وکښلي * خره چه دا حال ولید وئې ویل چه پروردګارَ
څما په دي خپل روغ صورت شکر دَي او بغیر له خپل څان بل نعمت نه
غوارم * نو چه دا خبره سا له خپل پلار نه آوېدلي دَه نو له هغي ورځي را
هیسته په هر شان چه ساعت تیرېږي صبر پرِ کوم * لونبړي ورته وِ وچه
په تا دَ هغه سړي توقه شوي دَه لکه چه یوه ورځ په لار روان وه ناګهانه یوه
شلّه لونبړه ئې ولیده له چه پرته وَه او له څايَ خوځېدلي نه شوه نو دغه سړي

فکر وکړ چه دا به خوراک له کومَ مومي جوړ په یوځاي کښ ورته پټ کښیناست
ویل ئې چه نن ورځ ورته دلته کښینم چه حال ئې زده کړم ÷ چه یو ساعت
تیر شه یو زمري راغې ښکار ئې کړي وه چه څه ئې خوړه هغه ئې وخوړه
نور ئې دغه لونبړي ته ورتیل واهه ÷ چه سړي دا حال ولید نو وئې ویل
چه روزي په هر شان سړي ته رسیږي نوځه له ځان ډېرم جوړ لاړ شه
په یو غوره کښ په غار کښ کښیناست ÷ چه دوه دري ورځې پر لهاري تیري شولي
نو وئې ویل چه اوس لا جوړیم او بیا به زیات بې طاقت شم نو مناسب دي
چه اوس دَ ځان غور وکړم + چه دي روانیده نو له غیب پرِ آواز وشه چه
تا له خداي لاس او پښي درکړي دي نو زمري شَه او وکته چه ستا له لاس
نور څوک خوراک ومومي او لونبړه کیږه مه چه دَبل پس خوردي ته دِ سترګي
وِي + خو ویل چه په دي باب کښ ما بل شان قصه آوریدلي دَه او تا بل
شان وویله او په اصل کښ داسي دَه چه یو سړي په حدیث کښ ولیدل
چه روزي په هر ځاي کښ سړي ته رسیږي نو ده وویل چه باري ځم چه په
دي حدیث خو آزمیښت وکړم چه دا به څنګه وشي نو دَیو غره په طرف په
بیابان کښ له لاري لري اوله ودانۍ نه په ډډه پریوت + ناګهانه یو کاروان لا

ورکه کړي وه جوړ دَ پاس پرِ ور وخوت چه کاروانیانو ده ته وکتل نو يُ
ویل چه هيُ هيُ دا عاجز غریب مسافر له لاري بې لاري شوي دَي او په سبب
دَ لوږي مرګ ته نزدي شوي دَي زر شئ پوه يئ یا وریجي راوړيئ چه ورکړو امید
دَي چه اوس به جګ جوړ پاڅي * چه خوراک يُ وله راوړ ده ورته خوله کلکه
کړله که هغوي ډير څه کول خو ده خوله وازه نه کړله * هغوي پوه شول چه
داخوله دَ ده له ډيري کمزورتیا نه نه بېرته کيږي نو یو مشر په کښ وه هغه
ویل چه راسي مصلحت کوو چه دَ دې سړي یو دوه یا دري غاښونه وباسو څکه
چه سړي مړشي نو بده خبره ده او که غاښونه يُ نه وي نو هیڅ باک نشته *
هغوي ټولو دا خبره خوښه کړله او دستي يُ دَ ده غاښونه وویستل او دوه يُ
يُ په ښوروا کښ چوري کړله او لږه لږه به يُ ورته څڅوله * نو دغه سړي خیل
ځان سره وویل چه بې شک نصیب هرځاي سړي ته رسيږي نو لا څه
دَ پاره پروت يې چه غاښونه دِ هم بایلل او نور خلق دِ هم له کاره وویستل جوړ
پاڅيد او اوچت کښیناست * لوبړي ورته ویل چه احمق داڅه قصي دِ
قطار کړي دي دم دَ چمبنکۍ نه لري او کوني شامارانو ته آچوي بې عقل دَ
خپل ځادر سره پښي غزول ښکاردي نه چرته او دَ هغو خلقو شان

زړه چرته ٭ حاصل دا دی چه قِسم قسِم سوالونه اوځوابونه دَدوي په مینځ کښ
وشول په آخر کښ ورته لوبړي وویل چه ای جاهلَ دَخان دښمنَ بي هیڅ
خان خپل په دې سختۍ کښ وژلې اودومره درته نه کېږي چه ماسره یوځو
قدمَ لاړ شي او حال داسي دَی چه په هغه ځاي کښ داسي وابه دِي
چه کبل خوئ تر ملا ملا رسیږي او په نورو وابوکښ خوئ اوښان
پټیږي او هر طرف په کښ یخي یخي خوږي خوږي رنړي اوبه بهیږي
هر ځناور چه هلته ور ورسیږي نو په هسي شان څریږي چه نور پِېږ
نه کېږي او بخت به دَ هغه ځناور وي چه هلته پیښیږي ٭

خوږي شکَ چه کم عقل وه نادان | بی شعورَ لوي احمق وه دَجهان
اوکه نه وَي نوځواب به يُ دا رنګ | وه لوبړي له ورکړي هغه درنګ
داویل دِ کُل دروغ را معلومیږي | چه پښتۍ او تول هدوکي دِ ښکاریږي
دغه ستا ناکاره شکل ګواهي لِینه | چه ویل دِ همه واړه دروغ دِ بیښه
بو سړي اوښ ته ویل چه اي نیکنامَ | له کوم ځاي راغلي وِچه له حمامَ
هغه وِ چه په رښتیا هم دغه شان | دا سپیره زنګون دِ کړي ښکاره بیان
اي احمدَ که يُ زړه وي دا ځواب | ورته ولي پیښیده به لوي عذاب

خرچه دَ لونبړي خبرې واورېدلې نو اګر که ده ځوابونه جوړ جوړ کړي وُو لیکن
په سبب دَ بادولو دَ ښه خوراک او دَ ښائسته ځاي طمع ئې پیدا شوله او دَ
لونبړي په خبره ئې یقین راغې + ورته ئې وویل چه یاري څَه چه لاړ شو که
نه چه هغَه ځاي هم وویښُوچه ته ئې دومره صفت کوې + جوړ په هغه ساعت
روان شول لونبړه وړاندِ نَه او خر ورپسې دې ځنګل ته ورسېدل + زمرِي
چه له ورایه خر ولید له سبب دَ لوږې نزدې ورتللو ته ئې پرې نه ښود او
صبر ئې ونه کړ له ورایه ئې حمله ورباندِ وکړله + او خرچه له لرې زمري ولید
جوړ په بېرته ئې دَو کړ په لوړو په ژورو په کندو په کړو وزغلېده لاړ ځان
ئې خلاص کړ + لونبړي زمري ته ډېر قهر وکړ او سلامت ئې کړ او ورته ئې ویل
چه ما دومره په ړېړ راوست او دا قدر صبر دِ ونه کړ چه لکوټي خو رانزدې
شوي وې + زمرِي وویل چه بې شکَ بد مِ وکړل لیکن اوس به څه چل
وشِي دا خرخو به بیا لاس له رانه شي + هغې لونبړي ورته وویل چه هم دا
خر به بیا راولم خو ته تلوار مه کوه چه درته نزدې شي نو هاله پرِ حمله وکړه +
زمرِي وویل چه زه اوس ښه پوه شوم لیکن دا ګمان مِ نه کیږي چه بیا به
در سره راشي + لونبړي ویل چه راوستل ئې څما په ذمه دِي خو ته فکر کوه +

پس له هغه بیا ورپسي روانه شوله چه ور ورسیده خر ورته ویل چه
ظالمي کوم بد مِ درسره کړي وُو چه زه دِ دَ بلا دَ وړاندِ بوي وم فضل دَ رب
وه چه وه یې ساتلم او که نه وي ماخوچه دغه حال ولیده نو لاس مِ له
ژوندانه نه وویخل او طمعَ مِ له ځانَ قطعَ شوله ÷ لونبړي وُوچه له مانه په
اول ځل کښ خطا وشوه چه نه مِ خبر نه کړلي او هغه چا څیره جوړه کړي دَه
دَ توقو دَپاره چه نا آشنا سړي راشی گمان یُ وشي چه گُندِ دا زمري دَي او په کښ
هیڅ نشته خو ځما له فکرَ ووتله اودا خبره مِ تاته ورنبيُ ونه ویله ÷ خر
ورته ویل چه چپ شه مکاري دښمني بدکرداري په ما باندِ دا هسي حال
راغلي وه چه که چري دغه حال په ځوان راغلي وي نو زوړ شوي به وه او
بیا په خپلو سترگو مِ ولیده او و مِ پیژانده چه زمري وه او ته لا بیا دا
نه وایي چه دغه زمري نه وه دَ توقو څیره وَه ÷ لونبړي وویل چه څه وکړم
چه ستاسو په خیل خانه کښ عقل نشته دَي او که نه وِي نو داسي خیالونه
په زړه کښ راوړل او بد بد گمانونه په دوستانو کول کله مناسب دِي
اوکه ستا عقل وِي نو دغه خو نه زمري وه او نه بل څه وه او که چري
رښتیا زمري وي نو هم ځما نه به دِ زړه نه وه بد کړي ÷ مطلب دا دَي چه

خوه ډېر خه وکړل لیکن لونبړي دَ هرې خبرې ځواب وله پوره پوره ورکړ چه
خو لاجواب شه او لوږه هم پرِ غلبه شوله نو بیا ئې په حیلو او په مکرونو
سره روان کړ چه دَ زمرِي ځاي له لاړل زمري پټ شوي وه تر هغَه پوري ئې
غرض نه کاوه چه څو ئې یقین حاصل شه چه اوس به نه ښِي خلاصيدي
جوړ هلته ئې پرِ ورنوپله دِستي ئې راونیوه او چمغړک ئې وله مات کړ پس دَ
هغَه له ماتولو زمري لونبړي ته ویل چه نه دلي اوسه فهم کوه اوزه لکوښې
ښم چه اوبه وڅښم* چه زمري اوبو له لاړ شه جوړ لونبړه لګيدلي دَه
دستي ئې دَ خره ګیډه څیري کړي دَه او زړه ئې تِر وکښه زر زر ئې وخوړ بیا
ئې خوله وخښله پنجې ئې پاکېزه کړلِي کښیناستله* چه زمري له اوبو نه راغې
نو مینه ئې وشوه ویل ئې چه اول خو له دې خره نه زړه وباسم چه وخورم بیا
به نور په آرام سره کیږي* چه وئې کتل زړه ئې په کښِ پیدا نه کړنو وئې
ویل چه لونبړي دَ دې خره خو زړه نشته* هغې ویل چه بې شکَ صاحبَ نه
به وِي* زمرِي وویل چه داځنګه چل دَي چه خر شته او زړه ئې نشته*
لونبړي ویل چه په دې کښ حیرانتیا نشته چه دَده زړه نشته عجیبه خبره
به هاله وَه چه زړه ئې وَي او دوباره دلته راغلي وَي داخو ئې زړه نه وه

ځکه راغي او تا مات کړ؛ زمږي وُوِ چه رښتيا دِ وويل ؛

حکايت د ځلوېښتم

دَکينه‌گر خېل خان ته نيکي نه زړه کيږي نو په بل به يې څه رنګ پېرزوېښي؛
لکه يو دري تنَ سري په يوه لار کښ سره ملګري شول نو يو له بل نه يې
سرهِ پوښتنه وکړه چه له خپل کورَ بهر ولې ځې او څه له ځې؛ يو وُوِ چه
څما په کور محلّت کښ ښائسته ښائسته ځوانان دِي چه دَ ښو جامه پيڅي
خلقي لونګي پيڅي نور اسباب ووېم نو ورته کتلي نهٔ شم جوړ په دي سبب
له ملکَ ورکيدل مِ خوښ يِي؛ دويم وُوِ چه څما هم دغه حال دَي او دغه مِ
سبب دَي؛ دريم وُوِ چه تاسو دواړه څما سره په غم کښ شريک يئِ مطلب
څمونږ دَ دري واړو يو دَي؛ چه حال معلوم شه چه دري واړه يو شان دِي
نو سره يو ځاي روان شول چه په لاري تلل يوه هميانئ يئ وموندله جوړ
دري واړه سره کښيناستل او ويې ويل چه راځئ چه دا مال هم په دي ځاي
ووېشو او خپل وطن ته بيرته وګرزو؛ ولي هر يو له کيني نه په دي نه راضِي
کيده چه ګُندِ بل ملګري يئ خپله حصّه واخلِي؛ نه يې دا قوّت وه چه ګُندِ نه
يئ ويشلي وي او نه يې داسي طاقت وه چه په ځاي يئ پرېښودلي وَي او دوي

تږِ تلي وي + یوه شپه او یوه ورځ ورِيِ تږِي بې خوب بې خوراک ناست وُو په بند بندِیخانه کښي ؤ + ناگهانه بادشاه دَ هغه وطن سره دَ امیرانو او وزیرانو په هغه ځاي پيښ شه چه دوي ئې وليدل نو تري ئې پوښتنه وکړله ویل ئې چه تاسو څوک یئِ او دلته څه کوئِ + دوي ورته خپل حال وواېه چه مونږ په دې شان راغلي یُو او داسې قصه راته پيښه شوي دَه + نو اوس مودا مطلب وه چه څوک پیښ شوي چه څمونږ داجگړه ئې خلاصه کړلي + بادشاه وُوِ چه تاسو هر یو خپل خپل بیان دَ خپلي خپلي کیني راته په رښتیا سره وکړِئ چه زه په حال پوه شم نو هغه رنگ حکم به وکړم + هغه یو وُوِ چه څماخو دا نیت دي چه دَ هیچا سره مِ نیکي ونه کړلي او هیڅوک څما له لاسَ خوشحالَ مه شولي + دویم وُوِ چه ته خو پیر ښه سړي لي ستا خو هرو ښنیي نښته بښنیي خو څما دَه چه بل څوک دَ چا سره ښه وکړي نو هم ډیري ورځي زه خپه یم + دریم وُوِ چه تاسو خو دواړه بزرگان یئِ زړونه مو له کیني نه پاک دِي څکه چه څما دویره کینه دَه چه وایم چه ما سره هم څاښه ومه کړي چه نوم دَ نیکئِ او دَ احسان له جهانَ ورک شيِ + بادشاه چه دا خبري واوریدلي له حیرانتیا نه ئې په غاښو چیچلي او دَ فکر په تال زنگیده بیا چه ډیر

ساعت تېر شه نو دَ هغَه ورنبي په حق کښې ئې حکم وکړ چه دې خو بهر وشړئ او چه ځه ورځه وي هغه تر تول واخلئ ځکه چه دَ بل سره نېکي نه کوي نو دَده سره هم نېکي پکار نه دَه + او دَ دويم په حق کښې ئې وفرمايل چه دې خو مړ کړئ ځکه چه خالق سره يو بل نېکي کوي نو دَده غم زياتيږي نو دَ کړېدن دَ ژوندانه نه ئې وژل بهتر دي + او دَ دريم دَپاره ئې ووېل چه په ده رنځوره پورې کړئ او په نورئ واچوئ چه په سختئ کښې شداک شي + دري وارو سره ئې په مناسب دَ خپلو خپلو ښتو معامله وکړه دسنې ئې حکم پرِ جاري کړ +

په هر دم په هر زمان پکار دَه ژبه
دَ همه واړه جهان پکار دَه ژبه

نا آشنا آشنا کوي سره خبري
په خبرو نژدې کيږي خلق لرې

چه دَ چا خوله کښې خوږه ژبه غوريږي
دَ مجانو په شان خلق پرِ بو ريږي

دَ تورزن به پکار نه وي همه توره
لکه ژبه چه هر ځاي کښې وي منظوره

کاروبار دَ مصلحت په ژبه کيږي
مصلحت دَ سلطنت په ژبه کيږي

که کاتب دي که کاغذ دي که قلم
ټول دَ ژبې خدمتگار دي دم په دم

په سرغانوکښې طوطي دي عزتمند
دا په دا چه ښې خبري کړي د خوند

مګر دوه شرط په ژبه کښې ضرور دي
دغه دواړه ضروري په ښه دستور دي

اوّل دا چه ښې صحیح کړي خبري
چه خبري شي په مثل سرغلوي

بل په بدو د خوله نه خوځوي خپله
تل د سمم په اندازه وي لکه تله

بده ژبه د سري په ځان بلا شي
خوږه ژبه له سري چاپیر قلا شي

هر سړي د سر پیتوب دعوي چه کاندِ
ځان د پوه کاندِ په ډیرو ژبو باندِ

په یوه ژبه مطلب نه پوره کیږي
که هوښیار وي هم له سړه نه پوهیږي

که حاکم وي غور هیڅ نه شي کولي
که عالم وي طالب نه شي لولي

په سفر کښې لکه نقش د دیوال
ګُنګ ولاړ وي بي طاقت بي مجال

خصوصًا چه پښتو ژبي نه حاجت
پیښ وه ډیر زیاتي له حد دا ساعت

احمد وکړ په دا شان آسان کلام
چه پوهیږي پر کُل واړه خاص وعام

تمام شه

کاتب غلام جیلاني پشاوري

PK
6803
A55